IslamHouse.com
مرکز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com
Rabwah

# پېر او پلور، احکام او مسایل، د مستندو دلیلونو په رڼا کې

لیکوال
لقمان حکیم حکمت

Pashto
پشتو



# البيـع والشـراء...
# أحكام ومسائل...

المؤلف
لقمان حكيم حكمت

PASHTO
بشتو

ⓒ المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالربوة، ١٤٤١هـ

**فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر**

عبدالبصير، لقمان حكيم

البيع والشراء: أحكام ومسائل - اللغة البشتو . / لقمان حكيم عبدالبصير. - الرياض، ١٤٤١هـ

١٥٦ ص، ١٤ سم x ٢١ سم

ردمك : ٢-٤٨-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨

١- البيع (فقه إسلامي)     أ. العنوان

**ديوي ٢٥٣،٢     ١٤٤١/١٥٦٨**

**رقم الايداع: ١٤٤١/١٥٦٨**

**ردمك : ٢-٤٨-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨**

مركز أصول
OsoulCenter
www.osoulcenter.com

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532
+966 11 445 4900
+966 11 497 0126
P.O.BOX 29465 Riyadh 11457
osoul@rabwah.com
www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم



# لړلیک

| | |
|---|---|
| پیلیزه | ۹ |
| تجارت او عبادت | ۱۱ |
| د رزق د پراخه کېدو مهم لاملونه | ۱۷ |
| راسمالي اقتصادي نظام | ۲۷ |
| اشتراکي اقتصادي نظام | ۲۹ |
| مختلط اقتصادي نظام | ۳۱ |
| اسلامي اقتصادي نظام | ۳۵ |
| اسلامي اقتصادي نظام د نورو اقتصادي نظامونو په پرتله | ۳۹ |
| اقتصادي ستونزې د اسلام له نظره | ٤۵ |
| د ټیکسونو مفهوم، ډولونه او موخې | ٦۱ |
| د حلالو شیانو مفهوم او د پېژندګلو طریقه | ٦۹ |
| د پلور او پیر غوره والی او اسلامي ادبونه | ۹۱ |
| د بیع لغوی او اصطلاحي تعریف | ۱۰۷ |
| اسلامي سوداګریز شرطونه: | ۱۲۳ |
| د احتکار او ذخیراندوزۍ ځینې روا صورتونه | ۱٤۱ |



# پېلیزه

په اسلام کې د مسلمان لپاره د پېر او پلور احکام او مسائل پېژندل نهایت زیات اړین دي، که ووایو چې اسلام کې د ټولو عباداتو او احکامو قبول تر پلور او پېر څرخیږي تېروتي به نه یو، د پلور او پېر اسلامي احکام پېژندل په راروانو فقراتو کې خپل اهمیت روښانه کوي:

عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمايي: چې د شبهې او ګوماني درهم څخه ځان وژغورم، له دې څخه را ته بهتر ده چې یو لک، بیا په یو لک، او بیا په یو لکو درهمو خیرات او صدقه وکړم.

د عمر رضي الله عنه اړوند روایت دی چې یوه ورځ یې شوده وڅښل ډېر خوند یې ورکړ، له ساقي څخه یې وپوښتل: دا چرته و؟ ساقي ورته وویل: د زکات اوښان تېرېدل، خلکو خړوبول، ما ترې شوده ولوشل، عمر رضي الله عنه ګوته خولې ته کړه او خوړلي شوده یې اولټې کړل

په یو روایت کې لا دا هم دي چې غلام ورته وویل: ولې ځان تکلیفوې؟ هغه ورته وویل: که ساه مې هم ورسره ووځي خو بېرته یې راوباسم، ځکه چې ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې [كُلُّ لَحْمٍ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ فَالنَّارُ أَولَى بِهِ] کومه غوښه چې له حرامو څخه راوټوکیږي نو په خوراک یې اور ډېر حقدار دی.

له یو بل دیني امام څخه وپوښتل شول: د پرهېزګارۍ او تقوا باره کې راته څه ولیکه، هغه ورته د پلور او پېر اړوند مسائل ولیکل، خلکو ورته وویل: الله په تا ورحمېږه! مونږ درته وایو چې د تقوا او پرهېزګارۍ اړوند معلومات را کړه او تا راته د پلور او پېر، د دنیا د ګټلو اړوند نوشته وکړه؟ هغه ورته وویل: یقیني پرهیزګاره هغه دی چې د چا خواړه روا ګټه وټه وي.

حتی سلف صالحین رحمهم الله چې به کله د خواړو په لټه پسې راووتل خپلو کورودانو به یې ورته ویل: زمونږ اړوند له الله څخه وډار شه، ولږه برداشت کولای شو خو د اور د برداشت نه یو.

د دومره ډېر اهمیت له کبله مې د پلور او پېر اړوند د دیني معلوماتو راغونډولو هوډ وکړ، ترڅو مسلمان په عامه توګه او سوداګر یې په ځانګړې توګه فهم او د سوداګرۍ په چارو کې د تنفیذ غور وکړي.

رب کائنات دې دا عمل خالص د هغه د رضا لپاره وګرځوي، او الله دې د خپلو بندګانو لپاره په خیر او منفعت تمام کړي.

**لقمان حکیم حکمت**

Hekmat0344@gmail.com

# تجارت او عبادت

د نورو مذاهبو په څېر عبادت په اسلام کې د لمونځ او روژې یا نورو روحاني کیفیتونو او حالتونو نوم نه دی، بلکې عبادت په اسلام کې خورا محیط ترینه کلمه ده چې د انسان د ژوند هر اړخ ته کامل او عام تام شمول لري، که مونږ د خپل ژوند ژواک هر اړخیزې اړتیاوې په داسې څېر بشپړ کړو چې د الله تعالی رضا او خوشحالي پرې وګټو، دېته عبادت ویل کیږي، که هغه دوکانداري وي، که د تجارت بل هر ډول وي، ولو که خپلو بچو سره لوبې ټکالي ولې نه وي خو چې موخه یې د الله رضا وي دا به عبادت وي.

له همدې کبله که مونږ ګرد تجارتي لین دین او د پلور او پېر کم او کیف اړوند چارې یې د الله پاک د راستولي دین او مبین شریعت د راښوولې اصولو او ضوابطو سره سم تر سره کړو، نو الله پاک به یې رانه په عبادت قبولې کړي.

## پرهېزګاري او د دنیا حقارت او ورڅخه کرکه:

نن مهال چې انسان د دنیا په عشق څومره مبتلا دی او د دنیا د محبت ځپاند موجونه یې د نظر په هر لوري بې سارې بوربورکی چې د لحظاتو ژوند لري راپورته کړې دي، خپل مینه ګرکي یې د ځان پسې راندہ او کاڼه کړېدي، د روا او ناروا هېڅ اسلامي معیارونه نه پیژني، او که څوک یې پیژني د د نیاوي لالچ له امله یې غوبل کړېدي، تر دې حده یې ورسول چې د ژوند ګردو ترو ترخو شیبو ته یې جوړ کړل، غوني ترې ځیګ راولاړ شي، خو ددې ټولو کیفیتونو د جریان سره سره بیا هم د اسلام وړانګین دین دنیا ته لوبې او دوکه، زر زایله کېدونکی ډول او سینګار ویلي دي.

خو د دې باوجود ټولو قراني ایتونو او نبوي نیکو ارشاداتو د دنیا له فتنې څخه ډارولي یو، او بار بار او لحظه په لحظه د د نیا د محبت په اښته کېدو څخه یې راته

د ځان ژغورنې لا تعداده پندونه او د تېرو قومونو څخه د عبرت اخستنې په رنګارنګ زړه راښکوني فصیحه اسلوبونو مخاطب کړي یو.

یواځې دا نه بلکې قراني سپېڅلو ایتونو او پاکو مقدسو نبوي حدیثونو راته دنیا او اخرت پرتله کړي دي، او د شننې پاي په دې تمامه شوېده چې د اخرت زندګۍ دوامداره، براقراره، نه ختمېدونکې او سرمدي ده.

او د دنیا زندګي که هرڅومره درازه شي، ځان وغځوي پاي او اختتام لري، هېڅکله نه د چا د بدو کردارونو له مخې وفاء کوي او نه ورپکې هغه تل ژوندي پاتې وي چې د نیکو اخلاقو سمبول او د تر څنګ یې د الله پاک په عبادتونو بوخت وي.

نبي کریم ﷺ کله د د نیا قلت او لږوالی مثال له دې سره ورکړی دی لکه انسان چې په سمندر کې د خپل لاس یوه ګوته ښکته کړي نو څومره اوبه چې د ګوتې سره راوخیژي همدغومره د دنیا د قلت مثال دی.

خو ولې د زیات حقارت او ډېر نکارت له مخې په بل ځاي کې دنیا د مردار حیوان چې هر څوک ترې نفرت او د خوراک څخه یې زړه بدې راپورته کیږي ورله تشبیه ورکړې ده.

له همدې کبله نبي کریم ﷺ د ژوند په ټولو مراحلو کې خپل د ژوند ملګرو او څمونږ سپېڅلو پېشوایانو او د لارې مشالونو ته د سم دروست منزل ته د ورتګ چې فناء نه لري د ځان رسونې ارشادات کړیدي، حتی چې خپل ځان یې هغوی ته په دنیا کې د هغه مسافر په څېر ورپېژندلی دی چې په لارې کې سیوري ته دمه اخلي خو پوړدارې مانۍ پرې نه ودانوي نو داسې په دنیا کې د تل پاتې کېدو سوچونو په چروت کې تاسو هم مانۍ مه ودانوئ بلکې اخرت ته هم لږ غور وکړئ.

او په دې کې هم شک نشته چې صحابه کرامو ته متوجه نبوي ارشادات مونږ ته هم متوجه اوامر او لا رښووني دي، نبوي ارشاداتو مونږ په دې زیور ښایسته کړي یو چې هغه انسان ته مبارک باد دی چې د ایمان په شتوالي کې ورسره د ورځې او شپې د خوراک څه اندازه شتون ولري.

ددغې ټولو خبرو څخه موخه له دنیا څخه داسې کناره کشي نه ده چې دومره ورته

شا کړئ چې له ولږې او تندې مو سا ووځي او یا هم دنیا د داسې عبادت کولو په خاطر د خپو لاندې کړئ چې د نبوي ارشاداتو له وړانګو او ځلا څخه په تورتم کې وئ او هغه داسې چې د حلال رزق ګټل او وریښې زیار او کوښښ ویستل دعبادت په څېر نه بلکې خپله عبادت دی، او الله پاک ورباندې انسان ته اجرونه او ثوابونه او نورې رنګارنګ نېکې بدلې ورکوي.

د دنیا ګټلو سره باید پر انسان د اخرت فکر غالب وي، هغه باید داسې هېڅکله نه شي چې په اخرت یې دنیوي سوچونه او تله ترازو درنه وي، یا په دې خاطر چې دنیادار شي او په هر چا وځلیږي، نوم یې په دنیا د دنیا لپاره روښانه شي، د الله پاک له پلوه ورته متوجه اوامر ریزمریز کړي، لمونځ، زکات، او حج او نور مالي او نفسي عبادتونه د دنیا د زوال او ضیاع سبب بولي.

دغسې انسان بیا په رښتیا هم چې د انسان په شکل او صورت کې د بشپړ حیوانیت او لا وبالۍ ترجماني کوي، د دنیا له کبله د الله پاک له یاد نه په دنیوي مصروفیتونو بوخت انسان علي ﷺ د حیوان په نوم پېژني، هغه وایي:

| | |
|---|---|
| **إبني إن من الرجال بهيمة** | **في صورة الرجل السميع المبصر** |
| **فطن بكل مصيبة في ماله** | **وإذا أصيب بدينه لم يشعر** |

ژباړه: ځویه! ځینې داسې خلک دي چې د لیدونکي او اورېدونکي انسان په هیئت او شکل کې ژوندی وي خو ولې هغه پوره حیوان او وحشي درینده وي.

د خپلې مالي پانګې د تاوان او کمښت په هر راز رنځونو باخبره او چست ځیرک وي خو ولې د خپل دیني کمښت او زوال نه وړوند او بې غوره وي.

بلکې دنیا د اخرت د ګټې وټې ذریعه جوړول د انسان د فلاح او بهبود روښانه لاره ده، دنیا د اخرت د ګټلو لپاره د کښت او کر په اوبو خړوبه ځمکه جوړول په کار دي.

## رزق او تقسیم:

روزي ورکول د الله پاک صفت دی او د هغه په لاس کې ده، د خپلې مرضۍ سره

سم چا ته زیاته روزي ورکوي او چې وغواړي چا ته لږ خواره ورکوي، الله پاک فرمايي:

﴿ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقۡدِرُۚ وَفَرِحُواْ بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا مَتَٰعٞ﴾

[سورت رعد: ٢٦]

الله پاک له خپلې خوښې سره سم چا ته ډېره او چا ته کمه روزي ورکوي، که څه هم دا خلک د دنیا په ژوند خوشحاله دي خو په اخرت کې د دنیا ژوند له څکې پرته نور هېڅ نه دي.

او د رزق په دې ډول ورکونه کې د الله پاک خپل بالغ حکمتونه دي چې د ځینو ادراک انسان د وحي او له وحي سره سم مناسب کله کله د عقل له لارې هم کوي خو ولې نور ډېر داسې حکمتونه وي چې د ذهني محیط څخه یې بهر وي.

دا چې ولې الله پاک هر انسان پوره غني نه دی پېدا کړی؟ د مالیت له نګاه نه ولې په انسانانو کې دغه توپیر کړی شوی دی؟ په مال او دولت کې ولې انسانان سره خپلمنځنې احتیاجات لري؟ دا ټولې پوښتنې الله پاک په ښه توګه جواب کړیدي، الله پاک فرمايي:

﴿وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٖ مَّا يَشَآءُۚ إِنَّهُۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٞ﴾ [سورت شوري: ٢٧]

که روزي او رزقونه الله پاک په ځمکه کې هر خپل بنده ته پراخه پرېمانه ورکړې وی نو دوی به په ځمکه کې اړی ګړی او تخریبکاري کړې وه.

نور داسې نبوي حدیثونه هم د حکمتونو په دې باب کې ځلیږي او وړانګې یې عقلونه لا پسې روښانه وي چې الله پاک خپلو ځینو بندګانو ته مالداري ځکه ورکوي چې که نادراه او بې وسه یې کړي کافر اود الله څخه منکرترې جوړیږي، او ځینې نور بندګان ځکه ناداره ا و غریب غربه کوي چې که په دنیا یې موړ کړي بغاوت او د الله پاک له حدودو څخه تېرې او انکار ترې راولاړیږي، او دې حکمت ته هم په صحیح حدیث کې اشاره شویده.

له مداره یې دا حکمت هم څرخیږي چې الله پاک په دنیا موړ انسان د دنیا په وړې

ازموي، او په دنیا ورېږي او بې چاره انسان د دنیا په مور ازموي چې په ازموینه کې به د بریالتوب نقطه ځوک تر لاسه کوي، یو او که دواړه؟؟

نور ګن شمېر حکمتونه چې د شرعي کتابونو د بیوعو په بابونو کې شتون لري.

خو بهر کیف د چا ځولۍ چې له دنیا څخه ډکه وي هغه دې د الله پاک جامعه شکریه ادا کړي او په ښو او نېکو جامعو کلماتو دې د الله پاک ثنا ووايي، ترڅو د نعمتونو د شکر په ادا کولو د جنت جوګه شي، ځکه چې د شکرګوزار انسان سره د الله مینه او مرسته وي.

او نور هغه د الله بندګان چې د ژوند هر لمحه يې فقر او فاقت، د زندګۍ هر لحظه يې خواري او غریبي، سترې ستوماني وي باید په دې مرحله له الله پاک نه راضي او خوشحاله شي او له دربار څخه يې د پاکې حلالې او خوندورې روزۍ سوال زاري وکړي.

که بډا بډا وي او خوار خوار وي خو په زندګۍ کې به هېڅ چرته هم له رزق او روزۍ څخه محروم پاتي نه شي تر څو چې پرې د ژوندي اطلاق کیږي، د تقدیر له مخې به ورته خپله مقرره برخه که د ځمکې په تل کې ولې نه وي خو وررسیږي، د نبي کریم ﷺ ځلانده ارشاد دی فرمايي: [لَنْ تَمُوْتَ نُفْسٌ حَتّى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا] (صحیح الترغیب والترهیب: ۱۷۰۲). تر هغه انسان نه مړ کیږي تر څو خپله مقدره او معلومه د رزق حصه پوره نه کړي.

هېڅ څوک د چا مقدّره روزي نه شي خوړلای او نه يې ورڅخه په کمښت کې کوم رول لوبولای شي، او نه يې د زیادت مخه نیولای شي، څومره چې د انسان په تقدیر او برخلیک ایمان زیاتیږي هومره يې ایماني زیادت او د رزق او روزۍ دروازې پراخیږي.

انسان لا د مور په نس کې وي چې د رزق ا وروزۍ ټوله اندازه يې د الله پاک له پلوه د ورته راستول شوې ملائکې په منځګړینه نوشته شي.

په ابوداود کې د (٤٧٠٨) نمبر صحیح حدیث له مخې د ولادت په مهال د انسان عمر او زندګي، خوراک او څښاک، سعادت او شقاوت ولیکل شي.

له تېرې څېړنې او مدلّلې شننې څخه مو لاس ته راوړنه داده چې کله هم الله پاک د انسان لپاره رزق او خورک او د ژوند اړوند ګرد کیفیتونه مقدر او لیکلي دي باید انسان پخپلو دیني واجباتو کې ناراستي او تنبلتوب ونه کړي، هېڅکله د دنیا په ګټلو کې د دیني عبادتونو او ورته متوجه اوامرو نه بې غوره او لا وباله نه شي، او نه هم د خپلو بچو اړوند تش په خوله او کمزوري انساني عقلونو له مخې رائجه فلسفه تایید کړي چې یا په دیني زده کړو کې روښانه مستقبل نشته! یا ځلانده راتلونکی یواځې د دنیوي علومو اړوند منحصر بولي! او....

هغه خلک چې دا فکره تثبیتوي او د جولاګي د کور په څېر په سست عقلي دلیلونو یې تاییدات کوي، امام شافعي رحمه الله یې فلسفه د خپل حکمت په تبرګي ریشه ریشه کړېده هغه وایي: [مَنْ طَلَبَ المَالَ بِالكِيمْيَاءِ أَفْلَسَ] که د کیمیاء له لارې څوک مالي پلټنې کوي نور به هم بې چاره شي.

❁❁❁

# د رزق د پراخه کېدو مهم لاملونه

د رزق پراخه کېدل شرعي لاملونه لري چې د پوهاوي په خاطر يې ځينې قابل ذکر بولم:

**توبه او استغفار:**

الله پاک پخپل مقدس کتاب کې د نوح ﷺ اړوند فرمايي:

﴿فَقُلْتُ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارًا ۝١٠ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ۝١١ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَٰلٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّٰتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَٰرًا﴾ [سورت نوح: ۱۰ - ۱۲]

ژباړه: ما خپل قوم ته وويل چې د الله پاک څخه بخشش وغواړئ هغه ډېر زيات بښونکی ذات دی * اسمان به درباندې په پرله پسې څپو څپو راووروي * په ډېرو زياتو شتمنيو او په بچو به ستاسو مرسته وکړي (يعني دربه يې کړي) او هغه به درله خېل خېل باغات په اوبو باندې رازغون کړي او روان نهرونه او د اوبو ويالې به درته جاري کړي.

تر څو د مبارکو ايتونو مفهوم لا پسې ښه پرقينده شي کولای شو چې د اسلامي امت لوي عابد حسن بصري رحمه الله قول ته ځغلند نظر وکړو تر څو د ژوند لارې مو د ښکارګر شيطان او نفسي غوښتنو له ازغنو پنجو خلاصې کړو:

حسن بصري رحمه الله ته يو چا د سوکړې او بې سارې وچکالۍ فرياد وکړ، هغه ځواب ورکړ چې له الله پاک څخه د خپلو تېروتنو او ګناهونو بخشش وغواړه، د ناستې په لړې کې بل نفر راغي او ورته يې د خپل ژوند د فقر او فاقت او بې چارګۍ آهونه پورته کړل، هغه ورته ځواب ورکړ چې الله پاک ته متوجه شه او توبه وباسه، هغه له خپل ځايه نه و پورته شوی چې دريم نفر راغي او ورته يې د بچو د نه شتون څخه د زړه راز ووايو، هغه ورته وويل: الله پاک ته متوجه شه او ورته توبه وباسه.

په دې دوران کې ورڅخه چا وپوښتل چې څنګه دې درې کسانو ته چې بېلابېلې غوښتنې یې درلودې یو څېر ځواب ورکړ؟ هغه ورته وویل: ما نه، دغې پوښتنو ته قران خپله ځواب ویلی دی او بیا یې ورته دغه مذکوره ایاتونه ولوستل.

## په الله بروسه لرل:

د دنیا په ګردو چارو کې په الله پاک بروسه کول او د هر کار انجام الله ته سپارتلو ته توکل وایي چې د کار انجام هر ډول پسند یا ناپسند وي خو د الله په قضا رضا ښودلو ته توکل ویل کیږي، له توکل څخه به څوک په دې توګه بده استفاده نه کوي چې هر څه الله کوي، رزق د الله پاک په لاس کې دی مخلوق ته ترې هغه انداز رسیږي چې څومره یې ورته لیکلی وي، دا عقیده سمه ده خو اسباب نه استعمالول او په خوله اقرار کول د اسلامي مبین او حنیف دین سره ټکر لري.

له دې کبله عمر بن الخطاب رضي الله عنه د خپل خلافت په دور کې څه خلک ولیدل چې د مسجد په ګوټ کې ناست او ذکرونه یې کول، ورڅخه یې وپوښتل: تاسو څوک یاست؟ هغوی وویل: (نَحْنُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ) چې مونږ په الله توکل لرونکي خلک یو، هغه پرې دوره پورته کړه او ورته یې وویل: (أَنْتُمُ الْمُتَآكِلُوْنَ) تاسو د توکل والا نه بلکې غلاګر یاست په دې بهانه د خلکو شتمني خورئ، او له مسجد څخه یې وویستل، او ورته یې وویل: (اِنّ السَّمَاءَ لاَتُمْطِرُ ذَهَباً وَلاَ فِضّة) اسمان څه سره او سپین زر نه راوروي.

او الله پاک هم فرمایي:

﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمْرِهِۦ ۚ قَدْ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَىْءٍ قَدْرًا﴾

[سورت طلاق: ۳]

څوک چې په الله پاک باندې بروسه ولري هغه به یې بس او کافي شي، الله پاک خپله پریکړه هرومرو تنفیذوي او د هر څه لپاره یې اندازه ګرځولې ده.

امام ترمذي په خپل سنن (۲۳۴٤) شمېر باندې له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت کوي [لَو أَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَوَكَّلُونَ عَلَى الله حَقَّ تَوَكُّلِهِ لَرُزِقْتُمْ كَمَا يُرْزَقُ الطَّيْرُ تَغْدُو خِمَاصًا وَ تَرُوحُ بِطَانًا].

که تاسو په الله پاک ربښتنی توکل وکړ نو د مرغانو په څېر به درته خواړه درکړې شي چې له جالو څخه تشې ججوري وځي او ډکې ججوري راځي.

## ❁ خپلولي پالل:

خپلولي پالل هم یو له هغه بابرکته نېکیو او الله تعالی ته له پسندو کارونو څخه د نبوي حدیثونو په قاموس کې شمېر دي چې په انساني رزق او روزۍ کې خېر او برکت او بې مثله زیادت راولي، په دې اړه ډېر زیات قراني ایتونه او نبوي حدیثونه غږېدلي دي چې د انسان کوتاه فهم او نه لاس رسي به دا نه باعثوي چې ګنې په دې اړه اسلامي دین غلی پاتې شوی دی.

له دغو زیاتو نصوصو له جملې څخه چې انساني فکره وخړوبوي او په ذهني توګه انسان د تل لپاره د لوی الله تعالی سره په خورا ټینګو اړیکو چې متانت یې هېڅ دنیوي چارې او شیطاني وسوسې او یا نوره خود غرضي نه شي ځپلی او نه یې له حرکت څخه ویستلی شي، یو څو بېلګې یې قابل ذکر بولو:

❁ د پیغمبر پاک او د دواړو جهانونو سردار نبوي ارشاد دی فرمایي: [مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، أَوْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ] (بخاري: ۲۰۶۷ نمبر حدیث).

ژباړه: څوک چې د خپل رزق او خوراک څښاک په زیاتوالي خوشحالېږي او په دې خوشحالېږي چې عمر یې دراز شي نو خپلولي دې وپالي.

لږ وړاندې مو یادګېرنه وکړه چې د انساني فکر کوتاهي او عقلي خامي د اسلامي شریعت کومې خوګانې نه دي، که څه هم انسان د ځېنو مسئلو اړوند زیار وباسي او ورڅخه کوږ نسکور شي د خپل کړي اجتهاد له مخې په سپین نیتۍ - که څه هم خطا شوي وي او نقطې ته یې رسیدګې ونه شي کولای - خو پرېکړه به یې په نیت کیږي، که خطا شي یو اجر او که صواب ته ورسیږي نو الله به دوه اجرونه ورکړي.

دا خبرې ځکه قابل غور دي چې مخکې مو یو حدیث واخست چې الله پاک د انسان رزق او خوراک د هغه عمر او زندګي د هغه سعادت یا شقاوت د مور څخه د پیدائښت په مهال چې یوه ملائکه ورته راستوي نویشته کوي، بیا دومره ستړیا او ستومانتیا او د پلور او پېر کړکېچن کیفیت ولې وزغمو؟ چې د نوشته مقدرې برخې څخه نه څوک زیادت کولای شي او نه یې په تنقیصولو توان لري.

دلته مذکوره حدیث په ظاهره توګه د تېر حدیث سره لفظاً ټکر وخوړ؟

خو ولې دا نه تعارض دی او نه د حدیثونو له الفاظو څخه ردوبدلې معناګانې اخستل کیږي، دواړه حدیثونه په یو مفهوم غږیدلي دي او د دواړو حدیثونو مدار هم یوه نقطه ده.

کولای شو چې په تفصیلي انداز ووایو: لکه څنکه چې د انسان رزق او د ژوند ګرد کیفیتونه چې ورځ تر بلې نفوذ لري د الله پاک په تقدیر کې نویشته دي همدغسې ورسره دا هم نویشته دي چې که څوک په رزق کې پراخي او دراز عمر پخپلو خپلو اسبابو کې نغښتل شوي دي، که څوک دغه اسباب د خوشحاله ژوند لپاره خپل او په کار واچوي، الله پاک به یې ژوند بابرکته او له خېره ډک کړي، عمر به یې درازه او ډېر شي.

او دېته خو انساني تجربې هم غاړه بالاخره کېښوده چې په خپلولي پاللو کې په نهایت زیات یقین سره بې نظیره رزقي زیادت، قلبي اطمئنان، ذهني سکون او نفسي ارام اېښودل شوی دی، نو د ژوند د ټولو تاوتریخوالو، پریشانیو، د قلق او اضطراب له سمندري طوفان څخه پرې انسان بچ او روغ پاتې کېدای شي، پل په پل ورته ډاډ او حوصله وي، اطمئناني مورال یې تر هر څه لوړ او ستر وي، د بدني رنځونو او زړه خوړونکو ناروغیو څخه ناخبره او غوړونه یې ورڅخه کانه وي، د دومره خوش بخته ژوند څښتن عمر به ارومرو زیات او اضافه وي، په دې سره هغه لاپسې نور هم د خپل خرید او فروخت لېن دېن پراخه او لا غځولی شي، د ژوند په داسې خوشحاله او سوکاله صفتونو موصوفه زندګۍ باندې د قسمت خور انسان یو ساعت په خوب خونه کې ارام د یو کال زندګۍ سره لاکه زیات ترې نه وي کم ترې هم نه دی، دغسې بې غمه زندګي چې په تجارت او بل ته په صدقاتو ورکولو ډکه وي که څه هم واردات د کثرت صفت پېدا کوي خو صدقه او خپلولي پالنه هم ورسره په کثرت کې په مسابقه بوخته وي، په رښتیا هم دا دراز عمر دی.

دغسې انسان چې څومره یې دنیا زیاتیږي هومره یې د الله تعالی سره اړیکې ټینګیږي.

زما په اند خو له دې څخه بله درازه زندګي شتون نه لري.

### د الله په لاره کې خرچه کول رزق ډېروي:

دقرانکریم کې شمېر ایتونه او نبوي حدیثونه رابښايي چې د الله په لاره کې انفاق او خرچه کول یو له هغه لاملونو څخه دی چې رزقي تنګستیا له منځه وړي، د الله په لاره کې خرچه شوې اندازه د ځان پسې د اخلاص په بنیاد په څو چنده رزق راجلبوي، ځکه چې د نېکو عملونو مدار په نیت دی چې نیت څومره صالح او خالص وي، دومره اجر او ثواب، اخروي او دنیوي برکتونه يې په څو څو وارې اضافه کیږي، الله پاک فرمايي:

﴿قُلۡ إِنَّ رَبِّي يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ وَيَقۡدِرُ لَهُۥۚ وَمَآ أَنفَقۡتُم مِّن شَيۡءٖ فَهُوَ يُخۡلِفُهُۥۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ﴾ [سورت سبأ: ٣٩]

ژباړه: ورته ووایه چې زما رب د خپلې مرضۍ سره سم خپلو بندګانو کې چا ته رزق پراخه او چا ته يې تنګوي، او تاسو چې کومې صدقې او خېراتونه کوئ الله به يې عوض درکړي او هغه ډېر ښه رزق ورکونکی ذات دی.

له ایت څخه جوته شوه چې هر هغه څه چې الله پاک ستاسو لپاره روا او استعمال يې ستاسو لپاره حلال کړي دي او تاسو ورڅخه د الله د امر سره سم صدقه او خېرات ورکړئ نو په دنیا کې به يې مزیده ښه بدله درکړي او په اخرت کې به درله اجرونه او ثوابونه درکړي.

او دا منل شوې قاعده ده چې صدقات د انسان د رزق په زیادت کې بې تحاشا رول لوبوي، د الله سره د مینې په بنیاد چې څوک د غریب غربه اخراجات په غاړه واخلي، مال او دولت به يې د اخلاص په بنسټ زیادت ته نوره هم مخه کړي.

نه د مادّه پرستو په ګومان چې صدقات او خېراتونه د مال د کمښت لامل ګرځي، ددې شبهاتو د له منځه وړلو لپاره خو الله پاک فرمايي: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبۡتُمۡ وَمِمَّآ أَخۡرَجۡنَا لَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِۖ وَلَا تَيَمَّمُواْ ٱلۡخَبِيثَ مِنۡهُ تُنفِقُونَ وَلَسۡتُم بِـَٔاخِذِيهِ إِلَّآ أَن تُغۡمِضُواْ فِيهِۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ﴾ اوبیا وروسته متصل فرمايي ﴿ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةٗ مِّنۡهُ وَفَضۡلٗاۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٞ﴾ [سورت بقرة: ٢٦٧-٢٦٨]

ژباړه: ای مومنانو! له هغو پاکو خواړو څخه چې مونږ درته له ځمکې څخه

راویستلي دي نفقه او صدقات ورکړئ، ناخوښه برخه ترې مه صدقه کوئ چې که تاسو ته يې څوک درکوي خپله يې نه اخلئ مګر دا چې سترګې وربانديې پټې کړئ، او وپوهېږئ چې الله پاک بې احتیاجه غني او ستایل شوی ذات دی * شیطان مو له فقر و فاقت څخه ویروي او په ښکاره بدو درته امر کوي خو الله پاک درسره له دغې ګناهونو څخه په بخشش او مزید فضل وعده کوي، او الله پاک پراخه رزق ورکونکی او پوهه ذات دی.

**دا دواړه ایتونه ډېرو لوړو هدفونو ته شمول لري:**

لومړی: د الله په لاره کې خرچ نفقه. دوهم: د شیطان بې ساره هڅه چې په انسان دین ګډ وډ کړي...

له دې کبله له ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل دي چې دوه ورکړې په ایت کې د الله پاک له پلوه دي او دوه شیان پکې د شیطان له پلوه دي (الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الفَقْرَ) شیطان مو له فقر او فاقت څخه ډاروي چې مالیت دې مه خرچه کوه د خوارۍ سره به مخ شي، ذخیره يې کړه شاید په تنګه کې دې په کار راشي (وَيأْمُرُكُمْ بِالفَحْشَاءِ) په بدو او ناوړه عملونو درته امر هم کوي چې که په دنیا کې دې له مزو څخه خوند واخست سمه ده ورنه بې مزې به لاړ شې. (وَاللهُ يَعِدُكُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ) او الله پاک درته په دغو ګناهونو چې شیطان پکې مبتلا کړي یاست د بخشش وعدې او زیرې درکوي (وَفَضْلاً) او الله به درته د خرچ په بدل کې مزید رزق هم درکړي.

او په دې کې شک نشته چې (مغفرت) په دنیا او اخرت کې د انسان په ګناهونو پرده اچولو ته ویل کیږي او (فضل) په دنیا کې د رزق پراخوالي ته ویل کیږي، معنی دا شوه چې که څوک څومره نفقه وکړي الله پاک به ورته په دنیا او اخرت کې په چندونو چندونو بدله ورکړي.

د هغې نبوي حدیثونو له جملې څخه چې د الله پاک په لاره کې انفاق د رزق د پراختیا مهم لامل بولي ځینې حدیثونه يې قابل ذکر بولم:

ابوهریرة رضي الله عنه له نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې الله پاک فرمايي: [أَنْفِقْ أُنْفِقْ عَلَيْكَ، وَقَالَ: يَدُ اللهِ مَلْأَى لاَ تَغِيضُهَا نَفَقَةٌ سَحَّاءُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ، وَقَالَ: أَرَأَيْتُمْ

مَا أَنْفَقَ مُنْذُ خَلَقَ السَّمَاءَ وَالأَرْضَ، فَإِنَّهُ لَمْ يَغِضْ مَا فِي يَدِهِ، وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى المَاءِ، وَبِيَدِهِ المِيزَانُ يَخْفِضُ وَيَرْفَعُ] (بخاري ٤٦٨٤).

ای انسانه ته مال خرچه کړه زه به په تا خرچه وکړم، نبي کریم ﷺ بیا وفرمایل: د ورځو شپو اخراجات او نفقې د الله پاک لاس څخه څه نه کموي د الله پاک لاس ډک دی، بیا یې وویل: خبر شئ چې د اسمان او ځمکې له پیدائښت وروسته چې څومره نفقه الله پاک په مخلوق کړېده په لاس کې ورسره خزانو څخه یې هېڅ هم نه دي کم شوې، عرش یې په اوبو باندې و، د الله په لاس کې ترازو ده ښکته کول او پورته کول هغه کوي.

له حدیث څخه په ځرګند ډول برېښي چې د انسان د رزق زیادت د خرچې پورې تړل شوی دی، په نېک او صالحه نیت چې انسان څومره دالهي رضا په خاطر نفقه کوي هومره ورته الله پاک دنیوي او اخروي بدلې هم ورکوي.

د ابوهریرة رضي الله عنه په روایت بل حدیث کې راځي چې نبي کریم ﷺ فرمایي: [مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ العِبَادُ فِيهِ، إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا] (بخاري: ١٤٤٢).

هر ورځ چې په انسانانو سبا کیږي مګر دوه ملائک پکې راښکته کیږي، یوه ملائکه وایي: ای الله! صدقه کوونکي انسان ته عوض او بدله ورکړه، او بله ملائکه وایي: ای الله! بخیل انسان په زیان واړوه.

امام بیهقي رحمه الله په (شعب الایمان: ١٣٩٣) شمېر باندې له عائشې رضي الله عنها څخه روایت کوي چې نبي کریم ﷺ بلال ته وویل: [أَطْعِمْنَا يَا بِلَالُ «. قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا عِنْدِي إِلَّا صُبْرٌ مِنْ تَمْرٍ خَبَّأْتُهُ لَكَ، قَالَ: « أَمَا تَخْشَى أَنْ يَخْسِفَ اللهُ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ، أَنْفِقْ يَا بِلَالُ، وَلَا تَخْشَ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلَالًا].

بلاله! لږ څه راباندې وخوره، هغه ورته وویل: د الله پیغمبره! د کجور څه اندازې پرته چې هغه مې هم ستا لپاره پټې ساتلې وې نور څه راسره نشته، هغه ورته وویل: بلاله! دا ډار دې نه محسوسو چې د کجورو ډېرکی دې الله په اور کې راکاږي! خرچ یې کړه او د الله پاک له پلوه په غربت او ناداری مه ویریږه.

مذکوره قراني ایتونه او نبوي حدیثونه د خیر ښېګړې په ګڼ شمېر بخشونو کې

انفاق او مالي برخې اخستلو ته هڅونه کوي، او ټولو هغه وګړو ته چې د ښېګړو په بخشونو کې لاس ولري زیري ورکوي چې په دنیوي او اخروي عوضونو به مو الله پاک ونازوي، خیریت او فضل به درکړي.

ځینې خلک دې دا ګمان نه کوي چې که الله ملیونز کړ د خیر او ښیګړې په لارو کې به هېڅکله هم بې ونډه نه وي، داسې فکره لرل ډېره لویه تېروتنه ده، ولې چې له مونږ. څخه مطلوب اخلاص دی، شاید ستا یوه (انه) چې په صالح نیت یې دالله پاک په لاره کې د غریب غربه په چارو کې نفقه کړې له هغه چا څخه زیات او ډېر وي چې یو ملیون یې نفقه کړي وي، ځکه کېداي شي چې د هغه موخه پرې شهرت وي چې خلک یې عمل وستايي!! خو د نیتونو علم یک یواځې د الله سره دی، الله پاک فرمایي:

﴿مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ١٥ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ [سورت هود: ١٥-١٦]

دنیوي ژوند او ډول ډال چې څوک غواړي مونږ. به یې ورته پوره پوره ورکړو او هېڅ کمې به پکې نه محسوسوي * د دغې خلکو لپاره په اخرت کې له اور پرته نور هېڅ نشته، په دنیا کې نیک عملونه یې بې ثوابه دي، او په اخرت کې یې هم نیک عملونه برباد دي.

### بې وسه او بې کسو سره لاس اړول:

د الله پاک په لاره کې د خرچ او نفقاتو په مېدان کې له غریب غربه او بې وسو سره مالي ښیګړه هم داخله ده، امام بخاري رحمه الله پخپل صحیح کې د [باب الاستعانة بالضعفاء والمساكين] لاندې د سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه حدیث راوړی دی چې هغه لره به خپل ځان نه لاندې خلکو غوره ګڼو، نبي کریم ﷺ ورته وویل: [هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلا بِضُعَفَائِكُمْ] (بخاري: ٢٨٩٦ شمېر حدیث).

ژباړه: تاسو ته په جنګونو کې مرسته او عام رزق روزي ستاسو د کمزورو په برکت درکول کیږي.

دې حدیث کې یو نا اشنا راز ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده، هغه داسې چې د فقیر

او نادارو خلکو زړونه د الله سره په اړیکو کې د مالدارو خلکو د زړونو نه ډېر ټنیګ وي، د دنیا له محبت څخه یې زړه تش تور وي، د اخرت بریا یې ستره لاس ته راوړنه او لوړه موخه وي، په عبادتونو کې هم د مالدارو طبقه خلکو په پرتله ډېره خشوع او خضوع لري، د اخلاص او للّهیّت په بنسټ د عبادتونو مانېی ودانوي، امام عبدالرزاق په خپل مصنَّف کې د مکحول په روایت په تېر حدیث کې څه زیادت -که څه هم مرسل دی- ذکر کوي [قال سعد یا رسول الله أرأیت رجلا یکون حامیة القوم ویدفع عن أصحابه أیکون نصیبه کنصیب غیره] (مصنف ابن عبدالرزاق: ۹٦۹۱).

ژباړه: سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نبي کریم ﷺ ته وویل: ایا له قوم څخه مدافع او ورڅخه د متوجه خطراتو اړونکی په ثواب کې د عام قوم په څېر دي؟ نبي کریم ﷺ ورته هغه ځواب ورکړ چې لږ مخکې یې یادونه وشوه.

له حدیث څخه دا هم جوته کېږي چې په جنګ کې له کفارو څخه لاس ته راوړل شوې غنیمت کې هم زړور او کمزوري یو څېر دي، که په جنګ جګړه کې یو ونډوال دلاور وي خو ولې بل برخوال پکې له اخلاص او د دعا په قبولیت مالامال وي، له حدیث څخه په ډېر روښانه ډول بریښي چې په کمزورو خلکو زړه سوزول، په هغوی رحم کول، د هغوی د نیوي اړتیاوې پوره کول درزق په ډېربښت تر هر څه ستر لامل دی.

پوښتنه دا منځ ته راځي چې په حدیث کې کمزورو څخه څوک مراد کېدای شي؟

ځواب دا دی چې په حدیث کې ذکر شوي کمزوري ګڼ شمېر ډولونه لري، په دوي کې نادار، یتیم، بې سرپرسته، مسکین، رنځور، مسافر، د ډېر اولاد څښتن چې له نفقې څخه یې بې توانه دی، کونده ښځه چې خاوند یې له دنیا څخه په داسې حالت کې کوچ کړی وي چې د دنیوي چارو د سمبالښت یې څوک نه وي، دا ټول داخل دي، هیره دې نه وي چې ددغې اړینو خلکو سره احسان کول یو له بل څخه توپیر خوري، د نمونې په توګه د نادار او غریب غربه سره احسان دا کېدای شي چې صدقه او مالي مرسته ورسره وکړی شي، هغوی ته ډاډ ورکړي چې خاطر دې جمع کړه د ژوند په هر پړاو کې درسره لاس اړونې ته تیار یم، ما ته چې الله پاک کوم مالیت راکړی دی داسې وانګېروه چې دا ستا خپل مال دی، یا که څه

هم مال زما دی خو الله پاک راسره پکې ته حقدار ګرځولی یې، داسې نور د حوصلې لوړولو کلمات چې انسان پرې درون ښکاري او غریب غربه ته پرې ډاډ او قلبي اطمئنان حاصلیږي.

د یتیم او کونډې سره احسان داسې کېدای شي چې د تل لپاره د هغوی دنیوي چارو اړوند دوامداره پوښتنه وکړي، د هغوی اړتیاوې پوره کړي، تر څو یتیم د خپل خوارکي پلار مرګ احساس نه کړي، داسې نه وي چې کونډې رنډې هېڅ د خوراک درک نه لري، په تن پروت لباس یې غوني زړوي، او تر څنګ کور کې یې رنګارنګ خوراکونه او خپل خپل پوښاکونو باندې ګاونډ سمبال وي، های های د الفت صیب شعر مې خولې ته څومره په چټکۍ راغي:

داســې بې غمي دې خداي په هېڅ ځاي کې پېدا نه کړي
یو کور کې چـــې غـــم وي او بـــل خانـــدي د لیلی سره

د رنځورانو او هغه خلکو سره احسان چې روغ صحت یې له لاسه ورکړی وي احسان دا دی چې د هغوی بیمارپرسي وشي، د هغوی د دارودرملو لپاره دنیکو لارو پلټنې وکړی شي، هغوی ته صبر او زغم او په نورو تسلّي بخش کلماتو ډاډ ورکړي شي چې په داسې تکلیفونو الله پاک له انسان څخه ګناهونه رژوي، او داسې نور...

له بل اړخه غریب غربه ته، کونډو رنډو ته، یتیمانانو او بې وزلو ته، د دوي په خیر نورو بې وسه او بې کسو ته لار ازغنه کول او ورته په ژوند کې ستونزې راولاړول، هغوی رټل او د انسانیت له دایرې څخه یې ویستل، په هغوی لاس پورته کول او زړونه یې ماتول ددې سبب ګرځي چې په رزق کې تنګي راولي، د دې خبرې د تایید لپاره په (سورت ن) کې د باغ والا قیصه ډېره ښه نمونه ده.

مونږ چونکه د اسلامي اقتصاد اړوند لوستوالو ته د معلوماتو ورکولو –ان شاء الله– کلک هوډ کړی دی، خو دا چې له اسلام څخه ډېر وروسته ځېنو نورو اقتصادي نظامونو په داسې حالت کې شتون پیدا کړ چې په نړیواله سطحه پېروکار لري، په نړیوالو اثر او رسوخ لري، غواړو چې په دې عجاله کې یې مونږ هم له ځغلند نظره تېر کړو.

## لومړي: راسمالي اقتصادي نظام

دې نظام ته سرمايه کاري نظام هم وايي، د دې اقتصادي نظام ځانګړنه دا ده چې فرد څنګه، چرته، او په هر راز وسيله مالي لاس ته راوړنې کولای شي، تر څو د هيواد قوانينو سره تصادم ونه لري، په دې نظام کې يواځې مالي ډېرښت ته هڅونه ده، له شرعي امورو او اخرت نګاه نه انسان ته هېڅ اوامر او نور ارشادات نه متوجه کوي، دا نظام د امريکا په متحده ايالاتو کې، په اروپا کې، په جاپان او نورو هغه هيوادونو کې چې د اقتصاد دغه ډول ځان لپاره ګټور بولي رواج لري.

**ددې اقتصادي نظام ځانګړتياوې:**

١ **حکومت د لاس وهنې حق نه لري:** د اقتصاد په دغې وګړيز نظام کې حکومت د لاس وهنې هېڅ حق نه لري، فرد بويه چې د توليد يا پلورلو او پېرلو څنګه او چرته خپل اسباب په کار اچوي، او نه حکومت ددې حق لري چې د پلور او پېر نرخ او يا د نرخونو ډولونه تحديد کړي، بس حکومت همدومره کولای شي چې د پلور او پېر دواړه خواوې د دولتي اخستلو خرڅولو په وضع شوي قوانينو ملزم وګڼي، په دې نظام کې حکومت توان لري چې د خريد او فروخت توکو کې محدودو شروطو ته دواړه خواوې غاړه کيږدي، يا هغه توکې چې هيواد او ولس ته په زيان تماميږي مخه يې ونيسي، لکه د نشي توکو خريد او فروخت، يا لکه د موټرو هراړخيزه سلامتي چې خو (عيب) ونه لري، داسې نور...

٢ **استهلا کونکی (لګښت وال) بشپړ ازاد دی:** په سرمايه داري نظام کې مصرف کونکی او استهلا ککر بشپړه ازادي لري، ځکه چې هغه د اقتصادي ستونزو د حل او فصل لپاره د اقتصادي جريانونو کوم غړيتوب نه لري، هغه ازادي لري چې د خپل رغبت سره سم او د خپلې خوښې په پراخه بنسټ تر څو نفسي غوښتنو ته په اسانه ورسيږي هر څه يې د طبيعت تابع دي، د توکو د څومره او څنګه واک د لګښت وال په لاس کې دی چې څومره غواړي او څنګه او په کوم وخت کې

یې غواړي، لنډه دا چې په بازار کې په لګښت وال د هېڅ بازاري سلوک اجباري تاثیر نشته.

۳ **د تولیداتو ازادي، په تولیداتو کې خپلمنځنۍ ازادي:** په راسمالي نظام کې د تولیداتو که څه هم د حجم له نګاه څخه ستر نه وي ډېر وګړي پکې برخوال جوړېدای شي، یعني فرد نه شي کولای چې د کوم تولید په جریان ځان ته واک ورکړي او نور له دغسې تولیداتو څخه وژغوري چې له ما پرته نور څوک د دې تولیداتو حقوق نه لري، نا بلکې هر فرد کولای شي چې دغسې تولیدات تونډ او چابک کړي.

۴ **د ځاني شتمنۍ حمایت:** د اقتصاد په راسمالي نظام کې د ځانګړي شتمنۍ چې وګړي یې غوڅ حقوق لري، د خپلې مرضۍ له مخې یې نور وګړو ته د انتقال او نه انتقال ثابت حقونه لري، که فرد وغواړي چې خپله شتمني چا ته، څومره او په کوم وخت کې او څنګه ورکړي ورکولای شي، دولت یا دولتي اړوند ارګانونه یې په تصرف کې هېڅ د ممانعت حق نه لري، فرد کولای شي چې د تولیداتو په عملیاتو کې ځان سره نورو ته هم سهم ورکړي، هېڅ توپیر نه لري که دغه شراکت په ځاني شتمنۍ کې وي او که په استهلاکي (لګښت والۍ) شتمنۍ کې وي.

۵ **نرخ د پلورنکي او پېرونکي حق دی:** د راسمالي په اقتصادي نظام کې پلورونکی او پېروونکی سره خپلمنځنۍ ازادي لري، دواړه کولای شي چې د توکو د پلور او پېر لپاره د توافق له لارې سره رضا شي، د باور وړ نرخ هغه دی چې دواړه خواوو سره پرې هوکړه کړې وي، د نرخ معلومول د توافق له لارې د توکو په ساتلو کې د پېرونکي رغبت او د توکي اهمیت ته غوڅه پاملرنه زیاتوي، او تولیدونکي دېته هڅوي چې ددغې توکو مزید ډېرښت ته ځانګړی پام ولري، تر څو بازارونه یې ساړه پاتې نه شي، او کله چې هم د توکو نرخ واک تولیدونکي او پېرونکي ته ورکړل شي، او دواړه خواوې سره د نرخ په ټاکلې اندازه خوښ شي، تجارت او مالي پانګونه نوره پسې هم پرمختګ کوي.

# دوهم: اشتراکي اقتصادي نظام

دا ډول اقتصادي نظام د تولید ګرد عوامل د ځانګړي ملکیت په ځاي د دولت ملکیت بولي، په همدې سره وګړیز ملکیتونه له منځه ځي، هېره دې نه وي چې تولیدات به د هیواد په اختیار او یا هم هغه پلاوې چې هیواد به یې ددغې تولید د ارشاداتو لپاره ګماري د هدایاتو سره سم مخ په وړاندې ځي، هېواد به هغه تولیداتو ته ځانګړې پاملرنه لري چې د هیواد باشنده ګان یې پسند بولي، د شیانو او خلکو ته د پسندو توکو نرخونه، بازار ته د پلور لپاره استول به د حکومت د څارنې لاندې وي، که څه هم هغه خلک چې د اشتراکي اقتصادي نظام سره د ورکړې راکړې معامله لري خو د نرخونو له کبله ستونزو سره مش ګریوان وي، له دې کبله اشتراکي اقتصادي نظام د ټولنې د افرادو رغبتونو له پاللو څخه پاتې او کمزوري راځي، ولې چې هیواد نه شي کولای چې تولیدات خلکو ته د هغوی د رغبتونو سره سم د ښه والي او د نوعیت سره په اعلی او معیاري کیفیت کې وړاندې کړي.

### ددې اقتصادي نظام ځانګړتیاوې:

١ **د تولیداتو وسایل عام واک لري:** د اقتصاد په دې نظام کې وګړیز ملکیتونو بیخي شتون نه لري، بلکې دېته عام ملکیت ویلای شي معنا دا ده چې ګرد ولس په ملکیت کې ګډونوال دي خو دومره ده چې اداره او کنترول یې د هیواد او قانون په لاس کې دي، حکومتي ادارې د وخت سره سم د اړتیا وړ شیانو د تولید احکامات صادروي، حکومت د توکو د تولیداتو او د افرادو ترمنځ یې د توزیع ډانچه ړدي، په کمونستي اقتصادي نظام کې فرد توان نه لري چې د تولیداتو فابریکې یا نور اقتصادي موارد ولري، فرد نه شي کولای چې په دې نظام کې پخپله خوښه مالي پانګونه وکړي، نا بلکې د تولیداتو د فابریکو او د ټولنې اړتیاوې د اړخونو مربښت د هیواد او نور هغه دولتي ارګانونه چې د تولیداتو په جریانونو ګمارل شوي وي ځانګړې دنده ده او بس.

۲ **اقتصادي موارد او د تولیداتو عملیتونه به د حکومت په کانترول کې وي:** په اشتراکي اقتصادي نظام کې د حکومت او اړوند ارګانونو رسم کړي پلان له مخې به د تولیداتو نوعیت او کمیت (څومره والي) رغبت سره سم پل پورته کولای شي، توزیع به یې په هغه ډول کیږي چې اقتصادي اداري یې څنګه پلان لري.

۳ **د نرخنامې ارزښت ورکېدل:** په اقتصادي چارو کې د حکومت لاس وهنه د اقتصاد په مرکزي نظام کې په نرخنامه ډېر اغېز لري، ځکه چې حکومت غواړي د تعین شویو توکو په بشپړه تولید خپل ځان ټاکلي هدف ته ورسوي، او له مقرره تولیداتو پرته نور له هر څه صرف نظر وي، دا ډول سیاست حکومت مجبوروي چې ټولو تولید شویو توکو ته ټیټ محدود نرخ ورکړي، معنا دا چې بازار ته راغلی د تولید کمیت شاید د نرخ په نسبت دومره زیار نه ارزي، او کله نا کله داسې هم وشي چې تولید شوې توکې د تعین شوي نرخ څخه هم په کمه بیعه خرڅ شي، له دې څخه د هیواد موخه دا وي چې تولید شویو توکو ته دخلکو پام راواړوي تر څو په پېرلو کې له یو بل څخه چټکي وکړي چې کله کله داسې هم ګټور وي، د بېلګې په توګه که د څه توکو د ټیټ نرخ په تعین کې هیواد کلک دریځ په دې غوره کړی وي چې بازاري غوښتنه یې هم زیاته شي او په ښه ډول ډېر کمیت وپلورل شي.

❀❀❀

## دریم: مختلط اقتصادي نظام

دا هم د نړیوالو اقتصادي نظامونو څخه یو ډول نظام دی، د اقتصادي ودې په بنسټ نه د تولیداتي توکو واک خو وګړو ته ورکوي او نه یې په بشپړه توګه د حکومت حق بولي، نا بلکې هیواد او فرد دواړه په اقتصادي ډګر کې ازاد بولي، او دا نظام غواړي چې لوي احتکارتونه بیخي له منځه یوسي، تر څو د لګښت وال او تولیدونکي منځني مصلحتونه سره خوندي پاتې شي، د دې نظام د رواج سره یې موخه دا ده ده چې د شخصي ملکیتونو او حکومتي ملکیتونو له بدو ستونزو څخه دواړه خواوې وژغورل شي او دواړه خواوې په اقتصادي اړخونو کې لاپسې پرمختګ وکړي.

د اقتصاد دا نظام د سوسیال او کیپیټل اقتصادي نظامونو ترمنځ د مثبتو صفتونو ترمنځ تینګې اړیکې پیدا کول غواړي، که څه هم څارنه د هیواد خصوصي ادارې په لاس کې وي خو سلا مشورې ته مستهلکین (لګښت وال) او تولیدونکي افراد رابولي.

**کولای شو چې د اقتصاد دا ډول نظام په لنډو ټکو کې داسې یاد کړو:**

په دې نظام کې لګښتوال او تولیدونکي افراد خپلو رغباتو سره پل پورته کوي، په دې نظام کې ټولنه محدود اقتصادي موارد لري، پوښتنه دا رامنځ ته کیږي چې د محدودو اقتصادي مواردو کې د ټولنې د افراد د غوښتنو لپاره پلټنه او غوڅه کره کتنه څنګه کېدای شي؟

دې پوښتنې ته ځواب د دې ډول اقتصادي نظام کېښودل شوي پلان وایي چې هیواد به د وګړو لپاره د هغې وسیلې په لټه بوخت وي چې د اقتصادي ستونزې سره مخامخ شوي دي.

خو ولې په ازاد اقتصاد کې دا ډول مسئلې لګښتوال او تولیدونکو دواړو ته پرېښودل کیږي.

**کولای شو چې په ډېر اختصار د دواړو نړیوالو اقتصادي نظامونو تاوانونو ته ځغلند پام ورواړ وو:**

**أ. د راسمالي اقتصادي نظام (کپېټالېزم) تاوانونه په دې ډول دي:**

١ د راسمالي (کپېټالېزم) اقتصادي نظام رواج سره د انسان له مغزو نه دیني، اخلاقي، او انساني خوي او عادتونه کوچېږي.

ځکه هر انسان مینه لري چې د ډېرې شتمنۍ واکدار شي، په دې نظام کې چونکه فرد ازاد دی چې خپله شتمنۍ څنګه ډېرولی شي حق يې لري، په دې نظام کې فرد د سود، غلا، زنا، کفر او زندقت، احتکار، ټنګ ټکور، لوڅ او لغړ فلمونه او د انساني عزت پلورل او نور هغه اړخونه چې د انسانیت معالم وژني وربانديې ثروت اضافه کولای شي، د اخرت، د جنت او دوزخ څخه خلک بیخي بې غوره کول چې ژوند همدا د دنیا ژوند دی، زه زه یم، مال زما مال دی، زه او زما مرضي....

٢ په مالدارۍ او ثروت کې بې تحاشا تفاوت چې یوه خوا پکې له مزو څخه نه وزګارېږي، ددې حساب ورسره نه شي کېدای چې مالیت يې له کوم اړخ د ډېربښت صفت پیدا کوي او مالي لګښتونه یې په کومو ځایونو کې دي، خو ولې بله خوا د فقر په ژوره څاه کې تنفس هم نه شي اخستلای، په دې نظام کې مالیت یواځې بډايي طبقه کې منحصر وي، د غریب غربه خلکو لاسونه پکې د تل لپاره تش تور وي.

٣ په بازارونو او مارکېټونو باندې د احتکار له مخې واک لرنه، معنا دا ده چې په راسمالي ټولنو کې لويې شرکتونه سره خپلې توکې په دې احتکاروي چې نرخونه يې لاپسې لوړ شي، د ځمکې واردات هم احتکاروي تر څو غوښتنه يې هم لوړه شي او نرخونه يې هم پورته شي.

٤ تل لپاره اقتصادي ستونزې په سخته توګه ګالل، په دې نظام کې زیاتره وګړي پوروړي پاتې کېږي، د ورځو په شمېر پکې انسان ملیونر هم جوړېدای شي خو ولې ملیونر پکې لوی نړیوال لپنګ هم جوړېږي، ډېر وخت په کې انسان له خپلې خونې، ښځې، اولاد او بچیانو څخه لاسونه ووینځې.

۵ بېلابېل اقتصادي او ټولنیز احزاب منځ ته راتلل.

**ب. د اشتراکي اقتصادي نظام تاوانونه:**

۱ د افرادو اقتصادي اړخونه مقید کول چې له محدودې دائرې څخه مزید قدمونه نه شي اخستلای، په دې سره الله پاک په انسان کې ایښې موهبه تپې کول وي، عزائم یې مجروح وي، انسان نه شي کولای چې خپل پټ اقتصادي قابلیت ته پرمختګ ورکړي.

۲ د تولیدي وسایلو له کبله فردي ملکیت له منځه وړل، او دا له بشري فطرت سره هر اړخیز تضاد لري، ځکه چې د مال او دنیا سره د انسان مینه فطرتي ده، انسان خوښه ګڼي چې د مالیت واکدار وي.

۳ د اسماني دینونو سره په ښکاره ډول د جنګ اعلان، هغه داسې چې اسماني دینونو راستولی اقتصادي نظام چې باید هر بډا پکې د خپل کلي کور او چاپیریال فقرزده انسان په خپله مالي شتمنۍ وپالي، د هغوی ظروفو ته وکتل شي، په حقوقو کې یې اهمال ونه کړی شي، خو ولې دې نظام کې فرد د هیواد د مشنرۍ مثال لري، هر وګړی باید هرومرو په مشنرۍ کې د راز راز پرزو په څېر کردار ادا کړي.

۴ په کار کسب کې د مشغولو افرادو کوتاهي او نیمګړتیاوې.

۵ د ټولنیز او وګړیز فساداتو انتشار، ځکه چې کمونستي اقتصادي نظام له دین او اخلاقو څخه په ټپه انکار کوي.



# دریم: اسلامي اقتصادي نظام

اسلامي اقتصادي نظام د داسې ضوابطو ټولګه ده چې د انسان په انسانیت د مکمل حفاظت هراړخیزه غوښ نظرونه لري، دا ځکه چې دا ډول نظام د ټولې نړۍ واکدار او خالق، سمیع او بصیر ذات رالیږدولی دی، تر څو ددغې اسماني دین او مبین شریعت په نظر کې نیولې موخې وجود ته راشي، دغه موخې عبارت دي د:

د انسان مالیت او ټوله شتمني.

انساني عقل.

انساني نسل.

او اسماني رالیږدول شوي دین.

تر څو په څمکه باندې د عدالت په پیاوړو بنسټونو ودان دین له مخې دکرامت او شرافت، د عزت او وقار ځخه ډک د ژوند نوي مراحل ساه واخلي، دکومو ودانۍ بنسټونه چې هم دا وي، څښتن به یې د دنیا او اخرت په دواړو کورونو کې د سعادت په مالامال ژوند فائز وي.

غواړو چې د اقتصاد هغه نظام چې واضع یې الله پاک دی، واضع یې هغه ذات دی چې هره شپه او ورځ ورته په عاجزۍ سره نهایت زیات تندي او د کبر سرونه ټیټیږي، یو څو ځانګړتیاوې یې ذکر کړو، او یاد به کړو چې اسلامي اقتصادي نظام له مخکې ذکر شوو نظامونو سره په څه کې او څومره توپیر لري.

مالیت، شتمني، او دنیا د الله تعالی ده، دومره ده چې ځېنو خلکو ته یې پکې واک او اختیار ورکړی دی، ځېنې خپل مخلوق ته یې خپل دغه مالیت په دومره اندازه ورکړی دی چې د امتحان په صورت کې یې خپل نور ځېنو مخلوق ته لږ او یا هم بیخي ورکړی نه دی، د غنا او فقر په دواړومرحلو الله پاک خپل مخلوق ازموي چې ایا غني زما په لورینو شکر اوباسي؟ ایا زه ورته د غنا په حالتونو کې

وریاد یم؟ ایا په ورکړل شوي مالیت کې کوم فقیر نادار زما د رضا په خاطر کله هم یادوي؟ ایا د ایثار معني پکې شته؟

او فقیر او نادار په دې ازموي چې ایا کولای شي چې زما په لیکلي تقدیر ایمان ولري؟ ایا په دې کې د صبر ماده شته او که نه؟ د فقر په حالت کې ما او که د ځمکې نور معبودان یادوي؟

الله دې وکړي چې مونږ که د ژوند د اقتصاد په هر پړاو کې یو رب العلمین دې مونږ بریالي کړي، د اخرت له نعمتونو څخه دې الله پاک مونږ نه محروموي (امین).

ددې ټولو بنسټ دا قراني ایتونه دي:

١ ﴿وَلِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ﴾ [سورت نجم: ٣١]

ژباړه: په اسمانونو او ځمکه کې ټول هر څه د الله دي.

٢ ﴿وَأَنفِقُوا۟ مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ﴾ [سورت حدید: ٧]

ژباړه: او له هغې مال څخه نفقه وکړئ چې تاسو ته یې پکې واک درکړی دی.

٣ ﴿وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ ءَاتَىٰكُمْ﴾ [سورت نور: ٣٣]

ژباړه: د الله پاک له هغې مال څخه ورته څه ورکړئ کوم چې الله تاسو ته درکړی دی.

❁ اسلامي دین له عباداتو او معاملاتو څخه جوړ دی، او دواړه خواوې سره منځنې ټینګې اړیکې لري.

❁ د انسان له پیدائښت څخه موخه د الله پاک د پیدا کړې ځمکې د هغې ارشاداتو له مخې ودانول دي چې الله پاک په پوره تفصیل بیان کړي دي، هغه دیني ښوونې او اسماني ارشادات چې د ګرد مخلوق او په ځانګړي توګه د انسان د ښه ژوند او بهبود، د دنیا او اخرت د سعادت پوره ضمانت کوي، د ورانو ویجاړو فلسفو جوړې له منځه وړي او پرځای د تعمیر او بیا رغونې هغه بنسټونه ږدي چې انسانیت پکې په هرې معنا خوندي دی.

❁ په اسلامي چاپېریال کې هر مالدار به د ناداره خیال ساتي.

دا نه چې کوم فرد مال او دولت ولري، لګښت به یې هم پخپله مرضې وي، نا

بلکې څنګه چې اسلام د مال او دولت د لاس ته راوړنې لپاره اصول ایښې دي، په دغه څېر یې د استهلاک لپاره هم لارې ګودرې ښوولې دي، دا چې مقصد په ښه توګه واضحه شي غواړم چې ستاسو پام یو څو ایتونو ته راواړوم.

١ الله پاک فرمايي:

﴿أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ۝١ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ۝٢ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ﴾ [سورت ماعون: ١ – ٣]

ژباړه: ایا هغه سړي ته دې پام او غور شته چې د دین تکذیب کوي؟ همدغه سړی دی چې یتیم ته دیکې ورکوي او د یتیمانانو په خوراک او خواړو هیڅ کله هم تیزي نه کوي.

دغو قراني ایتونو هغه بخیل په دنیا عاشق انسان چې هرې خواته یواځې ځان ویني، خپل ډول ډال یې مقصد وي، انساني رویې څخه محرومه وي، په زړه کې سوز نه لري واقعاً چې:

**څه به احساس د بل د اوښکو وکړې چاچې په عمر کې ژړلي نه وي**

خو که دغسې انسان له ټولنې څخه ورک او پناه شي، د خلکو له ذهن څخه هم ووځي، له دعاګانو هم هیر وي، څنګه چې به ده د الله پاک مال خواړه او نور یې هیر وو، دغسې به یې د قبر تورتمونه او حشرات وخوري، دغه مال به یې د قیامت په ورځ اژدها مار جوړ شي او د بدن په نازکه اندام (د خولې په اوښکو) به یې چیچي، او دا یو اواز به ورکوي چې (أَنَا كُنْزُكَ أَنَا مَالُكَ) زه ستا خزانه کړي مال او شتمني یم.

٢ الله پاک مزید فرمايي:

﴿وَٱلَّذِينَ فِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ﴾ [سورت معارج: ٢٤]

ژباړه: د دوی په شتمنیو کې د غریبانانو او بې وسه خلکو پوره حق دی.

٣ او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: [مَنْ تَرَكَ كَلًّا فَإِلَيَّ وَرُبَّمَا قَالَ إِلَى اللهِ وَإِلَى رَسُولِهِ، وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِوَرَثَتِهِ] (سنن أبي داود: ٢٨٩٩ نمبر حديث).

ژباړه: له چا څخه چې واړه بچیان پاتې شي زه یې سرپرست یم، او کله نا کله به

يې داسې ويل: الله پاک او بيا د هغه رسول به يې ذمه وار وي، او که له چا څخه شتمني پاتې شوي وي نو د وارثانو حق يې دی.

❁ په مسلمان چاپېريال کې به د اقتصادي توازن او ټولنيز عدالت خاص خيال ساتلي شي.

د انسانيت اخلاقي او عقيدوي دا پرمختګ د الله پاک په دې قول مبني دی:

﴿كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْ﴾ [سورت حشر: ٧]

ژباړه: شتمني به د ټولنې د مالداره طبقه خلکو ترمنځ اوړي راوړي نه، او داسې به هم نه کيږي چې ټولنيزې ګټې وټې به يک يواځې د هغه خلکو ترمنځ توزيع کيږي چې شتمن وي.

همدغه نقطه نبي کريم صلی الله عليه وسلم داسې توضيح کړې ده چې [تُؤْخُذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ] (بخاري: ١٤٩٦ نمبر حديث).

ژباړه: له شتمنو څخه به يې زکات اخستل کيږي او په نادارو به يې تقسيميږي.

❁ په پردي ملکيت ځانګړي خيال ساتل چې ضايع نه شي.

ددې موخه هم دا ده چې که چا پردي مال ته له حق پرته لاسونه اوږده کړل نو اسلامي شريعت واضح کړي قانون په اساس به ورسره روا چلند کيږي، څوک هم په اسلام کې نه شي کولای چې په پردي مال خيټه واچوي، که دغه مال څوک غلا کړي لاس به ترې په دې خاطر غوڅيږي چې د هر مسلمان شتمني په کامله توګه تامين شي، خو که د خپل مال د حفاظت په لاره کې څوک ژوند له لاسه ورکړي اسلام ورته د شهيد مقام ورکړی دی، د لومړۍ نقطې اړوند نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: [كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ] (مسلم: ٢٥٦٤).

ژباړه: د هر مسلمان وينه، شتمني، او عزت په بل مسلمان باندي حرام دي.

او د دوهمې نقطې اړوند نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: [مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ] (بخاري: ٢٤٨٠).

ژباړه: د خپلې شتمنې په خوندي ساتلو کې که څوک ومړ شهيد دی.

# اسلامي اقتصادي نظام د نورو اقتصادي نظامونو په پرتله

**لومړي: د اقتصاد د نورو نظامونو په پرتله د اسلامي اقتصاد موخه:**

اسلامي اقتصادي نظام د اصلي اړتیاوو مړښت (پوره کول) ستره ځانګړنه ده، تر څو خلک په ښه او نېک ډول د ژوند پړاو پېل کړي، خپل ټول ژوند د هغه مقصد په لاس ته راوړنه کې تېر کړي چې د کومې موخې لپاره يې د شتون اراده شوېده، اسلامي اقتصادي نظام د انسان مادي او روحي دواړه اړخونه ته وده ورکولو کې انسان هڅوي، مادي پرمختګ ته يې په دې ایت هڅوي چې

﴿هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا﴾ [سورت هود: ٦١]

ژباړه: الله پاک تاسو له ځمکې پېدا کړئ او بیا يې پکې اباد هم کړئ.

او روح په اسلامي بڼه ودانولو ته د قران کریم دا یت لارښونه کوي چې

﴿وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ﴾ [سورت الذاريات: ٥٦]

ژباړه: ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړې مګر د خپل عبادت لپاره.

خو ولې که وګورو نو وضعي اقتصادي نظامونه یک یواځې په مادیاتو او د مالیت په ښنګه ډېرولو... غور لري، د روحاني اړخونه په عبادتونو ودان ساتلو څخه بیخي بې غوره دي، ځکه چې هغوی دا خپل اصلي مقصد نه بولي، او نه يې د کومې اړتیا په نوم پېژني.

**دوهم: د اقتصاد د نورو نظامونو په پرتله د اسلامي اقتصادي نظام تګلاره:**

اسلامي اقتصادي نظام په عقیدوي او اخلاقي بنسټ ولاړ دی، خلک په حلالو او پاکیزه خوارو، امانتداری، رښتیا، پاکوالي، له بل سره مرسته او لاس اړونې، مینه او وروروولی سره سره په دې عقیده روزي چې ټول معاملات –چې اقتصادي امور هم پکې داخل دي– د نیک نیت په بنیاد پرې د عبادت اجرونه او ثواب ورکړل کیږي، د اقتصاد د دې ودانی بنسټ د الله پاک دا قول دی

﴿ فَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلًا طَيِّبًا وَٱشۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ ﴾ [سورت النحل: ١١٤]

ژباړه: له هغې حلالو او خوندورو خواړو څخه چې الله پاک درته درکړي دي تاسو خوراک وکړئ، او د الله پاک د دې نعمت شکریه ادا کړئ.

خو ولې نور وضعي اقتصادي نظامونه دین او ژوند سره توپیروي، د خپلې خام خیالۍ له مخې ګرد عقیدوي او اخلاقي اړخونه د اقتصادي اړخ څخه مستقل بولي، هغوی د «دین د الله دی په هیواد کې ټول برخوال دي» عنوان لاندې قاعدې ته ځانونه تسلیم کړي دي، د اقتصاد او عقیدې سره د فصل په بنسټ هغوی دا قاعده « قیصر ته د قیصر او الله ته د الله حقونه ورکړه » په ټولنه کې زمزمه کوي، که څه هم دا او د دې په څېر نورې ډېرې قاعدې د فکرونو د تخریب لپاره ایښې دي خو ولې په اسلامي قاموس کې ټولې د کره کتنې په علمي بنسټ ولاړې څېړنې له مخې مردودې دي.

**درېیم: د اقتصاد د نورو نظامونو سره د اسلامي اقتصادي نظام تشریعي توپیرونه:**

اسلامي اقتصاد د خپلې اصلي سرچینې (قران، حدیث، او د غښتلي اسلامي فقهاؤ هغه اجتهادات چې حق ته پکې رسېدلي وي) څخه ځینې بنسټیز قواعد استنباط کړي دي، دغه مستنبط شوې قواعد دومره له خېر ښېګڼې نه ډک دي چې د اسلامي مبین شریعت له هېڅ مقصدونو سره تضاد نه لري، نا بلکې دغه قواعد په دې بنا دي چې اسلامي شریعت ایښي مقاصدو (د دین، عقل، نفس، ابرو، او شتمنې) ساتلو ته د عملي بڼه ورکولو بشپړه هڅونه کوي، له دې کبله اسلامي اقتصادي نظام بیان کړي قواعدو کې د واقعیت او سرخندنې نښې نښانې لیدل کیږي، په تفاصیلو او نورو اجراءاتو، اسلوبونو، او وسائلو کې یې اسانتیاوې ډېرې ښې لیدل کیږي.

خو ولې له بل اړخه وضعي اقتصادي نظامونه د انسانانو د تجربو په بنسټ ولاړ دي چې خطا او رسا دواړه اړخونه لري، کله کله دغه اقتصادي بنسټونه د حکومتي ادارو له خوا د عملي پلان په جریان کې بدلونونه هم خوري، له همدې ځایه ویلای شو چې د وضعي اقتصادونو بنسټیز قواعد ثبوت او دوام نه لري، بلکې هرومرو

ورته بدلون لاسونه غځوي، یواځې دا نه بلکې ناقص هم دي او منځنۍ تضادات هم لري، دا په دې خاطر چې واضعین یې انسانان دي، څنګه چې انسان د خپل ځان د بچاو لپاره پوره تصامیم نه شي نیولی، د تقدیر پرېکړې نه شي ردولې، دغه څېر یې وضع کړي قوانین هم ناقص او هم به پکې هرومرو تغیر راځي.

## خلورم: د اقتصاد د نورو نظامونو سره د اسلامي اقتصادي نظام د وسائلو او اسلوب توپیر:

د اسلامي اقتصاد پوهان (فقهاء) د قواعدو د تطبیق لپاره د اسلوب او وسائلو هغه ټولګې څخه استفادې کوي چې تر ټو په اسانه خپلې موخې لاس ته راوړي، هغه هم په دې شرط چې د اسلام ضد اسلوب او وسائل به نه وي، خو ولې اسلام یې له دې څخه نه رابندوي چې له وخت سره سمون خوړونکي قواعد چې اسلام یې تاییدوي استفاده به ترې نه کوي، نا بلکې نور یې هم ورته هڅولي دي چې ځیرکتیا، چست چالاکي او خیر پلټل د مسلمان ورکه ده چرته چې په مخه ورشي وادې اخلي.

له دې امله مونږ وینو چې داسې وسائل شته چې په اسلامي او راسمالي او اشتراکي درېواړو نظامونو کې زیر استعمال دي، توپیر یواځې همدومره دی چې په اسلامي نظام کې یې استعمال هله روا دي چې غایه، اسلوبونه، او وسائل مشروع وي، خو ولې نور نړیوال اقتصادي نظامونه له دې څخه سترګې پټوي او خپلې دنیوي ګټې سنجوي او بس.

## پنځم: د اقتصاد د نورو نظامونو سره د اسلامي اقتصادي په بنسټونو کې توپیرونه:

وړاندې مو ذکر کړل چې اسلامي اقتصادي نظام د غریب غربه سره په مرسته او کومک ولاړ دی، لوی بنسټ یې دا ګڼلی شي چې اسلامي نظام د زکات نه ورکول، د سود په راکړه ورکړه، او نور ګرد هغه معاملات چې په باطله بڼه پرې د خلکو شتمني لاس ته راوړل کیږي غندلي دي، بلکې اسلامي نظام ټولنیزې بنیګړې په فردي ګټو مخکې کړېدي، دغه پورتنې شیان اسلام ځکه حرام بللي دي چې د

انسانیت معالم پکې بې نوره کیږي، ددغې ناوړه کارونو په کولو سره انسان له اسلام څخه هم وځي چې ددې ناحي له کبله ابوبکر رضي الله عنه د مانعي الزکاة سره داسې خونړیزه معرکه وپالـــه چې د یو کال په اوږدو کې یې په جزیرة العرب کې داسې څوک ونه لید چې د زکات له ورکولو څخه یې انکار کو.

خو که وګورو د انسانیت تاییدونکي دغه قواعد د نړۍ په سطحه د اقتصاد په راسمالي او اشتراکي نظام کې نشته، او که شته هم خو د ځایونو په اختلاف سره یې قوانین هم اختلاف لري، د بېلګې په توګه دواړه وضعي اقتصادي نظامونه له خپلو افرادو څخه په مباشر یا غیر مباشر ډول ټیکسونه راټولوي، د ټیکسونو دا نظام بډایي طبقه دې ته مجبوروي چې له نورو خلکو څخه حکومت ته د ټیکس په مقدار مالیت د غیر مشروعو طریقو له لارې واخلي، دا ټول هغه څه دي چې له اسلام پرته یې د وضعي اقتصادي پوهان هم غندي او هم پرې اقرار کوي.

**شپږم: د اقتصاد د نورو نظامونو سره د اسلامي اقتصاد په بازاري حساب کې توپیرونه:**

اسلامي اقتصادي نظام دومره پاک، سپېڅلي او محترم بازاري قوانین لري چې د دوکې، جهالت، تدلیس، قماربازۍ، احتکار، فرصتونه غلا کول، او د پلور او پېر ګرد حرام ډولونه چې د پردو خلکو شتمني پرې له کومې تیرولي شي چې لږ وروسته به یې تفصیل راشي په بشپړه توګه حرام بللي دي.

که کله هم بازار ته داسې محرمات لاسونه اوږده کړي، خلک دحرام خورۍ په نشه مست شي، خلکو د خولو په زور ګټلی مال بازار کې د حرامې لارې په ډېره اسانۍ په نهایت زیات ظلم د بل په جېب کې واچول شي، د پلور او پېر شرعي بڼه په هواپرستۍ بدله شي، اسلام حکومت ته جواز ورکړی چې ددغسې ناورین پرمختګ شنډ کړي، فرد او ټولنې ته متوجه خطرات بې اثره کړي، د اصلاح لپاره چې څنګه ورته ښه ښکاري تعزیري سزاګانې ورکړي، په بدل کې باید د خلکو نظریات اسلام پلوه کړي، دا ورزده کړي چې د معاملاتو ثوابونه مو مه خاورې ایرې کوئ، داسې نور.

خو که وګورو اشتراکي اقتصادي نظام د توکو د خرڅلاو او په نرخې بڼه ولاړ

دی، د نرخنامې او تولید حقوق پکې فرد ته نه دي حاصل، او په ډېر یقین سره ویلای شو چې دا او دېته ورته نور منفي لاملونه د انسان نوښتونه او ابتکارات زخمي کوي.

که څه هم دا ګټه لري چې د اقتصادي ځواکمنتیا او د تولیداتو د تنوع له بهیره ننګه کوي، او د ازاد بازار مثبتې خواوې هم ساتي، هغه خلک چې راسمالي نظام کې د بازار ټول ځواک په ځان کې انحصار بولي اشتراکي نظام یې کړی ماتوي او د ټولنې په ګټه مناسب او قانوني تدبیرونه نیسي.

له بل پلوه راسمالي اقتصادي نظام د بازاري کړو وړو ټول حریت فرد ته ورکړی دی، فرد بویه چې تولید او لګښت څنګه اداره کوي، کله هم ورپکې حکومت مباشرې لاس وهنې نه شي کولای که څه هم د غیر مستقیمې لارې څخه د بازار په پروسو (تعامل) کې مداخله کوي، د بېلګې په توګه: دولت کولی شي ځینې دولتي محصولات بازار ته وړاندې کړي، په سیالیو کې ونډه ولري، یا نوي قوانین جوړ او په عملي بڼه یې وښايي، لنډه دا چې په ازاد بازار کې هر څوک خپلې شخصي ګټې لټولی شي، بڅپله ازاده اراده خپل تصامیم ونیسي، د ازادو قراردادونو له لارې د قانون په چوکاټ کې له نورو سره سیالیو ته داخل شي، هر څوک د خپلې مرضۍ له مخې خپل تولیدات بازار ته وړاندې کولی شي او هر څوک د خپلې مرضۍ سره سم بازاري شیان په بیه اخستلې شي، په دې ډول بازار کې د پلور او پیرو په مهال راسمالي اقتصادي نظام د انسان د عقیدوي او اخلاقي اړخونو څخه بې غوره وي، په داسې بازارونو کې کله هم اقتصاد په عقیده نه وې بنا چې د حرامو او حلالو تمییز پرې وکولای شي، او نه هم اخلاقي جانب یې د دغسې ناخوالو څخه رابندوي چې ایا د انسان په صفت د پلور دغه زیاتي له ماسره ارزي؟

### اووم: د ملکیت له نګاه نه د اسلامي نظام سره د نورو اقتصادي نظامونو توپیرونه:

په اسلامي اقتصادي نظام کې ځانګړی ملکیت لومړی اصل دی، پر هیواد حق جوړېږي چې ددغو خصوصي ملکیتونو د ساتنې لپاره ټول ځواک په کار واچوي، د خصوصي ملکیتونو د زیادت، د ساتنې، د پرمختګ او نور اړوند هغه چارې چې

اسلام د دولت وجیبه ګرځولې ده ورته باید خاصه پاملرنه وکړي، خو که دولت په دغسې ورسپارتل شوو دندو کې پاتې راشي عندالله او عندالناس به مسؤل وي.

خو هیواد پر افرادو هم حقوق لري چې د ژوند په هرې ګړۍ کې به فرد دغې حقوقو ته لیوال وي، ورته به ژمن وي چې خیانت به پکې نه کوم، خو که فرد له دغې حقوقو څخه سترګې پټې کړي، خپل مسیر ونه پېژني، بیا فرد عندالله او عندالناس مسؤل دی، دولت کولای شي چې د فرد اړوند خپل تصمیم اعلان کړي، هغه حقوق چې اسلام په افرادو هیواد ته ورکړي دي له جملې څخه يې: زکات ورکول، خیرات او صدقې ورکول، هغه غېر مسلم چې د مسلمانانو په قلمرو کې اووسي ټیکس (جزیه) ورکول او... داسې نور.

که نفوسو ته حسب ضرورت واردات بسنه ونه کړای شي دولت حق لري چې د اړتیا په مهال د بډایانو په شتمنۍ پانګونې وکړي.

# اقتصادي ستونزې د اسلام له نظره

د اقتصاد د راسمالي نظام له اند چې اقتصادي ستونزې له طبيعي مواردو څخه راولاړېږي، ورسره د اسلام اقتصادي نظام کلک مخالفت لري، د اسلام دغه نظام د اشتراکي نظام سره هم کلک ضد دی چې د تولنیز تولید او د افرادو ترمنځ د شتمنۍ د ویشلو پلان کې رامنځ ته شوې تناقض د اقتصادي ستونزو ستر لامل بولي.

نا بلکې اسلامي اقتصادي نظام اقتصادي ستونزه خپله انسان بولي، او همدې نقطې ته قران کریم په ځلانده اسلوب اشاره کړې ده، الله پاک فرمايي:

﴿وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ ٱلْإِنسَـٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ﴾ [سورت ابراهیم: ٣٤]

ژباړه: ټول هغه څه چې تاسو غوښتلي دي الله درته درکړي دي، خو که د الله تعالی پېرزوینې وشمارئ وبه يې نه شئ شمارلی، انسان پخپله ډېر ظالم او کافر دی.

دا ایت ښکاره دلالت کوي چې د الله پېرزوینې ګڼ شمېر دي، د دغسې سترو او ستونزو د منځ ته راتګ لامل انسان پخپله دی، کله چې په خیټه موړ او بډا انسان د الله د نعمتونو ناشکري وکړي، ځان احسان شناس جوړ نه کړي، په کبر غرور کې دومره وده وکړي چې ناداره انسان ورته انسان نه بلکې له حیوان هم کم ښکاري، دا يې هم په لاشعور کې نه وي که د نیوي ستونزو ونیو څوک به يې ترې خلاصوي؟

د دغسې انسان له کبر جبروت څخه اقتصادي ستونزې راولاړې شي، بدبختیانې زیاتې شي، فقراو فاقت دومره وده وکړي چې ساری نه لري.

په اقتصادي ډګر کې انساني ظلم او زیاتی د شتمنۍ د ویشلو په پلان کې هم منځ ته راځي، دا ډول ظلم هله کېدای شي چې د مالیت راکړه درکړه (تعامل)د بډایانو ترمنځ منحصره شي، د پلور او پېرو ټول لین دین د سود په بنسټ ودرېږي،

د خلکو اړتیا وړ شیان احتکار شي، خپله به فقر او فاقت په خپلو ازغنو لاسونو د معصومو خلکو ګریوانونه دوه پړقه کوي، د هغوی د بدن غړي به یو په بل پسې تدریجا اسارت ته ورکوي، له کوره تر ګوره ورته پل پل د غم وي، په ټوله زندګۍ کې په هوسا تنفس وانخلي.

❁ د خدای پاک د پېرزوینو څخه ناشکري په دې کې نغښتل شوې ده چې له طبیعي استثمار څخه له ګټې اخستلو انسان ناخبره پاتې شي، یواځې د ځمکې څخه په استفاده ځان منحصر وبولي، له کار کړنې، له تولید او ایجاد له نړۍ څخه لرې پاتې شي.

دا خبرې دېته هڅونه ده چې انسان سره نه ارزي چې عقلي ځواک د کوچنیانو په څېر په بې هوده مشغولتیا تبدیل کړي، داسې مشغولتیا چې یواځې دا نه بلکې ټولنې ته ترې نورې ډېرې ستړیاوې راولاړیږي.

### ❁ اقتصادي ستونزې باید څنګه وکوچیږي؟

❁ اسلامي دین دومره محترم دین دی چې د نوم انسان (مسلمان او کافر) انسانیت پکې خوندي دی، کرامتونه یې نه تجریحوي، تر څو انسان د الله په حقوقو، د انسانانو په حقوقو، د حیواناتو په حقوقو بلکې د ګرد مخلوق په حقوقو تېری نه وي کړی، خو دا چې انسان د الله پاک په وحدانیت لوبې ملنډې ووهي، د نور مخلوق اړتیاوې ورته هېڅ نه ښکاري، بیا ورته مونږ نه بلکې الله ورته (حیوان، خر، سپی، شادوګان، خنزیران او...) ویلي دي، دا هله چې انسان کله انساني اړې پایمال کړي، د الله ممنوعه علاقه (ټول محرمات) بې معنا وګڼي.

د اسلامي دین له ګڼ شمېر ګټو او فایدو څخه یوه فایده دا ده چې د اقتصادي ستونزې د مخنیوې لپاره یې خلک په اسانو لارو ګودرو پوهولي دي، الله دې وکړي چې مسلمانان ورته ځېر شي، زه یې هم په لنډه توګه یادونه کول غواړم:

### ❁ لومړي: د شتمنې په توزیع کې ظلم نه کول:

د مالیت اوثروت په توزیع کې که هغه دریځ غوره کړی شي کوم چې اسلام ښوولی دی، هیڅکله به هم د خلکو تر منځ په هېڅ ټولنه کې اقتصادي ستونزې راولاړې نه شي، د اسلام دغه رسم کړی پلان درې اړخونه لري:

**کار، کسب او صنعت:**

د اسلام په رسم کړي پلان کې کارو کسب ارزښتناک او د ودې ستر لامل دی، په کاروکسب انسان د ډېر څه مالک جوړېدای شي، که د اسلام دې نظر ته لږ ځېر شو راته به جوته شي چې کار او صنعت په اسلام کې د مادې د ملکیت سبب دی خو د مادې د قیمت سبب نه دی لکه څنګه چې یې اشتراکي نظام دعوه لري.

**اړتیا: د اړتیاو له مخې په ټولنه کې ګرد افراد درې ډوله تشکیلوي:**

لومړي ډول: هغه خلک چې خپلې اړتیاوې د الله په توفیق او بیا د خپلو متو په زور حل او فصل کوي.

دوهم ډول: هغه خلک چې له نور هر څه پرته خپلې هغه اړتیاوې چې مړښت (په سمه توګه یې انجامول) ورته ډېر زیات اړین ښکاري په کولو یې بوخت وي، معنی دا ده چې دومره څه کوي چې د ده حوائج پرې رفعه شي نور غم غرض نه لري.

دریم ډول: هغه خلک چې د بدن د غړو د بې توانۍ او کمزورۍ له کبله، یا د عقلي خامۍ له کبله نه خو په دې توانېدای شي چې د ژوند اړوند اړتیاوې ومړوي او نه په دې توانېدای شي چې په ژوندۍ بڼه ټول هغه څه وکړي چې د کمال څښتن پرې جوړ شي، لنډه دا چې د دې ډول خلکو ژوند په نورو پسې تړل شوی دی.

لومړی ډول خلک چونکه په الله پاک له باور لرلو وروسته پخپل کاروکسب باور لري، د خپل ملکیت په بنسټ چې د توزیع اوویش مهم اړخ دی د خپلې مرضۍ او د زړه په خوشحالۍ کولای شي هغه اندازه چې اسلامي شریعت یې په ورکړې مجبور کړی دی نفقه وکړي، که څه یې هم مالیت ډېر دی، خو دا طبقه خلک د خپلې شتمنۍ زکاتونه دولت ته ورکوي خو له دولت څخه مالي منافع نه غواړي، ځکه چې اړتیا ورته نه لري.

دوهم ډول خلک که څه هم ایله بیله خپلې اړتیاوې د توان په اندازه له ځانه شړي، خپل ورځني حوائج هم مړوي، خو ولې له دې څخه ناتوانه دي چې د نورو زخمونه ته مرهم شي، د نورو سره مالي مرستې وکړي، د زړه له درد او خولې د اف اف نه خواران نور څه نه لري، د اسلامي حکم له مخې په دولت واجب دي چې ددې

ډول خلکو د اقتصادي وضع د ښه کېدو لپاره ګټورې لارې وسنجوي، اړتیاوې یې پوره کړي، د کاروکسب زمینه ورته برابره کړي، حالات داسې شرائطو ته برابر کړي چې کسبګر پکې وده وکړي، صنعت پکې پرمختګ وکړي، تر څو دا ډول افراد وکولای شي د کمال ښبنتنان شي او ددې جوګه شي چې د بل درد له دوا شي.

دریم ډول خلک داسې دي چې د اړتیاو او کمالي دواړو امورو له پلوه په دولت بار دي، هېواد باید د اسلامي نظریې له مخې د دې ډول خلکو د اړتیاو لپاره ګردې چارې وسنجوي، حوائج یې پوره کړي، او د حوائجو څخه یې د کار کسب مېدان ته وباسي.

هیواد کولای شي چې د دې ډول خلکو د اړتیا وړ ستونزې د حل او فصل لپاره له بډایانو څخه زکاتونو، بیت المال او هغه ټېکسونه چې اسلام ورته د حلیت په چوکاټ کې ځای ورکړی دی -لږ وروسته یې په تفصیلي توګه بیان راروان دی- څخه کار واخلي.

له دې پرته نور ګڼ اسلامي نصوص هم شته چې په غریبو ناداره خلکو د مالي نفقې هڅونه کوي، لکه الله پاک فرمایي:

﴿وَفِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ﴾ [سورت ذاریات: ۱۹]

ژباړه: او د مالداره مسلمانانو په شتمنیو کې د ناداره او بې برخو خلکو حقونه هم شته.

د بېلګې په توګه د بډا په مال کې زکات د ناداره خلکو برخه ده.

**ځانګړي ملکیتونه: که څه هم ضروري نه ده خو ځانګړي ملکیتونه د توزیع دوهم پړاو دی.**

د ځانګړې مالیې پانګونې او د تجارتي نشاطاتو له مخې ورته مزیده وده ورکول ټول هغه څه دي چې اسلام ورته د ځانګړي شروطو له مخې اجازه ورکړېده، او دغه شروط هم په داسې کیفیت دي چې د ټولنیز عدالت سره هېڅ راز ضد او مخالفت نه لري.

### د ټیکسونو شرعي حیثیت:

ټیکس هغه مالي رقم ته ویل کیږي چې دولت (حکومت) یې له رعیت څخه په بېلابېل ډول نومونو اخلي، داسې هم کېدای شي چې که د غه معلوم رعیت حکومت ته په خپل محدود وخت کې ټېکس ورنه کړي د خلاف ورزۍ په صورت کې قانوني اجراءات کوي.

په دې خاطر چې د ټیکسونو حکم د اسلامي مبین دین له مخې ښه پسې وځلیږي، هر چا ته یې د لمر په څېر حکم په بشپړه توګه وړانګین شي په راروانو نقطو کې یې ستاسو محترم حضور ته د توان په اندازه شرح او تفصیل ړدو:

مکس: که لومړی د مکس لغوي او اصطلاحي معنی ته سر ورښکاره کړو بده به نه وي، تر څو په اسانه وکولای شو د مکس شرعي حیثیت وپېژنو.

مکس په لغت کې: که د لغوي معنی لپاره مونږ (معجم مقاييس اللغة: ٥/٢٧٦، الصحاح: ٣/٩٧٩، لسان العرب د (مَكَسَ) ګړه، قاموس المحيط: ٧٤٢، المصباح المنير: ٢/٥٧٧) ته مراجعه وکړو، وبه ګورو چې د (مکس) معنی: د ظلم او نقصان ده، مکس د ټیکس یو ډول دی چې له خلکو څخه اخستل کیږي، په دې بنسټ راغونډول د مکس حقیقي معنی ده.

مکس په اصطلاح کې: د مکس اصطلاحي معنی له لغوي معنی څخه هیڅ توپیر نه خوري، ځکه په اصطلاح کې د مکس اطلاق د ټیکس په ټولو ډولونو کېدای شي.

د مکس شرعي حکم: مکس د قراني ایتونو له مخې، د نبوي حدیثونو په رڼا کې، د اثر او اجماع له پلوه حرام دي.

### د مکس په حراموالي قراني ایتونه:

د قران کریم ایتونه په عامه توګه داسې راغلي دي چې په عدل انصاف امر او له ظلم زیاتي څخه د منعې ارشادات کوي، په حرامه توګه د خلکو مالونه په یوه او بله بانه خوړل د تحریم په الفاظو غندي، او په دې کې شک نشته چې (مکس) ظلم او په ناحقه توګه د پردو مال خوړل دي، ځینې هغه ایتونه چې په صراحت سره یې دا پلو څېړلی دی نموني یې دا دي:

۱ ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُ بِٱلۡعَدۡلِ وَٱلۡإِحۡسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَيَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡبَغۡيِۚ يَعِظُكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ﴾ [سورت نحل: ۹۰]

ژباړه: الله پاک تاسو ته په عدل او نورو سره په بهترې رویې کولو، خپلوانو سره په مرسته کولو او له بدو او ناوړه کارونو څخه په رابندېدو، په نورو خلکو باندې د ظلم زیاتي کولو نه د ژغورنې امر کوي، هغه درته پند درکوي په دې خاطر چې تاسو نصیحت واخلئ.

شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله وايي: دې ایت ټول واجبات او د الله پاک ټول محرمات راغونډ کړي دي، تر هغه د ټولواک حکمراني نه شي دروسته کېداي چې د دې ایت په مدلولاتو يې عمل نه وي کړي، ځکه چې د شرعیت له نګاه نه په اقوالو، اعمالو او اخلاقو کې عدل مطلوب دی.

او احسان –د خلکو سره ښه رویه کول- د خلکو ګردو چارو ته شمول لري، په هغوی باندې مشري کولو ته هم شامل دی، له همدې کبله نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې کله معاذ بن جبل رضي الله عنه د زکات او صدقاتو د راغونډولو لپاره واستو، ورته يې امر وکړ چې [وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَ بَيْنَ اللهِ حِجَابٌ] (صحیح البخاري: ۱٤۹۶).

ژباړه: د مظلوم له ښېراه څخه ځان وساته، ځکه چې د هغه او د الله ترمنځ هېڅ پرده نشته.

۲ بل ځای کې الله پاک فرمايي: ﴿وَلَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ وَتُدۡلُواْ بِهَآ إِلَى ٱلۡحُكَّامِ لِتَأۡكُلُواْ فَرِيقٗا مِّنۡ أَمۡوَٰلِ ٱلنَّاسِ بِٱلۡإِثۡمِ وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ﴾ [سورت بقرة: ۱۸۸]

ژباړه: او تاسو خپل منځ کې د خلکو شتمني په باطله (حرامه) توګه مه خورئ، او مه دغه مالونه حاکمانو ته استوئ چې د نورو خلکو د شتمني پرې په ناروا او د ګناه په طریقه وخورئ، سره له دې چې تاسو ښه پوهېږئ.

په دې ایت کې الله پاک په ناحقه توګه د خلکو د شتمنۍ له خوړلو څخه منعه وفرمایله، او دا منع ټول مالي پرېکړو ته شمول لري لکه: پلور او پېر، اجاره، ګانړه کول او...، په دې منع کې د خلکو مالونه به غصب او اختطاف خوړل، په غلا او حتي د خیانت ګرد ډولونه شمول لري چې یو هم ورڅخه (مکس) دی.

۞ ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا﴾ [سورت نساء: ۲۹]

ای مومنانو! تاسو پخپل منځ کې سره خپل مالونه په حرامه توګه مه خورئ، مګر دا چې ورکړه درکړه تجارت او یا هم د رضا له مخې وي او خپل ځانونه مو مه وژنئ، الله په تاسو د ډېر رحم والا دی.

په مذکوره ایت کریمه کې الله پاک د پردو خلکو شتمني د حرام کار و کسب د ټولو ډولونو څخه په ځان ژغورنې ټول بندګان مخاطب کړي دي، لکه قمار بازي، سود خوري او داسې نور... چې یو ډول یې (مکس) دی.

خو که د خلکو شتمني د تجارتونو او د حرامو موانعو څخه خالي پرېکړو باندې سره تبادله شي، هله په دې شرط یې خوړل روا دي چې د دواړو خواو رضا پکې وي، او په دې کې شک نشته چې د (مکس) اخستنه له رضا پرته په زور جبر اخستل کیږي.

۞ ﴿إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَظۡلِمُونَ ٱلنَّاسَ وَيَبۡغُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ﴾ [سورت الشوری: ٤٢]

ژباړه: ګناه د هغه چا کیږي چې په خلکو زور جبر کوي او په ځمکه کې غیر حق بغاوت او سرکشي کوي، دردناک عذاب به د دغې خلکو لپاره وي.

امام الطبري رحمه الله د دې ایت لاندې وايي: د ډېرو علماوو په قول: په نفسونو او مالونو کې زیاتی کوي، او له شک پرته (مکس) په دې ایت کې داخل دی.

حافظ ذهبي په (الکبائر: ۱۱۵) کې وايي: ټیکس (مکس) اخستونکي د الله په دې قول کې داخل دي او د ظالمانو لوی مرستندویه هغه څوک دي چې ټیکسونه راټولوي، ځکه دوی هغه څه اخلي چې حق یې نه جوړیږي او هغه چا ته یې ورکوي چې حق یې نه جوړیږي.

نور هم ډېر زیات قراني ایتونه شته چې (مکس) حرام بولي او په ګوته کوي چې هیڅکله پکې خیر او برکت نشته.

**دوهم: د (مکس) په حراموالي نبوي حدیثونه:**

د (مکس) په حرمت نبوي حدیثونه دوه ډوله دي: عام دلیلونه، او خاص دلیلونه.

عام دلائل هغه دي چې د پردو خلکو شمتني په ناحقه توګه خوړل کلک غندي او حرام یې بولي، کولای شو چې عامو ځینو دلائلو ته لنډه اشاره وکړو.

١ ابوبکرة رضي الله عنه روایت کوي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مونږ ته د لوي اختر په روځ خطبه راکړه. -په خطبه کې دي-: تر هغه ګړی چې رب سره مو ملاقات وشي، ستاسو وینې، ستاسو شتمنی په یو بل داسې حرامې دي لکه دا ورځ، دا میاشت او دا ښار چې دربانديې حرام دی، ایا ما درته اسلام تبلیغ کړ؟ ټولو وویل: هو. هغه وویل: ای الله ته پرې ګواه شه، حاضر دې زما خبرې غائب ته ورسوي، ډېر وخت له اوریدونکي نه دعوت شوی په خبره ښه پوهیږي، زما له مړینې وروسته کافران مه جوړیږئ چې د یو بل څټونه ووهئ. (صحیح البخاري: ٦٧).

٢ د ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: [كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ] (صحیح مسلم: ٦٧٠٦).

په مسلمان باندې د مسلمان وینه، دمسلمان شتمني او د مسلمان ابرو حرامه ده.

٣ د ابو حمید الساعدي رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: [لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ أَنْ يَأْخُذَ عَصَا أَخِيهِ بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ] (صحیح ابن حبان: ٥٩٧٨).

ژباړه: د چا لپاره جائز نه دي چې د خپل ورور لښته [چوکه] هم د هغه د زړه له خوشحالۍ پرته واخلي.

په دواړو حدیثونو کې دېته اشاره ده چې د مسلمان مال او شتمني له اجازې او د زړه د خوشحالۍ پرته په بل چا حرامه ده، او په دې کې شک نشته چې (مکس) په جبر زور اخستل کیږي.

باقي هغه نبوي حدیث چې د(مکس) اړوند په ځانګړي توګه غړیدلي دي، کولای شو له جملې څخه یې ځینې نمونې ذکر کړو:

۴ د غامدي مشهور حدیث دی چې نبي صلی الله علیه وسلم ته راغله، او ورته یې وویل: ما پاکه کړه... په حدیث کې دي: [مَهْلًا يَا خَالِدُ، فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ تَابَهَا صَاحِبُ مَكْسٍ لَغُفِرَ لَهُ] (صحیح مسلم: ۱۶۹۵).

ژباړه: خالده! قلار شه! په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما نفس یې په لاس کې دی، دې ښځې داسې توبه ویستلې ده که د (مکس) والا یې وباسي هم به ورته ګناه بخشش شي.

امام نووي د مسلم په شرح (۲۰۳/۱۱) کې وايي: حدیث په دې دلالت کوي چې (مکس) د ګناه بدترین ډول دی.

که څه هم له دې څخه نور حدیثونه هم شتون لري، خو ولې ضعف څخه خالي نه دي له دې کبله مو قابل ذکر ونه ګڼل، خو په مجموعه توګه ښايي چې مکس حرام دی، او له حرامو څخه ګڼل په ځان ژغورنه کې وي، په هغې باندې بوختېدلو کې نه وي.

## دریم: د (مکس) په حراموالي شرعي اثار:

عمر بن عبدالعزیز د مدینې ګورنر ته لیک واستو چې (مکسونه) وانه اخلې، دا مکس نه بلکې هغه بخس دی چې الله یې په قراني ایت کې یادونه کړېده:

﴿وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ﴾ [سورت أعراف: ۸۵]

ژباړه: له خلکو سره په ورکړه درکړه کې نقصانونه مه کوئ.

خو که زکات درته چا درکړو ترې قبول یې کړه، او که زکات درته چا در نه کړ الله به ورسره حساب کتاب وکړي، والسلام.

زمونږ د ژوند د سعادت پرمختګ لپاره دغه ایتونه، نبوي صحیح حدیثونه او د عمر بن عبدالعزیز صحیح اثر بسنه کوي، که د ژوند په هر پړاو کې مو په الله توکل وکړ، الله به مو ټولې چارې سمې او د ترقۍ په لور رهۍ کړي.

او د سلفو صالحینو ټولو علماوو په دې اجماع کړېده چې مکس او له مسلمان څخه ټیکسونه اخستل حرام دي، کولای شئ چې د مزیدو معلوماتو لپاره (اعلام

الموقعين: ۳۹/۱، المبسوط: ۱۹۹/۲، المدونة: ۳۱۰/۲، المجموع: ۱٦۲/۳، مطالب أولي النهى: ٦۱۲/۱، الانصاف: ۱۲۲/٦) ته مراجعه وکړئ.

**د (مکس) ډولونه:**

مکس ډېر ډولونه لري، مونږ کولای شو د مکس هغه ډولونه ذکر کړو چې فقهاء کرامو پخپلو علمي ارزښتناکو لیکونو کې یاد کړیدي:

د مکس یو ډول دا دی چې د جاهلیت په زمانه کې به په بازارونو کې له پلورونکي څخه مالي عوض اخستل کېده.

بل ډول یې دا دی چې د زکات په راغونډولو ګمارل شوي یې له زکات څخه وروسته ځان لپاره مالیه ټوله کړي.

دا هم د مکس (ټیکس) بل ډول دی چې په لارو تیریدونکو سوداګرو څخه د سر په سر معلومه اندازه مالي رقم واخستل شي.

د فقهاوو ذکر کړو ډولونو څخه بل ډول مکس دا هم دی چې ګورنران او ټولواکان یې د زکات او صدقې په نوم د عشر په صفت اخلي.

هغه ټیکسونه چې له تجارانو او یا له عامو خلکو څخه له شرعي حق پرته اخستل کیږي ورته مکس ویلي شي.

د حقوقو د خپلولو لپاره، په ګواهۍ او سفارشونو کې مالي رقم چا ته ورکول هم په مکس کې داخل دي.

دا ټول د ټیکس ډولونه حرام او ناروا دي، که چا واخستل په صدقه کولو ترې ثواب نشته، میلمه پالل، د خلکو په حوائجو کې یې کله ناکله نفقه کول یا نور د خیر ښېګړو په لارو کې مصرفولو پرې هیڅ ثواب نه ورکول کیږي، ځکه ټیکسونه حرام دي، او په حرامو ثواب نه ګټل کیږي.

که څوک د دې اړوندمزید تفصیلات غواړي، کولای شي چې لاندیني مراجعو ته سرښکاره کړي:

(الأموال) د قاسم بن سلام لیکنه، (غریب الحدیث) د خطابي لیکنه، (المفهم) د ابوالعباس القرطبي لیکنه، (نیل الأوطار) د شوکاني لیکنه.

د (مکس) په نوم اوسمهاله صورت چې ښاروالۍ یې په تجارانو او د پلور او پېر په شغل بوخت وګړو کوم مالي رقم ټیکس ږدي، یا یې په مارکیټونو او په میلو ږدي، په حرامو ټیکسونو کې نه داخلیږي، که څه هم خلک دغې محدود مبلغ ته د مکس (ټیکس) نوم اخلي، ځکه عبرت نوم او لفظ ته نه ورکړل کیږي، عبرت او باور د اشیاؤ مقاصدو او حقائقو ته ورکړل کیږي، هغه مارکیټونه او د خرڅلاو نور ځایونه چې ورځني یا میاشتني ټیکس پرې کېښودل کیږي د ښاروالۍ ملیکتونه دي، او ښاروالۍ وغوښتل چې خپل دغه ځایونه په اجاره ورکړي، علامة عبدالحمید بن بادیس څخه وپوښتل شول چې ایا بازاري مارکیټونو، منډهي ته د پلور اوپیر توکو، یا د رمو له څښتنانو څخه مالي عوض اخستل د ټیکس په حرامو ډولونو کې داخلیږي؟ هغه پوښتنه وځوابوله چې:

هر څوک پوهیږي چې بازارونو سرکاري ملکیتونه دي، که څه هم عوام پکې حقوق لري خو که ووایو چې واک یې د ښاروالۍ سره دی او د محدود مالي رقم په بدل کې یې په نیټه ورکوي، نو په کرایه ورکول یې جواز لري، ښاروالۍ کولای شي چې دغې میلې یا مارکیټ ته د راوړل شوو توکو په بدل کې مالي عوض واخلي.

### ❁ څلورم: د زکات په نیت ټیکس ورکول:

د زکات په نیت ټیکسونه ورکول، یا ټیکسونه ورکول ځان ته په زکات شمېرلو کې علماوو سره مختلف دي، جمهور حنفي، مالکي، او شافعي علماء وایي چې ټیکسونه ځان ته په زکات کې نه شي حسابولي، او په سلفو کې دا د عبدالله بن عمر رضي الله عنه، طاووس، مجاهد، ضحاک، او د امام احمد نه په یو روایت کې نقل دي، او دا مذهب شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله هم تایید کړی دی.

د فقهاؤ ځینې نور علماء وایي چې ټیکسونه ځان ته په زکات کې حسابولی شي، په سلفو کې دا مذهب د انس بن مالک رضي الله عنه، د حسن بصري، أبو جعفر محمد بن علي، عطاء، ابراهیم النخعي، او د امام احمد نه یې هم یو روایت راغلي دي.

خو ولې د یو څو وجوهاتو له مخې وریکې صحیح مذهب په دواړو کې لومړنی مذهب دی:

۱ د ظلم او استبداد د ټولواکانو په رژیمونو کې که له زغم څخه کار واخلو، شرعي حقوق یې انجام کړو، او خپل حقوق له الله څخه وغواړو، چونکه ټولواکان ټېکسونه د دولت د ټولنیزو عامې رغونې په نوم ټولوي، دا خلکو ته په ګوته کوي چې د ټېکسونو له مخې قدرتي افتونو ځپلي خلکو ته، د ټولنې اړوند ګرد اړتیا وړ خواوې بشپړولو کې د ټېکس له لارې راغلې مالیت نه ګټه اخلي.

۲ ټېکسونه باید په زکات کې حساب نه کړی شي، ځکه چې قراني ایت یاد کړې د زکات وړ اتوو اصنافو کې چې الله پاک یې مونږ ته د ورکړې امر کړې دي ذکر نشته.

۳ لږ څه مخکې تېر شول چې (ټېکسونه) حرام دي، او دغسې مال کله هم په زکات کې نه شي حسابېدای.

۴ ټېکسونه خلک د جبر زور له لارې اخلي، د دغسې مال اخستل نه بلکې ښبنتن ته یې ورکول واجب دي، او کله چې هم د شریعت له نګاه نه د مال حیثیت دا وي زکات یې هم اعتبار نه لري.

۵ زکات او ټېکس سره توپیر لري، زکات د الله له پلوه اسلامي تشریع ده چې پخپلو بندګانو یې په حلالو رزقونو کې فرض کړې ده، د زکات لپاره یې شروط او ځانګړي مصارف تعین کړیدي، او ټېکسونه وضعي تشریع ده د وخت سر سم تغیرات او راز راز بدلونونه قبلوي، کله لوړیږي او کله ټیټیږي، کله لغوه کیږي او کله برقرار پاتې وي، او د زکات په څېر ځانګړي د ورکړې ځای هم نه لري.

### جزیه، کله؟ څنګه؟ او څومره؟

د مسلمانانو د کمزورتیا په مهال د الهي ځینو شرائعو څخه خبرې کول ډېرې کمې وي، کله نا کله په ژبو زمزمه کیږي، یک یواځې هله نکته نظر وي چې یا خو یې په کوم شرعي مضمون کې د درس په بڼه موقع په لاس راشي او یا دیته ورته نورې ډېرې لږې غونډې چې نابېره پکې د جزیې، جهاد، غلامان او وینځې، خراج، غنیمت او... خبره راشي او د ژبې په سر هوایي تېره شي.

که څه هم د جزیې اړوند سره خلک بېلابېلې نظریې لري، ځینې یې غواړي

چې بیخي یې هیره کړې چې ددغې خبرو اړوند اوسمهال هېڅ اړتیا نشته، دواړه خواوې (مسلمان او کافر) دواړه باید د سولې په سیوري کې ژوند سره تیر کړي، ځېنې نور اټکلوي چې جزیه د وطنوالو ترمنځ خونړیزي، بدګماني او خېل خېل فتنې راولاړوي، او ځېنې نور وایي چې جزیه الهي تشریع او رباني دیني شریعه ده، مونږ غواړو چې جزیه چونکه ټیکس دی د اسلام له نظره یې تفصیلي شننه کوو.

لومړی: د جزیې معنی: جزیه د (جزاء) له کلمې څخه اخستل شوېده، ګویا که جزیه دا معنی ورکوي چې اهل ذمه د مسلمانانو په کلو ښارونو کې د مسلمانانو څخه د خپلو وینو، شتمنیو، او د کورني غړو د بشپړ امن او امان په بدل کې مالي عوض ورکوي.

د لغت ځېنې علماء وایي: جزیه د (اجزاء) له کلمې څخه اخستل شوېده، معني به دا شي چې د وینې په بدل کې یې مالي عوض ورکونه بسنه کوي.

که څه هم د جزیې اړوند د لغت علماء سره یوه خوله نه دي، د اشتقاق له مخې هر یو زیار ویستلې چې د کلمې سمه معنی روښانه کړي خو د ټولو اقوالو څخه جوته کیږي چې:

جزیه: هغه مالي اندازه ده چې غیر مسلم به یې د مسلمانانو بیت المال ته په بشپړ ذلت او سپکاوې هله ورکوي چې د مسلمانانو په کلو او ښارونو کې اوسېدل پسند بولي.

د دې برسېره علماء کرامو جزیې ته د (خراج الرأس، جالیه، مال الجماجم) نومونه هم اخستي دي.

### ۞ د جزیې مشروعیت:

جزیه د قراني ایتونو، نبوي حدیثونو او د ټولو علماوو په اجماع ثابته ده.

په قرانکریم کې الله تعالی فرمایي:

﴿ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴾ [سورت التوبة: ۲۹]

ژباړه: د هغو خلکو سره چې اسماني کتاب ورته ورکړل شوی دی، په الله او په ورځ د اخرت ایمان نه لري، او د الله تعالی او د هغه د رسول په محرماتو د تحریم عقیده نه ساتي، په حق دین ایمان نه لري، ورسره جنګ او جهاد وکړئ او یا دا چې لاس په لاس درته په سپکاوي جزیه درکړي.

د مزید وضاحت لپاره لوستوال کولای شي (الأحكام السلطانية: ١٤٣) ته مراجعه وکړي.

امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کې په (١٧٣١) شمېر باندې د بُرَيْدَه رضي الله عنه په روایت اوږد حدیث راوړی دی، په حدیث کې راځي چې: [إِنْ هُمْ أَبَوْا فَسَلْهُمُ الْجِزْيَةَ، فَإِنْ هُمْ أَجَابُوكَ فَاقْبَلْ مِنْهُمْ، وَكُفَّ عَنْهُمْ، فَإِنْ هُمْ أَبَوْا فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ وَقَاتِلْهُمْ...].

ژباړه: که ستا له دغې اختیار څخه یې انکار وکړ د جزیې ورکولو ورته ووایه، که یې جزیه پر ځان ومنله ترې یې قبوله کړه، جنګ ورسره ونه کړې، او که له جزیې څخه یې هم انکار وکړ نو بیا الله مرسته وغواړه او جهاد ورسره وکړه...

مغیرة بن شعبة رضي الله عنه هم کسری ته ویلي و: مونږ ته مو پیغمبر امر کړی دی چې تر هغه درسره جهاد وکړو تر څو د الله عبادت وکړئ، خو که جزیه مو ومنله له جنګ پرته مو پرېږدو (صحيح بخاري: ٢٩٢٥).

او اجماع هم ورباندې دلالت کوي، د کوم صحابي له انکار پرته ابوبکر، عمر، عثمان، علي رضي الله عنهم اجمعين او ټولو خلفاوو او امیرانو اخستې ده، هیڅ چا پرې انکار نه دی کړی، د جزیې اخستلو اجماع ابن قدامه په مغني کې، ابن القيم په أحكام أهل الذمة کې او ابن حزم په مراتب الاجماع کې ذکر کړېده.

## دجزیې اخستل څه ګټه لري؟

له غیرمسلمو څخه جزیه اخستل ډېرې ګټې لري، کولای شو ځینو ته یې چټکه کتنه وکړو:

١ په کفر او کافرانو د اسلامي دولت زور ښکاره کول تر څو غیر مسلم اسلام ته منقاد شي.

۲ په جزيې سره غير مسلم کولای شي خپله وينه، خپله شتمني محفوظه وساتي، تر څو په ډېره اسانه اسلام د عملي نګاه نه وڅاري او په اسلام کې داخل شي.

۳ جزيه د اسلامي دولت لپاره د وارداتو ډېر ښه مدرک دی، دولت کولای شي د خلکو اړتياوې، عامې رغونې او بنسټيزې چارې پرې ومړوي لکه: امن، ښوونه او روزنه، روغتيا، لارې کودرې، هستوګنځايونه وغيره....

## جزيه بايد له چا څخه واخستل شي؟

جزيه له هر کافر (که عرب وي که عجم) او در اجحو اقوالو له مخې له مشرکينو او د کفر ګرد منسوبينو څخه اخستل کېدای شي.

## جزيه به څوک ورکوي؟

هغه مشرک او کافر چې د جنګ کولو صلاحيت لري، مسلمان ترې جزيه اخستي شي، د دې برسېره بايد جزيه ورکونکي بالغ، عاقل، مذکر، ازاد، مالدار او روغ رمټ وي، که په چا کې د تيرو صفتونو ضد صفتونه پيدا شي جزيه اخستل ترې شريعت ساقطوي.

## د جزيې مقدار:

که څه هم مسئله د فقهاوو ترمنځ له اختلاف څخه څرخېږي خو سمه خبره دا ده چې د جزيې واک شريعت مسلمان ټولواک ته ورکړي دي، دا خبره د امام بخاري روايت هم تاييدوي چې ابونجيح مجاهد رحمه الله ته وويل: د شام خلک ولې څلور او د يمن خلک يو دينار په جزيه کې ورکوي؟ هغه ورته وويل: د توان خبره ده.

او عمر رضي الله عنه هم له اته څلوېښت څخه جزيه پنځوسو درهمو ته پورته کړه.

## جزيه کله معاف کېداي شي؟

له انسان څخه جزيه هله د سقوط قابل ده چې اسلام ته غاړه کيږدي، ابن المنذر رحمه الله په دې باندې اجماع ذکر کړې ده.

د تېر په څېر که جزیه ورکوونکی سخت فقر او فاقت ونیو، یا نور داسې قدرتي افتونو کې ښکیل شو چې ورڅخه وتل ترې ناشوني وي او لاس یې هم تش او خالي وي، ناروغي او رنځونه یې داسې وځپې چې له کارو کسب څخه یې وباسي، یا وړوند وي لکه عمر رضي الله عنه چې د خپل خلافت په دور کې وړوند نصراني له جزیې څخه معاف کړ.

دتیر په څېر کله اسلامي دولت د اهل ذمه د جاني او مالي حمایت څخه پاتې راشي، جزیه پرې ساقطیږي.

# د ټېکسونو مفهوم، ډولونه او موخې

## د ټیکس ماهیت:

په لومړیو کې د قبیلو مشرانو به د ملاتړ په سر نقدي، یا عیني وسایل سره راټولول تر څو قبیله د نورو خلکو له بریدونو څخه خوندي وساتي.

نفس دغه قبیلوي نظام دولت ته سرایت وکړ، دولت به له خپلو رعایاو څخه چې د پلور پیر لارې یې ورته خلاصې پرېښې وې، هر اړخیزه اقتصادي ازادي وه، په هر فرد یې د معلوم مالي مبلغ ورکړه فرض وبولل، دې حالت دومره پرمختګ وکړ چې د ټیکسونو مستقل نظام منځ ته راغی، ا وسمهال قوانین او ضوابط لري.

## د ټیکس مفهوم:

د ټیکس اړوند علماء سره بېلابېل تعریفونه لري، خو دا چې که مونږ یې له تعریفونو صرف نظر شو او یواځې د ټولو تعریفونو نچوړ واخلو ډېره به ښه وي، له ټولو تعریفونو نچوړ په لاندېنیو نقاطو کې خلاصه دي:

١ ټیکس مالي رقم دی: معنی دا ده چې د دولت منسوبین یا تجارتي وکړې به دولت ته په ټیکس کې نقدي رقم ورکوي، د ټیکس په بدل کې به شخصي خدمتونه یا نور اعیان نه ورکوي.

٢ ټیکس به د قانون له مخې تعینیږي، په دې دنده ګمارل شوي افراد به ټیکسونه له خلکو څخه راټولوي.

٣ ټیکس الزامي شی دی عقابي نه دي: معنی دا ده چې د دولت له مخې په افرادو ټیکس کېښودل د د دولتي قوانینو څخه د کومې سرغړونې مجازات نه دي، او ورکړه به یې هم جبري او نهایي وي، که څوک د ټیکس له ورکړې سرغړونه کوي، انکار کوي، د دولت له پلوه ورته د تجارتي قوانینو له مخې مجازات ورکړل کیږي، تر دې چې کله نا کله مالي بندیز ته هم خبره رسیږي.

۴ له ځانګړې خوا (مکلفینو) څخه پکې موارد عامې خوا (دولت) ته په جبري توګه نقل کیږي، معنی دا ده چې ټیکس اختیاري شی نه دی، په دې کې تبرعات، هبه، خیراتو اوصدقات نه دي شامل.

۵ ټیکس به دولت ته په نهايي توګه او هرومرو ورکړل کیږي، معنی دا ده چې په دې کې هغه پور چې خلکو له دولت څخه اخستی وي هېڅ شمول نه لري.

٦ ټیکس به دولت ته له عوض پرته ورکول کیږي: مطلب دا چې په دې کې د برق، د تلیفون، ګیس، تعلیم وغیره بیلونه نه دي شامل، ځکه دغه بیلونه رعیت حکومت ته د دولتي خدماتو د استعمال په بدل کې ورکوي.

۷ ټیکس به د اقتصاد او ټولنیز او سیاسي موخو لپاره اخستل کیږي، معنی دا چې دولت به له رعایاو څخه مالي مبلغ په دې نه راغونډوي چې خزانې ډکې کړي، نا بلکې موخه به یې اقتصادي، ټولنیز او سیاسي او دیني موخو ته ځان رسول وي، یا په بل عبارت ټیکس به تش په نوم نه اخستل کیږي، بلکې د عامو اغراضو د تحقیق لپاره به ترې ګټه اخستلای شي.

۸ ټیکسونه به د قواعدو او د بنسټیزو محدودو معیارونو له مخې ټاکل کیږي، لکه: عدالت، باور، او داسې نور.

**د ټیکسونو موخې**:

دولت کولی شي د ټیکسونو له مخې پرمختګ ته وده ورکړي، مونږ کولای شو چې په لاندې نقاطو کې یې نچوړ کړو:

أ مالي موخې: دولت کولای شي د ټیکسونو له مخې عام اخراجاتو کې ګټه واخلي، ددې ترڅنګ ټیکسونه د دولت په بېلابېل سیاسي او مالي اړخونو کې مهم رول هم لوبوي.

ب اقتصادي موخې: دولت کولای شي چې خپل اقتصادي توازن د ګڼ شمېر لارو څخه خوندي وساتي:

په خارجي تولیداتو ټیکسونه لږول تر څو خپل وطني تولیدات ورسره مقابله وکړای شي.

بهرني تولیداتو باندې ټیکسونه ختمول یا کمول تر څو هغوی د خپل ملک په پرمختګ نور هم وهڅول شي، د هغوی به تجارت وده وکړي او ددې به ملک مخ په وړاندې لاړ شي.

د معلومې کتې وتې اړوند اقتصادي موارد په ښه توګه څارل.

## د ټیکسونو اړوند اسلامي حکم:

د ټیکسونو اړوند اسلامي دریځ په تفصیلي توګه تیر شوی دی، لوستوال کولای شي چې ورته مراجعه وکړي.

## حلال رزق روزي، اثرات او اهمیت:

چونکه روا خواړه په زړه مثبت اغېز لري سلف صالحینو یې په کټه وټه هم زیاته هڅونه کړېده، د روا او حلال رزق لپاره اسلامي دین او مبین شریعت ګڼ شمېر لاملونه په نښه کړي دي چې په مخکنو فقراتو کې یې تفصیلي څېړنه تېره شوه.

## د روا خواړو اهمیت:

ګرد اهل علم په یوه دي چې باید نوم مسلمان د زړه کاته صفا او پرې ځانګړي خیال وساتي، له همدې کبله امام احمد رحمه الله څخه وپوښتل شول چې د زړه رنځ روغتیا په څه کې ده؟ هغه ورته وویل: د حلال رزق په لټه کې ده.

له یو بل دیني امام څخه وپوښتل شول: د پرهېزګارۍ او تقوا باره کې راته څه ولیکه، هغه ورته د پلور او پېر اړوند مسائل ولیکل، خلکو ورته وویل: الله په تا ورحمېږه! مونږ درته وایو چې د تقوا او پرهېزګارۍ اړوند معلومات را کړه او تا راته د پلور او پېر، د دنیا د ګټلو اړوند نوشته وکړه؟ هغه ورته کړه: د چا خواړه چې روا ګټه وټه وي یقیني پرهېزګار دی.

جوته شوه چې پرهېزګاري له دنیا څخه د کناره کشۍ نوم نه دی، پرهېزګاري یواځې بدني عبادت یا له نورو سره مالي مرستو ته نه ویل کیږي، دا هم پرهېزګاري ده چې له حرامو څخه انسان په پلور او پېر کې ځان راونغاړي، سودي معاملات ټول شاته کړي، د اخستلو او خرڅولو په هره ګړۍ کې ورته قبر او قیامت سترګو

سترګو ته کېږي تر څو په حرامو بشکیل نه شي، دا لامل دی چې ځومره زمونږ د پلور او پېر شرعي کچه په ټیټېدو ده، هومره ورسره مونږ د رب لایزال له پېرزوینو څخه بې برخې یو، د مړی پسې ساه تیګاه یو خو بیا هم پکې خیر او برکت نشته، د دې امت سلف صالحین (صحابه کرام) رضي الله عنهم به د نبوي ارشاداتو له مخې د حرام مال څخه په ځان ژغورنې کې په لوړه کچه له غور نه کار اخست، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: [يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، لاَ يُبَالِي المَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ، أَمِنَ الحَلاَلِ أَمْ مِنَ الحَرَامِ] (صحیح البخاري: ۲۰۵۹ شمېر حدیث).

ژباړه: په خلکو به داسې وخت راشي چې ددې به هېڅ پرواګیر نه وي چې ایا حلال او که حرام یې واخست.

او عمر رضي الله عنه فرمايي: له حرامو څخه د ځان ژغورنې په خاطر مونږ د روا خواړو نهه برخې نورې هم پرېږدو.

او دا سمه خبره ده، تر څو حقیقت پسې لا ځلانده شي مونږ یې څو بېلګې قابل ذکر بولو: [كَانَ لِأَبِي بَكْرٍ غُلاَمٌ يُخْرِجُ لَهُ الخَرَاجَ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَأْكُلُ مِنْ خَرَاجِهِ، فَجَاءَ يَوْمًا بِشَيْءٍ فَأَكَلَ مِنْهُ أَبُو بَكْرٍ، فَقَالَ لَهُ الغُلاَمُ: أَتَدْرِي مَا هَذَا؟ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: وَمَا هُوَ؟ قَالَ: كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الجَاهِلِيَّةِ، وَمَا أُحْسِنُ الكِهَانَةَ، إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ، فَلَقِيَنِي فَأَعْطَانِي بِذَلِكَ، فَهَذَا الَّذِي أَكَلْتَ مِنْهُ، فَأَدْخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ، فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ] (صحیح البخاري: ۳۸٤۲).

ژباړه: عائشه رضي الله عنها وايي: د ابوبکر رضي الله عنه یو غلام و، ورځنۍ مزدوري به یې راوړله او ابوبکر به د هغه د لاس مزدوري خوړله، یوه ورځ یې خواړه راوړل ابوبکر رضي الله عنه ترې لږ څه وخوړل، غلام ورته وویل: تا ته پته ده چې دا څه شی و؟ هغه ورته وویل: ولې څه و؟ غلام ورته وویل: د جاهلیت په دور کې مې یو چا ته کهانت کړی و او په کهانت هم سم نه پوهېدم خو دوکه مې ورسره وکړه، بیا راسره مخ شو او دغه عوض یې راکړ او دغه دی تا هم وخوړ، ابوبکر رضي الله عنه د لاس ګوتې په خوله کې وردننه کړې او ټول خواړه یې بېرته اولټۍ کړل.

په یو روایت کې لا دا هم دي چې غلام ورته وویل: ولې ځان تکلیفوې؟ هغه

ورته وويل: که ساه مې هم ورسره ووځي خو بېرته يې راوباسم، ځکه چې ما د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې [كُلُّ لَحْمٍ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ فَالنَّارُ أَوْلَى بِهِ] کومه غوښه چې له حرامو څخه راوټوکيږي نو په خوراک يې اور ډېر حقدار دی.

حتى سلف صالحين رحمهم الله چې به کله د خواړو په لټه پسې راووتل خپلو کورودانو به يې ورته ويل: زمونږ اړوند له الله څخه وډار شه، ولږه برداشت کولای شو خو د اور د برداشت نه يو.

له دې کبله چې په بازارونو کې دوکې، پراډونه، غلاګانې، سودبازي، په غير مشروعه توګه پلور پېر کيږي، په حديث کې ورته د بدی نوم ورکړل شوی دی، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: [أَحَبُّ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا، وَأَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ أَسْوَاقُهَا] (صحيح مسلم: ٦٧١).

ژباړه: الله ته پسندترين ځايونه جماعتونه (مسجدونه) دي، او ورته بدترين ځايونه بازارونه دي.

امام ترمذي پخپل سنن کې په (١٢١٠) شمېر باندې حديث ذکر کړي دي چې نبي صلی الله عليه وسلم خلک د پلور او پېر په مهال وليد ورته يې وويل: [يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ، فَاسْتَجَابُوا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَفَعُوا أَعْنَاقَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ إِلَيْهِ، فَقَالَ: إِنَّ التُّجَّارَ يُبْعَثُونَ يَوْمَ القِيَامَةِ فُجَّارًا، إِلَّا مَنْ اتَّقَى اللهَ، وَبَرَّ، وَصَدَقَ].

ژباړه: ای دوکاندارانو! ټول نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغلل، سرونه او سترګې يې ورته پورته ونيولې، ورته يې وويل: د قيامت په ورځ به له پرهيزګار، محسن او رښتيا ګوه پرته دوکانداران فاجران راپورته کړی شي.

عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمايي: چې د شبهې او ګومانې درهم څخه ځان وژغورم، له دې څخه را ته بهتر ده چې يو لک، بيا په يو لک، او بيا په يو لکو درهمو خيرات او صدقه وکړم.

په رښتيا هم چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: [الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ، وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ، وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ] (صحيح مسلم: ٢٥٥٣).

ژباړه: نیکي ښکلو اخلاقو ته ویلې شي، او ګناه هغه ده چې ستا په سینه کې خنډ وي او دا دې هم خوښه نه ده چې خلک ترې خبر شي.

### د حرامو خوړو له کبله دعاګانې نه قبلېږي:

امام مسلم په خپل صحیح کې په (۱۰۱۵) شمېر حدیث راوړی دی چې [ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ].

ژباړه: بیا نبي صلی الله علیه وسلم د یو سړي یادونه وکړه چې په اوږد سفر وي، ویښتان یې ګډوډ او ګرد غبار پرې پروت وي، دواړه لاسونه یې اسمان ته پورته کړي وي او (ای ربه! ای ربه!) نعرې چغې وهي، خواړه یې هم حرام وي، څښاک یې هم حرام وي، پوښاک یې هم حرام وي، په حرامو یې وده کړې وي نو دعاء به یې څه قبوله شي؟!

په حدیثونو کې راځي چې د مسافر دعاګانې ښې قبلېږي، خو چې د حرام خوری په نوم مانع شتون ودرلود، دعاګانې هم مردودې شوې، بیا نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي (أَشْعَثَ أَغْبَرَ) دې کې دېته اشاره ده چې په نهایت زیات انکسار او عاجزی الله رابلي، خو ولې چې د حرام خوری په نوم مانع شتون ودرلود، دعاګانې هم مردودې شوې، لاسونه یې هم اسمان ته پورته کړي وي، او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: [إِنَّ رَبَّكُمْ حَيِيٌّ كَرِيمٌ، يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ أَنْ يَرْفَعَ إِلَيْهِ يَدَيْهِ، فَيَرُدَّهُمَا صِفْرًا] (سنن ابن ماجه: ۳۸۶۵).

ژباړه: ستاسو رب ډېر د حیا او کرامت والا دی، هغه ته حیاء ورځي چې بنده ورته لاسونه پورته کړي وي او هغه یې ورته تش تور راوګرځوي.

خو ولې چې د حرام خوری په نوم مانع شتون ودرلود نو د عاګانې هم مردودې شوې.

### حرام مال د عذاب لامل دي:

الله پاک مونږ ټول مخلوق ته په قرانکریم کې ارشاد فرمايلي دي چې که له حرامو

لا رو کودرو څخه څوک خیټه ډکه کړي او جمعه واري وکړي، همدغه خیټه به یې د دوزخ په اور وریته وریته شي، الله پاک فرمایي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارٗاۖ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرٗا﴾ [سورت النساء: ١٠]

ژباړه: د یتیمانانو شتمني چې په ظلم زیاتي څوک خوري، دوي په خپلو خېټو کې اور اچوي او ډېر زر به سعیر (جهنم) ته ننوځي. او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: [مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الجَنَّةَ] (صحیح البخاري: ٦٤٧٤).

ژباړه: د ژامو ترمنځ او د خپو ترمنځ اندامونو ضمانت چې ما له څوک را کړي، زه ورله د جنت ذمه واري اخلم. معنی دا شوه چې نه حرام خپله خوري او نه حرام څښي.

د عمر رضي الله عنه اړوند روایت دی چې یوه ورځ یې شوده وڅښل ډېر خوند یې ورکړ، له ساقي څخه یې وپوښتل: دا چرته و؟ ساقي ورته وویل: د زکات اوښان تېرېدل، خلکو خړوبول، ما ترې شوده ولوشل، عمر رضي الله عنه ګوته خولې ته کړه او خوړلې شوده یې اولټې کړل.



# د حلالو شیانو مفهوم او د پېژندګلو طریقه

که په لنډو ټکو کې ووایو تر څو لوستوال خپله وپوهیږي او خپله وکولای شي د حلالو او حرامو پېژندګلو وکړای شي چې حلال هغې ته ویل کیږي چې انسان ته پکې حریت او اختیار ورکړل شوی وي، مثلا د هغه خوښه ده غوښه خوري او که نه، سبزیجات خوري او که نه، کومه میوه خوري او کومه پرېږدي وغیره، خو ولې د حلالو د مزید پېژندګلو لپاره علماء کرامو ځینې نښې نښانې بیان کړېدي چې په لاندنیو کرښو کې یې تاسو ته نځوروم:

(١) د یو شي د حلیت نښه دا ده چې قران یا حدیث ورته (حلال) ویلي وي، لکه الله پاک په سورت مائدة (٥) ایت کې فرمايي:

﴿ٱلۡيَوۡمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ حِلّٞ لَّكُمۡ وَطَعَامُكُمۡ حِلّٞ لَّهُمۡ﴾

[سورت مائدة: ٥]

ژباړه: نن ورځ تاسو ته ټول خوندور خواړه حلال کړی شول، د اهل کتابو (یهودانو او نصرانیانو) خواړه تاسو ته او ستاسو خواړه هغوی ته حلال دي.

د اهل کتابو خواړه زمونږ لپاره هله روا دي چې د خواړو ماده خو یا حرامه نه وي لکه د خنزیر، سپي، خر وغیره او یا هم خواړه د بل چا په نوم نه وي، لکه غوا، ګډه، ووزه وغیره که څه هم خپله حلال دي خو ولې د مسیح علیه السلام نوم پرې یاد شي یا نور هغه موانع چې خوراک یې شریعت محرم وبولي، بیا نه شو کولای چې خواړه یې وخورو، خو که د نصراني هوټل وي او د حلال حیوان غوښې پکې پخیږي مسلمان ته روا دي چې ورڅخه خواړه وخوري، خو د مشرک خواړه نه، ځکه هغه په دین کې ټول حرام دي.

دا حکم د هغه خواړو اړوند دی چې ذبحه پکې شرط وي، که ذبحه پکې نه وي، لکه میوه جات، سبزیجات چې د کافرو په لاس یې خدمت کېداي شي، یا لکه

ماهي (کب) چې ذبحه یې شرط نه ده، دا که د هر چا له لاسه وي حلال دي، بیخي پکې حرمت نشته ولو که مشرک هم وي.

۲ د یو شي د حلیت عقیده په قران یا حدیث کې له دې هم ثابتیږي چې د [لاَ حَرَجَ، لاَ جُنَاحَ، لاَ اِثْمَ] او دیته ورته نور هغه کلمات چې حرمت نفي کوي راشي، دا کلمات د شیانو په حلیت دلالت کوي.

**د حرامو شیانو مفهوم او د پیژندګلو طریقه:**

حرام شیان مونږ هغې ته ویلای شو چې قران یا په مبارکو حدیثونو کې ترې د ځان ژغورنې کلک اوامر راغلي وي، په دې انداز چې که څوک ترې په ځنګ شول د اجر او ثواب وړ ګرځي خو ولې که څوک په دغې منهیاتو اخته شي، بنکیل شي، اسلامي شریعت ورته په خپل چوکاټ کې سنګینه سزا ورکوي.

کولای شو د حرامو ځینې نښې نښانې لوستوالو ته په لاندې کرښو کې نچوړ کړو:

۱ هغه شیان به حرام وي چې په اسلامي شریعت کې ورته د (حرام) کلمه استعمال شوي وي، لکه د نمونې په توګه الله پاک فرمایي:

﴿حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحۡمُ ٱلۡخِنزِيرِ﴾ [سورت مائدة: ۳]

۲ یا په اسلامي شریعت کې یو شي ته د (نه دي حلال) کلمات وویل شي لکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: [لاَ يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلاَ بِطِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ] (ارواء الغلیل: ۱٤۵۹).

ژباړه: د مسلمان سړي مال د هغه له خوښې پرته بیخي حلال نه دی.

۳ هغه شیان به هم حرام وي چې په اسلامي شریعت کې ورڅخه د ځان ژغورنې ټینګار راغلی وي، د نمونې په توګه الله پاک فرمایي:

﴿فَٱجۡتَنِبُواْ ٱلرِّجۡسَ مِنَ ٱلۡأَوۡثَٰنِ وَٱجۡتَنِبُواْ قَوۡلَ ٱلزُّورِ﴾ [سورت حج: ۳۰]

ژباړه: د بوتانو پلیتۍ نه هم ځان کلک وساتئ او له دروغو څخه هم ځان کلک وساتئ.

۴ په اسلامي شریعت کې به ټول هغه څه هم حرام وي چې په کولو یې اسلام سزا اورولې وي، د نمونې په توګه الله پاک فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلۡيَتَٰمَىٰ ظُلۡمًا إِنَّمَا يَأۡكُلُونَ فِي بُطُونِهِمۡ نَارٗاۖ وَسَيَصۡلَوۡنَ سَعِيرٗا﴾ [سورت نساء: ۱۰]

ژباړه: هغه خلک چې په ظلم د یتیمانانو مالونه خوري دوي په خپلو خېټو کې اور خوري (اچوي) او ډېر ګرم اور ته به ډېر زر ورشي.

## تحلیل او تحریم د چا حق دی؟

تحلیل او تحریم یواځې د الله حق دی او د نبي کریم ﷺ په ژبه یې مونږ ته د ګردو تحلیلاتو او محرماتو بیان کړی دی، ټول هغه څه به حلال او تناول به یې روا وي چې اسلامي شریعت یې تحلیل تنصیص کړی وی، تحلیل او تحریم به د ژوند په ګردو چارو کې د بدني او مالي عبادتونو په څېر پېژنو، څنګه چې د لمونځ لپاره اودس شرط بولو او له طهارت پرته یې نه شریعت قابل قبول بولي او نه پرې مونږ مسلمانان مطمئن یو دغه ډول به د تحلیل او تحریم هم ځانګړی خیال ساتو، زمونږ د شیانو تحلیل او تحریم شریعت ته تکیه لري نه هواپرستۍ او شهوت پرستۍ ته، پاک صفا شیان چې شریعت یې استعمال روا بللی وي تر څو شریعت نه وي تحریم کړي زمونږ په خبرو هېڅکله نه تحریمیږي، کولای شو نمونه یې د نبي کریم ﷺ هغه واقعه قابل ذکر وبولو چې شهد یې پر ځان حرام کړي و، الله پاک مبینه وحي راواستوله چې شهد حلال دي، له ایت څخه داسې هم معلومیږي چې الله پاک حلال کړي شیان نبي هم نه شي تحریمولی، نو په تحریم کې به د ولي او بزرګ څه حیثیت وي؟ ټول هغه شیان چې نبي کریم ﷺ یې تحریم بیان کړی دی د الله محرمات دي، معنی دا ده چې نبي کریم ﷺ مونږ ته د الله ترجماني کړې ده.

الله پاک فرمايي

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبۡتَغِي مَرۡضَاتَ أَزۡوَٰجِكَۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ [سورت تحریم: ۱]

ژباړه: ای پېغمبره! ته ولې هغه څه حرام بولې چې الله جل جلاله درته حلال کړي دي؟ ایا ته په دې سره د خپلو بي بیانو خوشحالول غواړې؟ او الله ببښونکی او د رحم والا دی.

### د تحلیل او تحریم حق بل چا ته ورکول شرک دی:

لږ څه و ړاندې مو د مبین شریعت ټول هغه نصوص ذکر کړل چې د تحریم او تحلیل اړوند یې غوڅه پرېکړه وکړه چې دا د الله او د هغه د رسول حق دی، حلال هغه دي چې قران او حدیث یې تحلیل کړي، او حرام هغه دي چې په قران یا حدیث کې پرې نص راغلی وي، جوته شوه چې تحلیل او تحریم د شارع هغه ځانګړی حق دی چې هېڅ مخلوق ورسره په کې شراکت نه لري، هغه نص چې دا دیني دریځ لا پسې څرګندوي د عدي بن حاتم رضي الله عنه حدیث دی فرمایي: [أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي عُنُقِي صَلِيبٌ مِنْ ذَهَبٍ. فَقَالَ: يَا عَدِيُّ اطْرَحْ عَنْكَ هَذَا الوَثَنَ، وَ سَمِعْتُهُ يَقْرَأُ فِي سُورَةِ بَرَاءَةٌ ﴿ ٱتَّخَذُوٓاْ أَحۡبَارَهُمۡ وَرُهۡبَٰنَهُمۡ أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾، قَالَ: أَمَا إِنَّهُمْ لَمْ يَكُونُوا يَعْبُدُونَهُمْ، وَلَكِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا أَحَلُّوا لَهُمْ شَيْئًا اسْتَحَلُّوهُ، وَإِذَا حَرَّمُوا عَلَيْهِمْ شَيْئًا حَرَّمُوهُ] (جامع الترمذي: ۳۰۹۵).

ژباړه: زه نبي کریم ﷺ ته راغلم او پر غاړه مې د سرو زرو صلیب و، هغه وویل: عدي! نور دغه بوت وغورځوه او د سورت براءت دا ایت مې ترې واورېد چې [اتخذوا...] دوی (اهل کتابو) خپل پیران او مولایان له الله پرته په عبادت باندې نیولي وو، بیا یې وویل: هغوی یې د (رکوع او سجدې) عبادت نه و کړی، خو چې څه به یې ورته حلالول دوی به حلال ګڼل او که به یې ورته څه حرام کړل دوی به حرام ګڼل.

له حدیث څخه په ډاګه معلومېږي چې د اشیاؤ تحلیل او تحریم تشریعي حق دی، له شارع پرته د شیانو تحلیل او تحریم عبادت من دون الله ګڼل کیږي او که څوک پر دغه عبادت خوشحاله وي نو بیا اسلام ورته په خپل قاموس کې طاغوت وایي، البته که علماء کرام د اجتهاد یا شبهې له وجې حرام حلال یا حلال حرام وبولي نو معذور ګڼل کیږي او په طاغوت کې نه راځي، خو که څوک د تحلیل او تحریم په باب کې اختیار غیرالله ته ورکړي نو د الله سره یې په عبادت کې شرک وکړ، الله دې زمونږ ټول عملونه د الله د رضا لپاره وګرځوي.

### ټول حرام شیان الله په تفصیل سره بیان کړي دي:

الله پاک فرمایي:

﴿وَمَا لَكُمۡ أَلَّا تَأۡكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ وَقَدۡ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيۡكُمۡ إِلَّا مَا ٱضۡطُرِرۡتُمۡ إِلَيۡهِۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا لَّيُضِلُّونَ بِأَهۡوَآئِهِم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُعۡتَدِينَ﴾

[سورت انعام: ۱۱۹]

ژباړه: او تاسو ولې هغه څه نه خورئ چې د الله نوم پرې یاد شوی وي او په حقیقت کې الله درته ټول تحریمي شیان په تفصیلي بڼه بیان کړي دي مګر د اضطرار (نهایت زیات مجبوریت) په حالت کې، زیاتره یې (په تحلیل او تحریم کې د خپلو اغراضو او شهواتو له مخې چې د شریعت سره هېڅ راز اړیکه نه لري) بې لارې شي، ستا رب هغه خلک ډېر ښه پېژني چې (د حلالو او حرامو) له پولو څخه تجاوز کوي.

د ایت په سبب نزول کې مفسرین هغې واقعې ته اشاره کوي چې امام ابوداود په خپل سنن کې په (۲۸۱۹) شمېر روایت کړی دی [عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عَنْهُ قَالَ: جَاءَتِ الْيَهُودُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: نَأْكُلُ مِمَّا قَتَلْنَا، وَلَا نَأْكُلُ مِمَّا قَتَلَ الله، فَأَنْزَلَ الله: ﴿وَلَا تَأۡكُلُواْ أَمۡوَٰلَكُم﴾].

ژباړه: نبي کريم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یهودان راغلل او ورته یې کړه چې څنګه کیدای شي چې له خپلو لاسو مړ کړی حیوان خورو او چې الله مړ کړی وي نو نه به یې خورو؟ نو الله پاک دغه ایتونه نازل کړل.

له دې ایت لاندې امام ابن تیمیه رَحِمَهُ الله وايي: په ایت کې له (بَيَّنَ) څخه موخه نهایت زیات تفصیل او وضاحت مراد دی، که قران کریم د ځینو شیانو اړوند په تحریم نه وي غږېدلی معنی به دا وي چې دغه شی په خپل اباحت پاتې دی او له مباحاتو څخه انسان کولی شي مستفید شي.

**دکومو شیانو د تحلیل او تحریم وضاحت چې شارع نه وي کړی هغه هم مباح دي:**

که څه هم تکراري خبرې ذهني بوج شته کوي خو د ځیني مسایلو اړوند تکرار په زړه کې قرار پیدا کوي، تاییدي اړخ لا پسې پیاوړی کوي او یقین پرې وده کوي، له هغه جملې څخه یوه دا مسله هم ده چې د ژوند اړوند هېڅ داسې څه

نشته چې انسان ورته اړتیا لري او د اسلام مبین دین ترې ګونګ پاتې شوی وي، محکمې ایت (وَقَدْ فَصَّلَ لَكُمْ مَا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ...) په ډېر څرګند ډول واضحه کړې چې حرام ټول په تفصیلي بڼه ستاسو ترمخې پراته دي، خو ولې ځینې هغه معاصر شیان چې انسان یې د اباحت او حرمت ترمنځ هک او پک وي د تحریمي یا تحلیلي علت د شتون او نه شتون له کبله پرې د تحریم یا تحلیل عقیده لرلی شي، دا هله چې اجتهاد یې تشریعي نصوصو ته کلک استناد ولري، ورنه هواپرستي قران مونږ ته دیهودو خوی خصلت معرفي کړې دی چې د نفسي طبیعت او غوښتنې په اساس به یې حلال حرامول او حرام به یې تحلیلول.

خو ولې هغه شیان چې شریعت ترې ساکت پاتې شوی دی معنی دا ده چې له الله څخه پټ او پناه نه وو، بلکې الله د خپل رحمت او شاملې لورینې له مخې په دغه حالت ځکه پرېښودل چې د انسانیت لپاره ترې ګټه اخستل په اباحت پاتې شي.

امام ابوداود په خپل سنن کې په (۳۸۰۰) شمېر باندې د عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا په روایت یو حدیث راوړی دی چې زمونږ دا موضوع په ښه ډول څېړي، هغه وایي: [كَانَ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَأْكُلُونَ أَشْيَاءَ وَيَتْرُكُونَ أَشْيَاءَ تَقَذُّرًا، فَبَعَثَ اللهُ تَعَالَى نَبِيَّهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنْزَلَ كِتَابَهُ، وَأَحَلَّ حَلَالَهُ، وَحَرَّمَ حَرَامَهُ، فَمَا أَحَلَّ فَهُوَ حَلَالٌ، وَمَا حَرَّمَ فَهُوَ حَرَامٌ، وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ عَفْوٌ، وَتَلَا ﴿قُل لَّآ أَجِدُ فِى مَآ أُوحِىَ إِلَىَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥٓ﴾].

ژباړه: د جاهلیت دور خلکو به ځینې شیان خوړل او له ځینو به یې ځانونه قابو کول چې ګنې پلیت دي، الله پاک خپل پیغمبر راواستوه او کتاب یې پرې نازل کړ، د هغه حلال یې تحلیل او د هغه حرام یې تحریم اعلان کړل، نو حلال یې حلال او حرام یې حرام دي، او له څه نه چې خاموش پاتی دی نو استعمال او نه استعمال یې عفو ده، او بیا یې دا ایت ولوست (قل..) ورته ووایه چې ما ته په وحي کړی شوي کتاب کې مې حرام څه ونه لیدل پرته له...

### په نیک نیت باندې حرام نه حلالیږي:

د حلالو توکو استعمال خپله عبادت دی انسان پرې الله ته تقرب حاصلولی شي، که څه هم د خپلې ښځې سره جماع ولې نه وي، یا له تبذیر او تکبر پرته څوک

پر ځان یا کورنۍ خرچ وکړي، یا خوراک او څښاک یا پوښاک یې له هر چا غالي او ګران بیه وي، خو چې حلال وي الله ورته ثوابونه ورکوي، خو ولې که څوک د ثواب کارونه په هغه ډول شتمنۍ مخ پر وړاندې یوسي چې کم او کیف یې ناروا وي او په ناروا یې کمایي شوي وي، د دې پرځای چې الله ته تقرب حاصل کړي او ثوابونه وګټي نو ګناه یې کیږي او له الله څخه مزید نور هم لرې وځي.

د نمونې په توګه که څوک د مسجدونو په ابادۍ کې، د قران کریم په چاپ او نشر و اشاعت کې، د مدارسو سره په تعاون او مرسته کې له هغه مال څخه ګټه واخلي چې بنسټ یې سود وي، یا په رشوتونو راټول شوی وي نو دغه کارونه حرام دي، ځکه په حرامو کې الله خیر او برکت نه دی ایښی، خو که له سودي کمایۍ څخه ځان په بشپړه توګه خلاصوي نو کولای شي چې له مساجدو پرته یې د مسلمانانو په اجتماعي او فردي خیر ښېګړو هر ډول اړتیاو کې مصرف کړي، خو ولې که د خیر په کارونو کې څوک له چا څخه رشوتونه اخلي نو بیا حرام دی، لکه څوک ووایي چې دلته درته د فلانکي موسسې له مخې ستر مسجد په دې شرط ابادوم چې دومره اندازه سلنه راته راکړل شي او یا له چا څخه معلومه اندازه پیسې د رشوت په نورو نومونو واخلي نو کمايي یې حرامه ده.

**په حیلو او پراډونو هم حرام نه حلالیږي:**

الله تعالی په یهودو باندې وازده حرامه کړه نو هغوی یلي کړه او تېل یې ورله خرڅ کړل او نرخونه یې وخوړل، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې دغه کړنه وغندله، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په غوڅو کلماتو کې وایي [قَاتَلَ اللهُ اليَهُودَ حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُومُ، فَجَمَلُوهَا فَبَاعُوهَا] (صحیح بخاري: ۲۲۲۳).

ژباړه: الله دې یهودان تباه کړي، وازدې پرې حرامې شوې نو ویلې یې کړې او بیا یې خرڅې کړې.

دا ډول که څوک د تحفې په نوم رشوتونه واخلي، یا د منافعو په نوم سود وخوري که هر څومره زړه راښکونکې نوم پرې کیږدي خو ولې حرام پرې نه شي تحلیلولی، د باطل لپاره دغه ډول زیارونه ټول هغه څه دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې وړاندوینه کړې ده، هغه فرمایي [لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ، يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ

اسْمِهَا، يُعْزَفُ عَلَى رُءُوسِهِمْ بِالْمَعَازِفِ، وَ الْمُغَنِّيَاتِ، يَخْسِفُ اللهُ بِهِمُ الْأَرْضَ، وَيَجْعَلُ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَ الْخَنَازِيرَ] (سنن ابن ماجه: ٤٠٢٠).

ژباړه: زما په امت کې به هرومرو ځینې خلک شراب په نورو نومونو وښیي، پر سر به ورته ګاڼې بجاڼې ویل کیږي، ځمکه به پرې الله وشکوي او شادوګان او خنزیران به ترې الله جوړ کړي.

حدیث کې دې ته اشاره وشوه چې که په شرابو څوک د شېدو نوم هم کیږدي حرام دي او که شراب ورته هم ووایي بیا هم حرام دي، که د شهدو او د میوو رس نوم پرې هم کیږدي خو چې شراب وي نو حرام دي، دغه ډول ټولې هغه تحفې چې د رشوت په ډول ورکول کیږي، باطل پرې حق او حق برې باطلیږي رشوت دی که څه هم په نوم تحفه وي، د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تېر مذکور حدیث دومره جامع دی چې هر ډول حرامو ته شمول لري، که څه هم حرام په ډول ډول ښو نومونو ونومول شي.

### حرامو ته ګرد ذرائع هم حرام دي:

له نصوصو څخه اهل علمو استنباط کړې قاعدې له مخې ګرد ذرائع چې حرامو ته پرې لار هوارېدای شي ذارئع یې هم حرام دي، که څه هم ذریعه خپله مباحه وي، خو که نفس ذریعه حلالو ته رهبري کوي نو واضحه ده چې مسلمان ترې استفاده کولی شي، هغه قاعده چې مونږ ورته اشاره وکړه او د قواعدو او احکامو په کتابونو کې یې د ملت فقهاؤ په خورا توضیحي ډول تشریح کړې ده، سلطان العلماء عز بن عبدالسلام وایي: مصالح او مفاسد ډېری وسائل لري، او وسائل د مقاصدو په څېر د ندب، وجوب، تحریم، کراهت او اباحت حکمونه لري، کله وسیله پر مقصد ستره بهتري لري لکه ځینې طاعتونه او معارف چې له وسیلې څخه یې مقصد ډېر د ثواب ښتن وي. (الفوائد في اختصار المقاصد: ٤٣/١. لومړی چاپ ١٤١٦، دارالفکر).

دغه مستنبطه قاعده دا ده چې (الوَسَائِلُ لَهَا أَحْكَامُ المَقَاصِدِ) د دې قاعدې په رڼا کې چې اسلامي صحیحو او صریحو روایتونو ته استناد لري په ډاګه ویلای شو چې هر کار او وسیله چې حرامو ته ذریعه وي که څه هم د حلالو تجارت وي، که څه

هم عبادتونه وي، که څه هم د خیرښېګړې نور داسې امور وي چې انسانیت په کې خوندي پاتې کیږي خو که قلبي فساد په کې وي لکه ریاء نو عبادتونه پرې نه قبلیږي، ځکه چې ریاء په کې ده، په ټولنیزو اصلاحي امورو او د ملي ګټو خوندیتوب که څه هم نیک کار دی خو ولې مقصد یې ریاء وي یا یې باعث نور امور وي چې الهي رضا په کې هېڅ شتون نه لري نو د ثواب پر ځای یې ګرد عمل لاثوابه شي.

### حرام د هېڅ چا لپاره نه حلالیږي:

د اسلامي احکامو په قاموس کې چې هر شي ته د حرامو حکم متوجه شوی وي نو د مسلمانانو ګردو افرادو ته تعمیم کیدای شي، دا د اسلامي شریعت ځانګړنه ده چې احکام یې شمولي دي، هېڅ افرادو ته یې استثنائیت نه دی حاصل، مګر هغه مهال چې شریعت خپله یو حکم کړی وی او ورڅخه یې د ځینو افرادو اختصاص کړی وي، ورنه د باطل استنباط په زور به مونږ زیار نه اوباسو تر څو تعمیمي احکام د زمان او مکان یا اشخاصو پورې مختص وبولو، اسلام چې کله کومې توکې حرامې وبولي نو احکام به یې هر فرد، امیر او غریب، باچا او ګدا، نارینه او زنانه، کشر او مشر، تور اوسپین، عرب او عجم ته متوجه وي، او که یې د کومو شیانو په حلیت امر صادر کړ هم به ګردو افرادو ته په وګړیز او ټولنیز ژوند دواړو اړخونو کې متوجه وي، مګر هغه مهال چې شریعت خپله حکم د ځینو افرادو پورې مختص نه وي بولی، د نمونې په توګه د لباس مسئله، که څه هم له ګیټکو لاندې لباس د نارینو په حق کې حرام دی خو ولې د زنانو په حق کې روا دی، یا مسلمان افراد که څه هم له داسې هیواد څخه وي چې دولتي قوانین یې کفر وي او دوی په کې اسلام ته غاړه ایښې وي خو د ټولنې په بنسټ ورته هیڅکله حرام نه حلالیږي او نه ورته حلال حرامیږي، څومره اسلام چې یې زده وي پرې عمل به کوي او د مزید تعلیم به لارې سنجوي تر څو اسلام په پوره معنی او کامله توګه عملي کړي، مثلا غلا او سرقت په اسلام کې حرام دی، غلا له مسلمان او کافر دواړو نه حرامه ده، که اوس مهال غلا ته بل هر څومره مقدس او دلکش نوم کیښودل شي خو حرامه ده، که هر څوک یې کوي حرامه ده، که هر ځای یې کوي حرامه ده، له دې کبله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نهایت

زيات وضاحت سره وايي چې [وَايْمُ اللهِ لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ لَقَطَعْتُ يَدَهَا] (صحيح البخاري: ٣٤٧٥، ٣٧٣٢، ٤٣٠٤، ٦٧٨٧).

لوړه په رب لایزال چې که فاطمه رضي الله عَنْهَا هم غلا وکړي نو لاس به ترې قطع کړم.

دې نص کې دې ته اشاره ده چې فاطمه رضي الله عَنْهَا که څه هم په هغو ښځو کې شمېر ده چې له عقل ا و دین څخه پوره ده، بل غوره والی یې دا دی چې د پیغمبر لور ده، د جنتي سړي بي بي ده، د جنت دسردارانو مور ده، له عقل او دین څخه پوره ښځو کې د بهترینې ښځې لور ده، خو ولې غلا چې اسلام حرامه کړې ده د عام مسلمان په څېر ورته حکم متوجه دی، دیني او عقلي کمال، بهتري او فضیلت یې له حکم څخه مختصه نه کړه.

**که د مرګ خطره وي یا انساني اعضاء تلف کیږي نو حرام حلالیږي:**

اسلامي دین سراسر رحمت دی، مهرباني او الهي فضل او کرم دی، اسلامي دین ټول اسان او سهولت دی، داسې دین دی چې د ژوند په هر ډګر کې سخت دریزي په کلکو ټکو غندي، اسلامي دین د دې قراني ایت څخه راوتی دی چې

﴿يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلْعُسْرَ﴾ [سورت بقره: ١٨٥]

ژباړه: الله کریم دربانديې د دین عملي بڼه کې اسانتیاوې غواړي سختي کول دربانديې نه غواړي.

دغه څېر نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم فرمایي: [إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ، وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ] (صحيح البخاري: ٣٩).

ژباړه: اسلامي دین ډېر اسان دی، هېڅ څوک په دین کې ځان باندې سختي نه کوي مګر د دین اسانتیاوې پرې غالبه کیږي.

له دغې اسانتیاو له جملې څخه یو هم انسان ته په هغه حالت کې چې حرام ونه خوري یا خو د مرګ سره مخ کیږي او یا یې بدني غړي تلف کیږي، اسلام ورته خپل محرمات تحلیل کړي دي، الله رب کریم فرمایي:

﴿وَمَا لَكُمۡ أَلَّا تَأۡكُلُواْ مِمَّا ذُكِرَ ٱسۡمُ ٱللَّهِ عَلَيۡهِ وَقَدۡ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيۡكُمۡ إِلَّا مَا ٱضۡطُرِرۡتُمۡ إِلَيۡهِۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا لَّيُضِلُّونَ بِأَهۡوَآئِهِم بِغَيۡرِ عِلۡمٍۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُعۡتَدِينَ﴾

[سورت أنعام: ۱۱۹]



ژباړه: تاسو لره څه رابندوي چې هغه څه نه خورئ چې د الله نوم پرې یاد شوی وي، سره له دې چې الله درته ټول حرام په تفصیلي توګه بیان کړي دي، مګر هغه حرام چې د سخت ضرورت له مخې ورته اړتیا ولرئ، ډېری خلک له علم پرته د خپلو هوسونو په خاطر د الله له لارې څخه خلک بې لارې کوي، په تجاوزکرو باندې ستا رب ډېر ښه خبر دی.

د همدې ایت په رڼا کې مسلمانانو فقهاؤ بله فقهي قاعده ایښې ده چې (الضَّرُوْرِيَاتُ تُبِيْحُ المَحْظُوْرَاتِ) نهایت زیاته اړتیا (چې مرګ ترې راولاړېږي مثلا) دیني محرمات تحلیلوي.

د ضرورت او اضطرار ترمنځ باید توپیر وکړو، په دنیا کې به هېڅ انسان نه وي مګر ضرورت به لري، که څه هم باچا وي، بډا وي، خو ضرورت به لري، پاتې لا نادار او بې کسه او بې وسه.

لړخه وړاندې موویل چې اضطرار هغه حالت ته ویل کیږي چې یا انساني ژوندکي اخلي او یا یې نور بدني غړي له تلفاتو سره مخ کیږي.

### د اضطرار په حالت کې دومره حرام کول چې اړتیا پرې پوره شي:

هغه مسلمان افراد چې د اضطرار په حالت ګرفتار وي باید له حرامو څخه به دومره استفاده کوي چې ګوزاره یې وشي او تر حلالو پورې پرې رسیدګي وکولی شي، ددې معنی دا نه ده چې خلک به دومره غلا، اختلاس او چورچپاول کوي چې د ځان لپاره پرې د حلال تجارت د اساس تیره کېږدي، نا هېڅکله ترې دا نه دي مراد، بلکې د مسلمان شپوه به دا وي چې له سره به د حلالو لټونوال وي، د حرامو چکر به یې بیخي په ذهني محیط کې نه وي، په دغسې سختو حالتونو کې به انسان له دیني محرماتو څومره ګټه اخلي؟ خپله مونږ ته قران کریم دغه نقشه رسم کړې ده، الله پاک فرمایي

﴿فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَلَآ إِثۡمَ عَلَيۡهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ﴾ [سورت بقره: ۱۷۳]

ژباړه: که اضطرار څوک فوق الذکر محرماتو ته اړ کړ نو له اړتیا نه پورته به یې خوراک نه کوي او نه به پټکې د الله له پولو تجاوز کوي، که څوک دغسې وکړي نو ګناه پرې نشته او الله بښونکی او د رحم والا ذات دی.

باید انسان له ذهنه وباسي چې ګرد محرمات په دې کې نه دي داخل، هسې نه له ایتونو څخه په ناوړه استدلال ځینې د متعې په نوم زنا کوي تر څو ګناه کې واقع نه شي، نا، بلکې متعه دلته خپله زنا ده که څه هم شیعګان یې روا بولي خو ولې هغوی د الله په کتاب له تلاعب پرته نوره هېڅ اراده نه لري، او مونږ دلته اسلامي حکمونه هغه چا ته بیانول غواړو چې اسلامي دین ته ژمن وي، ورنه زنا خپله که څه هم نومونه یې ردو بدل شي او خلک پرې تېرباسل شي خو د الله له حکمونو څخه تعدا او سرغړونه ده، په داسې امورو کې الله هغه څوک ستایلی دی چې محصن وي او فرج یې په حرامو کې استعمال نه شي، الله پاک فرمایي

﴿وَٱلَّذِينَ هُمۡ لِفُرُوجِهِمۡ حَٰفِظُونَ﴾ [سورت مؤمنون: ٥]

ژباړه: او هغه خلک چې خپل فرجونه یې له زنا او لواطتونو نه محفوظ ساتلي وي.

په انعام کې ورته الله پاک وروسته ایتونو کې د همیشګری جنتونو ورکړي دي.

او د مسلمان شیوه به دا وي چې له پیل څخه له زنا او لواطتونو څخه ځان وژغوري، په حیلو او پراړ به هېڅکله د حرامو تحلیل نه شي کیدای، لږ وړاندې د ځانګړي عنوان لاندې ورته اشاره وشوه او هلته مو زده کړل چې په پراډونو باندې د محرماتو تحلیل د یهودانو خوی خصلت دی.

د تېرې اوږدې شننې پایخوړ دفقهاؤ له ایتونو او حدیثونو څخه مستنبطه فقهي قاعده ده چې [الضَّرُوْرِيَّاتُ تُقَدَّرُ بِقَدَرِهَا] (الوجيز في ایضاح القواعد الفقه الكلية: ١–٢٣٩، د دکتور محمد صدقي لیکنه څلورم چاپ ١٤١٦، مؤسسة الريان).

اړتیاوې به په اندازې سره ترسره کیږي، نه به په کې څوک له حده تجاوز کوي او نه به یې له اړتیا نه زیات استعمالوي.

**له مشتبهاتو څخه به انسان ځان ژغوري:**

که څه هم اسلامي دین ګرد محرمات او حلال په ښه ډول واضح کړي دي خو دنبوي

حدیثونو له مخې ځینې امور مشتبه دي، د مسلمان سره ښائیږي چې ځان ورڅخه رابند کړي، شاید فلسفه په کې هم دا وي چې الله پرې زمونږ ایمانونه ازموي چې په کوم انداز کې دي، ځان ته نه بلکې مونږ ته یې راښایي چې تاسو د ا یمان دعوېدار څومره په ایمان کې یاست او څومره ترې بهر یاست، څومره په خپلې ژمنې کلک ولاړ یاست او څومره ورته ژمن نه یاست، په داسې ازمېښتونو الله پاک د مسلمانانو صفونه له منافقینو څخه تصفیه کوي، له دې کبله خو غیر مسلم بیع او سود یو شی بولي، هېره دې نه وي چې مشتبهات په هغه امورو کې داخل نه دي چې شارع ترې تفضلاً سکوت کړی وي، بلکې مشتبهات او دغه څېر مباح مسکوتات سره منځ کې د اسمان او ځمکې توپیر لري، له دې کبله اسلامي او دیني درېځ په داسې مسائلوکې دا دی چې تفضلاً مسکوت عنه کې به څوک پوښتنې نه کوي، بلکې استعمال یې مباح دی او انسان که وغواړي ترې مستفید شي نو کولی شي، خو ولې په مشتبه امورو کې دیني حکم په بشپړه توګه ځان ژغورنه ده، که څوک پرې اخته شي نزدې ده چې د الله په ممنوعه علاقه کې ځان وځروي، راروان حدیث یې په ډېره ښه توګه مزید توضیحوي، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: [الحَلاَلُ بَيِّنٌ، وَالحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ لاَ يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى المُشَبَّهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ: كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ، أَلاَ وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلاَ إِنَّ حِمَى اللهِ فِي أَرْضِهِ مَحَارِمُهُ] (صحیح البخاري: ٥٢).

ژباړه: حلال هم ښکاره دي او حرام هم ښکاره دي، ترمنځ یې داسې څه مشتبهات دي چې زیاتره خلک یې نه پېژني، که له دغې امورو څخه چا ځان وژغورو نو دین یې له نقص او عزت یې له طعن تشنیع څخه بچ وساته، خو که څوک په دغه شبهاتو کې واقع شي نو د هغه شپون مثال لري چې د ممنوعې علاقې نزدې خپله رمه څروي، نزدې ده چې ممنوعې علاقې ته خوله واچوي، خبردار چې هر ټولواک ممنوعه علاقه لري او د الله پر ځمکه د هغه ممنوعه علاقه د هغه محرمات دي.

چې کله هم انسان د یو شي اړوند په یوه دوه کې شي مناسب ده چې له ریب او شک هلته وکوچیږي چې حقیقت او روښنایي ده، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي [دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ، فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِينَةٌ، وَإِنَّ الكَذِبَ رِيبَةٌ] (جامع الترمذي: ٢٥١٨).

ژباړه: هغه څه پرېږده چې شکونو کې دې اچوي د هغه څه لپاره چې شکونو کې دې نه اچوي، رښتیا ډاډ او دروغ خپله شکونه دي.

له حدیث څخه ډېر ښه څرګندیږي چې د مسلمان هستي سره نه ښائیږي چې تحلیلاتو او تحریماتو کې یې ټول استناد په شکونو او حیلو ولاړ وي.

دا چې نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صدقات نه خوړل او پرې حرام و، له اشد احتیاط له کبله یې د لارې پر سر پرته کجوره تر خولې نه کړه په دې خاطر چې هسې نه د صدقې کجوره وي، امام بخاري رَحِمَهُ الله په خپل صحیح کې له انس رضي الله عَنْهُ نه په (۲۰۵۵) شمېر روایت کوي [مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِتَمْرَةٍ مَسْقُوطَةٍ فَقَالَ: لَوْلاَ أَنْ تَكُونَ مِنْ صَدَقَةٍ لَأَكَلْتُهَا].

ژباړه: نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاره کې پر لویدلې کجورې تېر شو، نوویېل: که خوف راسره نه وی چې له صدقې څخه به وي نو خوړلې به مې وه.

دا او دېته ورته نور ډېری روایتونه په ښه توګه څرګندوي چې په مشتبه امورو باندې چا ته حرام نه حلالیږي که څه هم بشري تاییدات ولري خو ولې لږ وړاندې مو ویل چې تحلیل اوتحریم د شارع ځانګړي حقوق دي هېڅ څوک ورسره په کې د شراکت حق نه لري.

**غوره خواړه د خپل لاس ګټه وټه ده:**

د حدیثونو په ګردو ټولګو کې که د بیوع په باب کې ژور نظر واچو راته به جوته شي چې د پلور اوپېر لپاره اسلام د انساني سعادت لپاره د کامیابۍ اصول ایښې دي، دا نه چې ورڅخه یې رابند کړی دی او بس، بلکې د پراډ او دوکې ټول ډولونه یې حرام بولي دي، پر حرامو یې انسان ته سخت دنیوي او اخروي وعیدونه هم ورکړي دي، که څوک د چا مالیت د هغه له رضا پرته واخلي که څه هم ډېر کم وي، بې باکه وي خو حرام دی، چې تر څو یې ورته مالک بخشش نه کړي نو د قیامت پر ورځ به ورسره الله حساب کتاب کوي.

په دغه باب نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ، خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ، وَإِنَّ نَبِيَّ الله دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ، كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ] (صحیح البخاري: ۲۰۷۲).

ژباړه: د خپل لاس له ګټې وتې پرته غوره ترین خواړه نور څوک نه خوري، د الله نبي داود عَلَيْهِ السَّلاَم به هم د خپل لاس ګټه وته خوړله.

یو بل روایت هم شته چې زمونږ مفهوم لا پسې واضحه کوي، نبی کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [إِنَّ أَطْيَبَ مَا أَكَلْتُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ، وَإِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ] (جامع الترمذي: ١٣٥٨).

ژباړه: ډېر حلال خواړه هغه دي چې ستاسو خپله ګټه وته وي، او ستاسو بچيان ستاسو ګټه وټه ده.

که څه هم په دې باب روایتونه ډېر دي خو د بهترو خوراړو په باب کې به ان شاء الله دومره بسنه وکړي، د حق پېروکارو ته هم دومره بسنه کوي که څه هم کلمات کم وي، او باطل پرستو ته که څه هم لوی کتاب واوروې خو ولې زنګين زړه یې پرې له شکوکو او شبهاتو ډک وي.

### په معاشي جدوجهد کې د اسلامي دين ترغيب:

د اسلامي دين پر کمال او جمال يې د پلور او پېر مبين احکام ډېر ښه ګواه دي، د ژوند اړوند هيڅ اړخ يې کم او لا وباله نه دی پرېښی، که د پلور او پېر هر ايت او حديث ته څېړنېزه کتنه وکړو شايد خبره دومره اوږده شي چې موخه به په ښه توګه واضحه نه شي، ان شاء الله دومره به بسيا وکړي چې دحکم استناد صحيح او صريح حديث ته وشي.

په دې برخه کې غواړو ځينې هغه نصوص ذکر کړو چې تعطل او بې کاري يې په سختو کلماتو غندلې ده، او هغه څوک يې هم غندلي دي چې د بل په اوږو پيټی وي، اسلامي تعليمات دا دي چې مسلمان کې به جمود نه وي بلکې د ټولنې فعال غړی به وي چې خير او ګټه يې هر چا ته شامله وي.

د ابوهريرة رضي الله عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي [لَأَنْ يَحْتَطِبَ أَحَدُكُمْ حُزْمَةً عَلَى ظَهْرِهِ، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ أَحَدًا، فَيُعْطِيَهُ أَوْ يَمْنَعَهُ] (صحيح البخاري: ٢٠٧٤).

ژباړه: تاسو کې چې څوک په خپلې شاه د لرګو ګېډی راوړي نو له دې څخه به

ورله ډېره غوره وي چې له چا څخه سوال کوي چې یا ورته څه ورکړي او یا یې ورنه کړي.

پر کاروبار بانديې دین دومره هڅونه ورکړې ده چې ساری نه لري، دزبیر بن العوام رَضِيَ الله عَنْهُ په روایت نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي [لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ أَحْبُلَهُ، فَيَأْتِيَ الْجَبَلَ، فَيَجِيءَ بِحُزْمَةِ حَطَبٍ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَبِيعَهَا، فَيَسْتَغْنِيَ بِثَمَنِهَا، خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ، أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ] (سنن ابن ماجه: ۱۸۳۶).

ژباړه: تاسو کې چې څوک خپل پړی (رسۍ) واخلي او غره ته لاړ شي، د لرګو ګېډۍ پر خپلې شا راوړي او خرخ یې کړي او په پیسو یې ځان له نورو نه غني کړي له دې څخه به ورله ډېر غوره وي چې له خلکو نه سوال کوي، چې هغوی یا څه ورکړي او یا یې ورنه کړي.

دا دومره مقنع اسلوب دی چې ساری نه لري، هر څوک کولی شي تر کافي حده ځان وپوهوي چې د بل لاس ته ناسته او ځان پر نورو پیټې کول څومره مذموم او نفسي عزت لاهو کوي، او ځان پر کاروبارو مشغول ساتل او د الله نور مخلوق ته کتنه رسولو کې څومره خوند او دیني او دنیوي عزت دی.

د تېر په څېر یو بل حدیث دی او په پوره معنی توضیحوي چې صحابه کرام رضي الله عَنْهُمْ د بل چا د شتمنیو غله نه وو، هغوی پر بل چا تکیه نه و، د خپل ژوند مراحل یې د نورو شتمنیو ته په طمع توقع نه دي تېرې کړې، عایشه رضي الله عَنْهَا وایي [كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَّالَ أَنْفُسِهِمْ، وَكَانَ يَكُونُ لَهُمْ أَرْوَاحٌ، فَقِيلَ لَهُمْ: لَوِ اغْتَسَلْتُمْ] (صحيح البخاري: ۲۰۷۱).

ژباړه: د نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ملګرو به هر چا کارونه خپله کول، (د خولو له کبله) به ترې بد بوي تلو، نو ورته وویل شول چې (که دجمعې په ورځ) مو غسل کول نو ښه به وکړئ.

مطلب دا دی چې اسلام له هاغه وخته اسلام دی، اوس هم چې مسلمان پرمختګ غواړي باید د صحابه کرامو له ژوند څخه مسیر مستنبط کړي او خپل ځان او اموال باید په مشروعه توګه توظیف کړي، کټه به یې هم ډېره، هم حلاله او له طمانینت څخه ډکه وي.

### د صحابه کرامو له حرام خورۍ څخه ځان ژغورنه:

په صحابه کرامو رضي الله عَنْهُمْ باندې د خشوع او خضوع تمامه وه، هغوی د زهد او پرهيزګارۍ په ګانه دومره سينګار وو چې اوس مهال يې بېخي نمونه نشته، چې پر نورو به يې خپل ماليت ونه خوړ نو د نورو ماليت خو به يې بېخي نه خوړه، په وړه او اندک مسئلو کې به يې دومره تحقيق کو چې ته به وايې له دې به بله ستره ګناه نه وي، له دې کبله خو يې ايمانونه هم معياري وو او مونږ هم د هغوی د ايمانونو په څېر ايمان باندې تحضيض شوي يو.

که څه په دې باب ډېر تاييدات لرو خو وړانګين تاييد يې هغه واقعه ده چې عائشې رضي الله عَنْهَا روايت کړې ده فرمايي [كَانَ لِأَبِي بَكْرٍ غُلاَمٌ يُخْرِجُ لَهُ الخَرَاجَ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يَأْكُلُ مِنْ خَرَاجِهِ، فَجَاءَ يَوْمًا بِشَيْءٍ فَأَكَلَ مِنْهُ أَبُو بَكْرٍ، فَقَالَ لَهُ الغُلاَمُ: أَتَدْرِي مَا هَذَا؟ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: وَمَا هُوَ؟ قَالَ: كُنْتُ تَكَهَّنْتُ لِإِنْسَانٍ فِي الجَاهِلِيَّةِ، وَمَا أُحْسِنُ الكِهَانَةَ، إِلَّا أَنِّي خَدَعْتُهُ، فَلَقِيَنِي فَأَعْطَانِي بِذَلِكَ، فَهَذَا الَّذِي أَكَلْتَ مِنْهُ، فَأَدْخَلَ أَبُو بَكْرٍ يَدَهُ، فَقَاءَ كُلَّ شَيْءٍ فِي بَطْنِهِ] (صحيح البخاري: ٣٨٤٢).

ژباړه: د ابوبکر رضي الله عَنْهُ يو غلام و چې ګټه وټه به يې ورله کوله او هغه به يې د لاس ګټلی مال خوړه، يوه ورځ يې ورته څه راوړل هغه وخوړل، غلام يې ورته وويل: ايا پوهه يې چې څه دې وخوړل؟ هغه وويل: ولې څه شی و؟ غلام وويل: د جاهليت په مهال مې د يو چا لپاره کهانت کړی و خو په کهانت هم لا نه پوهېدم دوکه مې ورسره کړې وه، هغه راته دغه اجرت راکړی و چې تا وخوړ، ابوبکر رَضِیَ اللہ عَنْهُ خپل لاس تر خولې ننويست او له خېټې يې ټول په کانګو راوويستل.

چونکه هغوی داسې وو نو ايمانونه يې ځکه معيار دي، ځکه خو ټول مستجاب الدعوه هم وو، ځکه يې په شتمنۍ کې خير او برکتونه ول، ځکه خو به ورته دنيا پريمانه راروانه وه خو ولې دوی به خپله نه قبلوله، رضي الله عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ.

### د حرام خور دعاګانې نه قبلېږي:

په دې کې شک نشته چې الله رب رحيم ذات د انساني سعادت او ګرد بشريت

لپاره له تقدیس او سپیڅلتیا څخه ډک دین بې د ساري لورینې په خاطر راستولی دی، مونږ مکلف یو چې په مزایاو یې ځان تر توانه وخبر وو، هر خوند ته یې بل پاتې راځي چې خورا ستر یې استجاب الدعوات دی، د الله سره مناجات دی، په ستړیو ستومانو کې الله ته خپلې لپې پورته کول دي، دا داسې حالتونه دي چې د رب کائنات سره پرې د هغه خالص بندګان خوند او مزه اخلي، د الله سره مناجات ورته له هر څه او هر چا څخه د محبوبیت په قمة الشرف کې وي، خو ولې ځینې داسې اسباب شته چې له دغې حالت څخه انسان رابندوي، د الله سره مناجات ترمنځ یې عائق واقع کیږي، خو که په فرضي ډول د الله په عبادتونو پېل هم وکړي نو هېڅ مزه ترې نه شي اخستلی، عبادتونه پر ځان بوج بولي، د عقیدوي منافق په څېر یې یا په ریاء او یا هم په بشپړ کسالت ادا کوي، یو هغه سبب چې د عبادتونو مزه وړي او د رب سره د انسان اړیکي شکوي حرام خوري ده، امام مسلم رَحِمَهُ الله په خپل صحیح کې په (۱۰۱۵) شمېر باندې له ابوهریره رضي الله عَنْهُ څخه روایت کوي چې نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي [أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ، فَقَالَ: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَٱعۡمَلُواْ صَٰلِحًاۖ إِنِّي بِمَا تَعۡمَلُونَ عَلِيمٞ﴾ [سورت المؤمنون: ٥١]، وَقَالَ: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ﴾ [سورت البقرة: ١٧٢]، ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟].

ژباړه: ای خلکو! الله پاک دی او له پاکو پرته نور څه نه قبلوي، الله مومنان پر هغه څه امر کړي دي چې پېغمبران یې پرې امر کړي دي، الله وایي: ای پېغمبرانو! له پاکو شیانو څخه خوراک کوئ او نیک عملونه وکړئ، تاسو چې څه کوئ زه پرې دانا یم، او فرمایي: ای مومنانو! هغه پاک خواړه خورئ چې مونږ درته درکړي دي، بیا نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو سړی ذکر کړ چې پر اوږد سفر هم وي، ببر سر او ګرد غبار اخستی وي، اسمان ته یې لاسونه اوږده کړي وي او د یا رب یا رب... کلمات وایي، حالانکه خواړه یې حرام وي، څښاک یې حرام وي، پوښاک یې حرام وي او پر حرامو تهوکېدلی وي، نو دعا به یې څنګه قبوله شي.

پر دې حدیث نور داسې وضاحت هېڅ ارزښت نه لري چې موخه پرې لا روښانه

شي، دې حديث چې مقاصد څومره توضيح کړي دي شايد زمونږ کلمات او اسلوب ترې تر ډېره حده عاجز راشي، همدومره بسنه کوي چې حرام خوري د دعاء له قبول څخه لوی مانع دی، د حرام خور هېڅ اواز تر عرشه نه رسيږي، د حرام خور اواز او درد هېڅکله نه الله قبلوي که څه هم ستونزو سترېو ښکېل کړی وي.

## په حرام مال صدقه کول هم نه قبليږي:

په مخکني عنوان کې مو زده کړل چې پيغمبران او امتيان يو څېر الله پاک په پاکو خوارو مامور کړي دي، په پاکو خوارو کې ډېر ديني رازونه دي که يې استحصاء وکړو شايد عاجز پاتې شو، خو که دا ليکنه يوآځې د حرامو منفي اړخ ته ځانګړې کړو او سلبيات يې راغونډ کړو شايد د پلور پېر نور مسايل راڅخه په ځای پاتې شي، د حلالو لويه فلسفه يوه دا ده چې الله د حلال خور دعاګانې قبلوي او د حرامو خور فرياد او ژړا الله بيخي نه قبلوي او که قبلوي يې نو په اسلام کې ورته استدارج ويلی شوی دی د حرامو په څېر ورته استدارج هم د ستر عذاب نښه ده.

همدارنګه بل حديث دی په غوڅو الفاظو څرګندوي چې د خيانت، د چور چپاول، د غلا او سرقت يا د بلې باطلې لارې څخه مالي کمايي د عبادتونو د نه قبول بل لامل دی، دا څومره لويه سزا ده چې انسان ګرد ديني عبادتونه کوي او اسلامي ارکانو ته په هر حال او ان کې حاضري ورکوي خو ولې الله يې په خپل دربار کې نه قبلوي، ځکه چې د قبوليت بنسټيز لامل پکې معدوم دی، له قبوليت څخه يې ستر عائق ترمخه ولاړ دی، که څه هم په عبادتونو کې ورته سترې ستونزه ده خو ګويا کې دا يې دنيوي عذاب دی، مصعب بن سعد وايي [دَخَلَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ عَلَى ابْنِ عَامِرٍ يَعُودُهُ وَهُوَ مَرِيضٌ فَقَالَ: أَلَا تَدْعُو اللهَ لِي يَا ابْنَ عُمَرَ؟ قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ] (صحيح مسلم: ٢٢٤).

ژباړه: عبدالله بن عمر رَضِيَ الله عَنْهُ د ابن عامر عيادت کو، هغه ورته وويل: ابن عمره! دعاګانې راته کوه، هغه ورته وويل: ما له رسول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اورېدلي دي چې له طهارت پرته الله لمونځ نه قبلوي او نه هم له غلا او خيانت څخه صدقه او خيراتونه قبلوي.

او دعا نه قبلېدل هم لوی عذاب دی، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تل له دې څخه پناه غوښته چې ای الله له هغه فریاد، اواز، ښېرا، غوښتنې څخه درپورې پناه غواړم چې نه قبلیږي.

که څه هم د دعاګانو د نه قبلېدو ډېر لاملونه نور هم دي خو ولې ستر یې حرام خوري ده.

**د حرامو او حلالو ترمنځ توپير نه کول د قیامت نښه ده:**

د مالیت د ډېرښت لپاره که څوک حلال اسباب په کار واچوي نه یې اسلام تقبیحوي او نه یې کله غندلي دي تر هغه چې د مالیت د راغونډولو اسباب مباح وي، اسلام تل لپاره په کاروکسب او عملي میدان کې ونډه لرلو باندې تیزي ورکړې ده او له تعطل او بې کارۍ څخه یې مسلمان فرد په سختو کلماتو رابند کړی دی، خو که څوک د خپل مالیت د ډېرښت اړوند د حرامو او حلالو توپیرونو باندې پټ سترګي کوي، په دې ډګر کې لاوباله وي چې کمایي له حلالو او که له حرامو څخه راروانه ده، نو داسې حالتونه د قیامت ورځې په نزدېکت خورا لوی دلیل دی، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، لاَ يُبَالِي المَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ، أَمِنَ الحَلاَلِ أَمْ مِنَ الحَرَامِ] (صحیح البخاري: ۲۰۵۹).

ژباړه: په خلکو به داسې وخت راشي چې سړی به پکې د دې هیڅ پروا نه کوي چې مال یې له حلالو او که له حرامو واخست.

**د قیامت په ورځ به د حرام مال خصوصي پوښتنه کیږي:**

دنیا د عمل میدان او قیامت په اعمالو د جزا او سزا کور دی، هر امتحان پایله او انجام لري، هر ازمېښت مکافات او مجازات لري، فرد بویه چې ازمېښت ورته څومره ارزښت لري او څومره ورته لیواله او یا لاوباله دی، خو نتائج به هرومرو ویني، که خوښه یې وي او که نه خو د پایلو مزه به هرومرو څکوي، ظلم او بربریت، چور او چپاول، حرام خوري او پر حرامو کلک ولاړو خلکو څخه به الله د قیامت په ورځ د هر مظلوم حساب کتاب واخلي، دغسې انسان چې زندګي یې په نیکو عملونو او له حرامو اړخونو یې مالیت راغونډ کړی وي، ظلم او بربریت

يې اوج ته رسېدلی وي، له دنیا څخه په داسې حالت کې کوچېدلی وي چې نه خو توبه تائب وي او نه يې مظلمه خپل اهل ته ورکړې وي، دغسې انسان ته اسلام د قیامت د ورځې مفلس ویلي دي، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوه ورځ له خپلو احبابو او ملګرو څخه وپوښتل [أَتَدْرُونَ مَنِ الْمُفْلِسُ؟ قَالُوا: الْمُفْلِسُ فِينَا يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْمُفْلِسُ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاتِهِ وَصِيَامِهِ وَزَكَاتِهِ، وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا، وَأَكَلَ مَالَ هَذَا، وَسَفَكَ دَمَ هَذَا، وَضَرَبَ هَذَا فَيَقْعُدُ فَيَقْتَصُّ هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْتَصّ مَا عَلَيْهِ مِنَ الْخَطَايَا أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ] (جامع الترمذي: ٢٤١٨ ٩).

ژباړه: ایا تاسو پوهېږئ چې مفلس څوک دی؟ هغوی وویل: د الله رسوله! مونږ کې مفلس هغه څوک دی چې پیسې ټکې او د سازو سامان څښتن نه وي، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل: د قیامت په ورځ زما په امت کې مفلس هغه څوک دی چې لمونځونه، روژې او زکات به راوړي، ده ته به یې کنځلې کړې وي او په ده به یې تور پورې کړی وي، د ده به یې مال خوړلی وي او د ده به یې وینه تویه کړې وي او دا به یې وهلی وي، تر هغه به کېنولی شي چې حسنات (روژه، لمونځ، زکات او...) ترې د ظلمونو او حرام خورۍ په بدل کې واخستل شي، خو که حسنات یې د حقوقو په بدل کې ختم شول او حقوق پرې پاتې وو نو د مظلومانو ګناهونه به راواخستل شي او په دغه ظالم حرام خور به واچول شي او بیا به اور ته وغورځول شي.

ډېر لوی وعید دی که څوک په سر کې مغز ولري، د خفګان ډېر لوی مقام دی چې څوک خپل حسنات د بل په ترازو کې ویني، د خفګان لوی مقام دی چې څوک بقاء په فناء پلوري، د خفګان لوی مقام دی چې د بل په سترې څوک خپله هوسا له لاسه ورکوي.

په دې اړه د معاذ رضي الله عَنْهُ یو بل حدیث هم دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ، وَعَنْ عِلْمِهِ فِيمَ فَعَلَ، وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ، وَعَنْ جِسْمِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ] (جامع الترمذي: ٢٤١٧).

ژباړه: د قیامت په ورځ به تر هغه د انسان قدمونه حرکت ونه کړي چې ورڅخه د عمر په بابت پوښتنه ونه شي چې په څه کې يې تېر کړی دی، او د علم اړوند چې څه يې پرې کړي دي، او له مال او دولت څخه چې له کومه يې ګټلی او په څه کې يې لګولی و، او د بدن باره کې چې په څه کې يې زوړ کړی و.

نو په حدیث کې دې ته اشاره وشوه چې مالیت او ټکې پیسې هغه نعمت دی چې الله به يې له بنده څخه ځانګړې پوښتنه کوي، چې حلال او که حرام دی؟ که حلال وي او د خیر په امورو کې مصرف شوی وي نو فبها ونعم، مزې او چړچې به يې وي، خنداګانې او خوشحالیانې به وي، نعمتونه او رزقونه به وي، جنتونه او حورې غلمان به وي، خو که مال حرام وي او په حرامو کې ځای پر ځای شوی وي نو له وېر او ژړا، له نکال او عذاب، له اور او سوز پرته به نور څه نه وي، او نعوذ بالله د جهنم داسې عذابونه دي چې د وخت په مرور سره به لا پسې تودېږي، لا پسې زیاتیږي، لا پسې په جوش او غومبره کیږي، (فَذُوْقُوْا فَلَنْ نَزِيْدَكُمْ اِلاَّ عَذَاباً) عذابونه وڅکئ، مونږ به درته عذاب لا پسې نور هم اضافه کړو.

**حرام خور به هرومرو جهنم ته ځي:**

جنت پاک کور دی او پاک خلک به ورته ځي، هغه څوک به جنت ته ځي چې د قراني ایتونو او نبوي حدیثونو په تعمیل يې تقدیس ګټلی وي، خو ولې هغه خلک چې خپل اصلیت يې په کم اصلو کارونو پلورلی وي، لالونه يې په ابرو ورکړي وي، جنت نه بلکې دوزخ ته به ځي، دوزخ خپله ګنده او د ګنده خلکو ځای دی، نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کعب بن عجرة رَضِيَ الله عَنْهُ ته د ګڼ شمېر وصیتونو په ترڅ کې دا هم وویل [يَا كَعْبُ بْنَ عُجْرَةَ، لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنْ سُحْتٍ، النَّارُ أَوْلَى بِهِ] (مسند احمد: ١٥٢٨٤).

ژباړه: ای کعبه! جنت ته هغه څوک نه شي ننوتلی چې غوښه يې له حرامو راټوکیدلې وي، اور پر ده زیات لایق دی.

# د پلور او پېر غوره والی او اسلامي ادبونه

د اسلامي دين حقانيت هغه څوک پېژندلی شي چې د سپېڅلي کتاب مقدس مخونه يې وګوري، پر بندګانو د الله د رحمت ځپې وګوري، اسلامي دين داسې نه دی چې يوآځې په عبادتونو باندې زور ورکوي، نا بلکې د عبادت په څېر يې په کار او کسب هم قابل غور هڅونه کړې ده، اسلام غواړي چې هر فرد د عبادت په څېر له حلال مالونو څخه دومره اندازه کمايي ولري چې د سوال له مخې پر چا د مخ اوبه ونه پلوري او حتی چې نبي کريم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا، فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ] (صحيح مسلم: ۱۰۴۱).

ژباړه: څوک چې له خلکو څخه د ماليت سوال په دې خاطر کوي چې پانګه يې ډېره شي نو په حقيقت کې سکروټې راټولوي، اوس يې خوښه چې کمې (لږې) سکروټې راټولوي او که ډېرې.

په راروانو نصوصو کې به په تفصيلي بڼه وپوهېږو چې په اسلامي قاموس کې پلور او پېر او له حلالو څخه کمايي څومره ارزښت لري؟

او زده به کړو چې اسلام دنيا او اخرت دواړو ته شامل دی، په روا بڼه دنيا ګټل هېڅکله اسلام ضد نه دي، او نه سره دواړه يو له بله مستقل دي، دواړه عبادتونه دي او په دواړو کې انسان په ښه نيت ماجور دی.

### حلال تجارتي منافع د الله ځانګړې لورينه ده:

تر دې مهاله چې څومره وغږېدو او لا غږېږو موخه مو ورڅخه دا ده چې د افرادو له ذهنه اوباسو چې اسلام اوس هم کمی لری، الله پاک فرمايي

﴿ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡۚ فَإِذَآ أَفَضۡتُم مِّنۡ عَرَفَٰتٖ فَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ عِندَ ٱلۡمَشۡعَرِ ٱلۡحَرَامِۖ وَٱذۡكُرُوهُ كَمَا هَدَىٰكُمۡ وَإِن كُنتُم مِّن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ [سورت بقره: ۱۹۸]

ژباړه: پر تاسو هېڅ ګناه نشته چې (د حج په موسم کې) د الله فضل (پلور او پېر) ولټوئ، له عرفات څخه چې کله راښکته شئ په مشعر الحرام (مزدلفه) کې د الله ډېر ډېر یاد وکړئ، او په هغه بڼه یې یاد کړئ چې په سمه توګه یې تاسو ته هدایت کړی دی، که څه هم له دې نه وړاندې په داسې ضلالت کې وئ چې حق مو نه پېژنده.

ایت په تفصیلي توګه واضحوي چې انسان که څه هم د حج په نېت روان دی خو ولې کولی شي چې د نیوي ګټه وټه هم په نظر کې ولري، دغه دنیوي ګټه وټه یې عبادت نه اغېزمن کوي، بلکې (عِبَادَةٌ وَ اسْتِفَادَةٌ) هم عبادت او هم ګټه وټه.

هم د الله فرض ا دا کړي او هم د الله دنیوي لورینه راټولوي، دواړه هېڅکله ضد نه دي او نه یو پر بل بد اثر لري.

په قران کې یو بل ایت هم دی چې دا معنی یې لا پسې تفسیر کړې ده، الله پاک فرمايي

﴿فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلْأَرْضِ وَٱبْتَغُواْ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَٱذْكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [سورت جمعه: ١٠]

ژباړه: کله چې لمونځ تر پایه ورسیږي نو بیا په ځمکه د الله د فضل لټولو پسې ولاړ شئ، او الله ډېر ډېر یادوئ شاید کامیاب شئ (له اور څخه نجات تر لاسه کړئ او جنت ته ولاړ شئ).

جوته شوه چې په دواړو ایتونو کې له (فضل) څخه د الله په ځمکه کې د حلال رزق روزۍ پلټنه ده، تجارتي امورو ته وده ورکول دي، له روا لارې څخه د مالیت راغونډول دي، او (فضل) هم ورته په دې بنا وویل شول چې د ګټلو ذرائع او اسباب به یې حلال دي، که د مالیت په ډېرښت کې څوک ناروا اسباب په کار واچوي که څه هم په مقدسو ځایونو کې وي خو تجارت یې ناروا او حرام دی، د حرامو ذرایعو له مخې مالیت ته وده ورکول (فضل) نه بلکې الهي عذاب ورته ویل شوی دی، دغسې ډېرښت او بڼه ژوند ته الله په قران کریم کې (مهلت) ویلی دی.

**سوداګر باید له اسلامي سوداګریز اصولو څخه واقف وي:**

ټول هغه بنسټیز مسایل چې اسلامي مبین شریعت د پلور اوپېر لپاره ایښي دي باید مسلمان سوداګر ورڅخه په دومره اندازه واقف وي چې په ناعلمۍ کې په حرامو کې مبتلا نه شي، او پر دغې اصولو د معرفت له مخې وکولی شي چې هغه

روزي ترلاسه کړي چې د حرامو هېڅ بوي په کې نه وي، له دې کبله به عمر رضي الله عَنْهُ د خلافت په دور کې ټول سوداګر مکلف کړي وو چې دغه زده کړې همېشه په ذهن کې ولري، تر څو وکولی شي ځان له حرامو څخه وژغوري، امام ترمذي په خپل جامع کې (٤٨٧) نمبر باندې له عمر رضي الله عَنْهُ څخه نقلوي چې (لَا يَبِعْ فِي سُوقِنَا إِلَّا مَنْ قَدْ تَفَقَّهَ فِي الدِّينِ).

ژباړه: زمونږ په بازار کې دې هغه څوک پلورل نه کوي چې په دین علم او معرفت نه لري.

نو په سوداګریزو اصولو دانش لرل بالخصوص او د اسلام په احکامو بالعموم پوهه لرل د ښه مسلمان شیوه ده، داسې ډېرې بېلګې مونږ د سلفو صالحینو په ژوند کې وینو چې په پلور او پېر کې يې نهایت زیات احتیاط کړی دی، په دې خاطر چې ټول دین د انسان په شمتنئ ولاړ دی، نو که شتمني حرامه وي یا یې کمایي له حرامو څخه وشي نو په دین کې به یې څه خوند پاتې شي؟ زکات د مال سره تعلق لري، حج د مال سره تعلق لري، نور د نفقاتو ډېر بابونه چې که دلته یې ذکر ته کار ووایو شاید موخه راڅخه پاتې شي، د صدقاتو ټول انواع چې د مال سره کلکه اړیکه لري او الله ته پرې انسان نزدې کیږي هغه مالیت دی چې کمایي یې له حلالو څخه شوي وي، همدا ډول د پلور او پېر اسلامي اصول پېژندل ځکه اړین دي چې له حرامو څخه ځان ژغورنه په کې نغښتل شوې ده، علي رضي الله عَنْهُ فرمايي (مَنِ اتَّجَرَ قَبْلَ أَنْ يَتَفَقَّهَ ارْتَطَمَ فِي الرِّبَا ثُمَّ ارْتَطَمَ ثُمَّ ارْتَطَمَ).

څوک چې په دین کې له فقاهت وړاندې تجارتي سلسله پیل کړي نو په ربا کې وغورځيږي، په ربا کې به وغورځيږي، په ربا کې به وغورځيږي.

دا چې صحابه کرامو رضي الله عَنْهُمْ به تر هغه مهال د پلور او پېر اقدام نه کو تر څو یې متعلق غښتلي معلومات ونه لري په دې خاطر چې په حرامو کې واقع نه شي، نو زندګي يې هم له خیر او برکت نه ډکه وه او هم خپل منځني تعلقات يې هم داسې وو چې اوس مهال يې بېلګې په نظر نه راځي.

که د هغوی حالت مونږ له خپل نني بازاري حالت سره پرتله کړو، وبه وینو چې ډیری خلک د پانګونې په خاطر غیر مشروعې لارې تعقیبوي چې په کې د سود او حرام خورۍ لارې هم دي، په پلور اوپېر کې د خداع او ټګمارۍ دومره اسالیب استعمالوي

چې نظیر یې نشته، او داسې انګیرې چې ګټنې د پلور او پېر لپاره اسلام حنیف دین اصول او ضوابط نه لري، خپل ټول عمر د حرامو په راغونډولو کې په دې ګمان تېر کړي چې ګټنې د خپل لاس ګټې وټې ته ناست یم او حرام راباندې سیوری نه دی.

**مسلمان سوداګر به سوداګریزو اصولو کې وعده تراشي نه کوي:**

وړاندې له دې چې شننیزه سلسله وړاندې بوځو باید ووایو ژمنې ماتول که سوداګریزې وي او که نه د منافق سړی خوی خصلت دی، که تاوان وي او که ګټه خو مسلمان به په کړي لوظ کلک دریځه وي، خپل اسلام او غالي دیانت به په خسیسو او ارجاسو شیانو نه پلوري، په پلور او پېر کې باید مسلمان دنیوي فنا او اخروي بقاء سره خپل منځ مقایسه کړي، په راروانو کرښو کې به لږ.زره اسلامي اصول مزید په دې بابت ذکر کړو چې په عقودو او معاملاتو کې باید مسلمان سوداګر خپل لوظونه مات نه کړي.

١ الله پاک فرمایي

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِ﴾ [سورت مائده: ١]

ژباړه: ای مومنانو! په خپلو لوظونو پوره والی وکړئ.

ددې ایت په تفسیر کې عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا څخه نقل دي چې ای مومنانو! هغه لوظونه تکمیل کړئ چې د الله سره مو کړي دي او هغه لوظونه تر اتمام ورسوئ چې د خلکو سره مو کړي دي، هغه فرائض انجام کړئ چې درباندې فرض شوي دي...

په تفسیر فتح القدیر کې د ایت تفسیر او د (عُقُوْد) کلمې د شرحې په ترڅ کې ذکر کوي (هِيَ الْعُقُودُ الَّتِي يَعْقِدُونَهَا بَيْنَهُمْ مِنْ عُقُودِ الْمُعَامَلَاتِ، وَالْأَوْلَى شُمُولُ الْآيَةِ لِلْأَمْرَيْنِ جَمِيعًا، وَلَا وَجْهَ لِتَخْصِيصِ بَعْضِهَا دُونَ بَعْضٍ).

له دې څخه یې د خپل منځني معاملاتو عقود مراد دي، خو ولې دروسته دا ده چې د الله او بندګانو سره ټولو عقودو ته ایت شمولیت لري ځکه چې د تخصیص هیڅ وجوهات یې په ایت کې نشته.

بهر کیف د مسلمان سره بالعموم او د سوداګر سره په ځانګړي ډول نه ښايي چې د عهدشکني وکړي.

۲ ولې باید پر خپلو ژمنو کلک دریځه شو؟ په دې کې دیني فلسفه څه ده؟

ځکه باید پرخپلو ژمنو ترهغه کلک ولاړ اوسو تر څو يې تکميل کړو چې الله رب کائنات راځخه د لوظونو اړوند مخالفت پوښتي او انسان پرې سزا وار کيږي، او په پوره والي يې د انسان د ثواب درجې مخ په پورته ځي.

او ديني فلسفه په کې هم دا ده چې بشري روحيت په کې وده کوي، نفسي اطمئنان ورسره شته کيږي، پر مسلمان ورور د ډاډ عقيده لرل دي چې په اسلامي اصولو دومره کلک ولاړ دی چې که څه له هم ځاني تاوان سره مخ کيږي خو له ژبې نه تيريږ، او تر هر څه لوی هدف په کې دا دی چې اسلام ته دعوت ورکول دي، غير او اغيار په دې خبرول دي چې مسلمان د مسلمان او حتی د نوم انسان سره که څه هم کافر وي پر خپلې وعدې تر هغه کلک ولاړ وي تر څو يې پوره کړې نه وي، تر څو هغه ته درس ورکړي چې پر لوظونو کلک ولاړ خلک چې د خلکو سره داسې دي نو د خپل رب په وعدو به څومره کلک ولاړ وي! خپل دين ته به څومره ژمن وي!! د خپل ديني تقدس به څومره ځانګړی خيال ساتي!! او داسې نورې ګڼ شمير ګټې..

۳ له بل پلوه هغه لوظونه چې د عقودو په بېلابېلو ډولونو کې سره تړل کيږي بايد د مسلمان شېوه دا وي چې ورته غاړه کيږدي او هېڅکله يې مخالفت ونه کړي، او نه يې ددنيوي مفادو په خاطر مخالفت ته زړه ښه کړي، تر څو د هغه چا له جملې څخه ونه ګرځي چې اخرت په دنيا او سعادت په شقاوت وپلوري، دغسې مخالفتونه يواځې دا نه چې منځنی باور زايلوي او خير او برکت له منځه وړي، بلکې د منافق نښه هم ده، که څه هم څښتن يې عقيدوي منافقت نه دی خو ولې عملي منافقتونه په ډېرو وختونو کې د عقيدوي منافقتونو لپاره توطئې کېدای شي، د عقيدوی منافقت لپاره مقدمات جوړيږ او بالاخره د منافقت په هغه ډول ښکيل شي چې که څه هم وتل ترې ګران بريښي خو ولې د دې باوجود جهنم لاندنی برخه يې هم ځای ده، الله تعالی دې مونږ د عقيدوی او عملي منافقت څخه په خپل کرم او امتنان وژغوري.

**په سوداګریزو راکړه ورکړه کې باید له دروغو څخه ځان وژغورل شي:**

دروغ ویل هغه څه دي چې د اضطرار له حالت پرته نور په هېڅ ځای یې ویل جواز نه لري، خو البته خلک باید د ا ضطرار او ضرورت ترمنځ توپیر وپیژني، د دنیا پر مخ به داسې څوک نه وي چې ضرورت ونه لري که څه هم بډا وي، سربراه وي، وډېره وي او داسې نور... خو اضطرار ډېر کم وګړي لري، بهر کیف که مشروع موخه یې بې له دروغو نه شوه ترلاسه کېدای کولی شي خو هغه هم په هغو حدودو کې چې اسلام ورته روا کړي وي او انسان په کې غیر باغ ولا عاد نه وي، موقعه به یې نه بولي چې دومره څه وکړي چې د ډېری افرادو لپاره بسنه کوي، که څه هم ځینې علماو هغه حدیث چې ښځې او د صلحې او جنګ په ډګرونو کې یې دروغ روا بللي دي د مذکوره مواقعو سره منحصر بولی دی خو بیا هم ابن القیم رَحِمَهُ اللَّه یې په زاد المعاد (۱٤٥/۲) کې ذکر کوي چې که څوک پر ځان یا نورو داسې دروغ ووایي چې هېڅ پلو ته زیان نه لري او خپل حق پرې تر لاسه کولی شي نو کولی شي.

بهر حال اضطرار او ضرورت باید توپیر کړی شي، او بهتر دا ده چې په هېڅ حالت کې مسلمان دروغ ونه وایي، ځکه چې دروغ ویل او اسلام سره د اسمان او ځمکې څېر ضد دي.

**مسلمان سوداګر باید د پلور په توکو کې تېروستنه ونه کړي:**

رزق د الله په لاس کې دی، او د مور څخه د انسان له پیدائښت وړاندې ورته ټول مقدر رزق نویشته شي، تر هغه نه فوت کیږي تر څو دنیوي رزق تر پایه ونه خوري، دا چې انسان له خپل مقدر رزق څخه زره هم نوره په بره نه شي وړلی باید سوداګریزي توکي هم له ګردو خوګانو پرته په روا توګه وپلوري تر څو رزق یې هم بابرکته شي او اسلامیت یې هم وده کړي.

په دې بابت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ بَاعَ مِنْ أَخِيهِ بَيْعًا فِيهِ عَيْبٌ إِلَّا بَيَّنَهُ لَهُ] (سنن ابن ماجه: ۲۲٤٦).

ژباړه: مسلمان د مسلمان ورور دی، او د مسلمان شان سره نه ښائيږي چې په خپل ورور داسې څه وپلوري چې عیب او نقص ولري مګر دا چې ورته یې بیان کړي.

له دې کبله سوداګریزې توکې که هر خیل وي باید پلورونکی یې سالمیت یا

عیب جني په ډاګه کړي ترڅو اخرت ونه پلوري، وجدان او اسلامي ضمیر ونه پلوري، که په ربښتوني توګه يې خپل سازو سامان که څه هم عیب ولري وپلوري دوه نورې ګټې به هم تر لاسه کړي، يو به يې توکې وپلورل شي او بل به حلاله ګټه تر لاسه کړي که څه هم کمه وي.

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه ورځ بازار ته ووت، پر پلورنځيو تېرېده چې د خوراکي توکو ډېره کۍ يې وليده، لاس يې وردننه کړ نو ګوتې يې لوندې شوې، ويې پوښتل چې [مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ؟ قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ: أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَيْ يَرَاهُ النَّاسُ، مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّي] (صحيح مسلم: ۱۰۲).

ژباړه: دا (لوندوالی) ولې دی؟ هغه وويل: د الله رسوله باران پرې شوی دی، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل: ولې دې نو د خوراکي توکو په سر نه اچول ترڅو خلک يې ووينې، څوک چې دوکه کوی زمونږ له جملې څخه نه دی.

**قسم خور تاجر د الله بدي شي:**

ربښتونی متل دی چې (خپل عمل د لارې مل)، څوک که په دنيا کې ګلان وکري هېڅکله به ازغکي ونه ريبي، که څوک د سعادت کروندې وکړي هېڅکله به شقاوت لو نه کړي، که څوک د صداقت تخم پر خپلې ايماني ځمکې داسې وکري چې په ايماني اوبو يې خړوب کړي، هېڅکله به واوېلا او سترې ستونزې ونه ويني، دنيا د اخرت لپاره کرونده ده، په دنيا کې د انسانيت پر ګردو چارو به انسان ته په اخرت کې جزا او يا سزا ورکړل کيږي، له ډېرو او تفصيل څخه به يې تېر شو خو د خپلې موخې لاس ته راوړو په خاطر به د تجارت پر موضوع دومره وغږېږو چې هدف وڅرکيږي او لوستوال ته يې قياساً د هر نيک عمل انجام روښانه شي، لوستوال بايد پاتې ټولې چارې پر دغه مسله په داسې انداز قياس کړي چې سره سمون خوري او دتوافق اړوند فوارق ونه لري.

د ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلي دي درې قسمه خلک د الله بدي شي [التَّاجِرُ الْحَلَّافُ، أَوْ قَالَ: الْبَائِعُ الْحَلَّافُ، وَالْبَخِيلُ الْمَنَّانُ، وَالْفَقِيرُ الْمُخْتَالُ] (مسند احمد: ۲۱۳۴۰).

ژباړه: قسم خور پلورنکی، قسم خور پېرونکی، زباتکر بخيل او متکبره غريب.

وواياست چې ولې بايدد دنيا له کبله د الله له پامه بدي راشو؟ ولې په دنيا د الله رضا ونه ګڼو؟ ولې مايفنى ته په ما يبقى خيريت ورکړو؟

## په پېر او پلور کې به سوداګر قسمونه نه خوري:

قسم خوړل هسې هم ښه کار نه دی تر څو شرعي موجب ونه لري، د قسم کفاره د دې لپاره ښسنه کوي چې ګرد اسلامي امت له قسمخورۍ څخه ځانونه وژغوري تر څو په حنث کې واقع نه شي، او قسم خوړل کېږي هم په دې خاطر چې مقابل لور ستا په خبرو يقين ونه لري، خو دا چې مسلمان دروغ نه وايي او اسلامي نصوصو ترې په سختو او غوڅو الفاظو منعه کړې ده نو نه ښايي چې مسلمان ته دروغ وواپي تر څو قسم ته اړ شي، او پېرونکي سره هم نه ښايي چې د توکو د پېر په مهال پلورونکی تر دې حده تنګ کړي چې په باطله ښه ورته قسمونه وخوري.

خو دا چې په پلور او پېر کې قسم خوړل څومره وعيد خلکو ته اوروﻟی دی په لاندې کلماتو يې تاسو ته توضيحوو:

په پلور او پېر کې قسم خوړل که رښتونی وي او که نه خو مکروه دي، که دروغجن وي نو قسم خوړل يې مکروه تحريمي دي، ګناه يې لويه او سزا يې سخته ده، که څه هم لوړه پورته کول د توکو د تعميم په خاطر وي تر څو مينوال ولري يا يې رواج ډېرښت وکړي له اخستو او خرڅولو څخه خير او برکت پورته کوي، ابو هريره رضي الله عَنْهُ له نبي کريم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روايت کوي چې هغه فرمايي [الحَلِفُ مُنَفِّقَةٌ لِلسِّلْعَةِ، مُمْحِقَةٌ لِلْبَرَكَةِ] (صحيح البخاري: ٢٠٨٧).

ژباړه: دروغجن قسم که څه هم توکې ترويجوي خو برکت هم له منځه وړي.

بل وعيد يې لا پسې له دې سخت دی، د اورېدو سره د انسا غونى راځږوی او پر بدن يې ورته وېښته درېږي، ابوذر رضي الله عَنْهُ له نبي کريم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه روايت کوي چې [ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ الله يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ قَالَ: فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِرَارًا، قَالَ أَبُو ذَرٍّ: خَابُوا وَخَسِرُوا، مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: الْمُسْبِلُ، وَالْمَنَّانُ، وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ] (صحيح مسلم: ١٠٦).

ژباړه: درې ډوله خلک دي چې د قيامت پر ورځ به ورسره الله هېڅ خبرې ونه

وکړي او د رحمت په نظر به ورته ونه ګوري او نه به يې له ګناهونو څخه پاک کړي او ددې برسېره به ورلره دردناک عذاب هم دی درې ځل نبی کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا کلمات تکرار کړل، ابوذر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: دوی خو سخت تاوان وکړ دا څوک دي د الله رسوله! هغه وويل: له پندو لاندې جامه راښکونکی دی، زباتونکی دی او دروغجن قسم خور دی چې خپلې توکې په قسم ترويجوي.

يو بل حديث چې امام نسائي رَحِمَهُ الله په خپل سنن کې په (٢٥٧٦) شمېره له ابوهريره رضي الله عَنْهُ نه روايت کړی دی چې نبي کريم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [أَرْبَعَةٌ يَبْغضُهُمُ الله عَزَّ وَجَلَّ: الْبَيَّاعُ الْحَلَّافُ، وَالْفَقِيرُ الْمُخْتَالُ، وَالشَّيْخُ الزَّانِي، وَالْإِمَامُ الْجَائِرُ].

ژباړه: څلور ډوله خلک دي چې د الله بدي شي: ډېر قسمخور پلورنکی، ناداره متکبر، او زناکار بوډا او ظالم ټولواک.

دا او دې ته ورته نور ډېری حديثونه چې په پلور او پېر قسمونه خوړل په سختو کلماتو غندي او پرې سزاوار کوي يې، او ددې برسېره يې له تجارتي پېښې څخه برکت او خير هم کوچيږي.

خو که په قسم کې رښتونی وي بيا هم له کراهت څخه نه وځي بايد ورڅخه رابند شي، ځکه الله پاک فرمايي ﴿وَٱحۡفَظُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡ﴾ [سورت مائده: ٨٩].

ژباړه: او خپل قسمونه په ښه ډول وساتئ.

همدا راز الله پاک فرمايي

﴿وَلَا تَجۡعَلُواْ ٱللَّهَ عُرۡضَةٗ لِّأَيۡمَٰنِكُمۡ﴾ [سورت بقره: ٢٢٤]

او تاسو د الله نوم له يو شي(خير کار) نه مانع مه ګرځوئ.

د تیر په څیر له قسم څخه په ځان ژغورني يو بل حديث لامل يې هم ښودلی دی امام مسلم رَحِمُهُ الله په خپل صحيح کې له ابوقتاده رضي الله عَنْهُ نه روايت کوي چې رسول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [إِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الْحَلِفِ فِي الْبَيْعِ، فَإِنَّهُ يُنَفِّقُ، ثُمَّ يَمْحَقُ].

ژباړه: په پلور کې له ډېرو قسمونو څخه ځانونه رابند کړئ، که څه هم قسم توکې ترويجوي خو ولې برکت ورڅخه هم ختموي.

### سوداګر باید نیت کې صالحه وي:

هر څوک چې سوداګریزې پېشې ته نېت لري باید نیت یې صالح وي، ځکه ښه نیت له ځان سره ډېر برکتونه او فضائل ترڅ کې لري، څومره چې په ښه نیت سوداګر د خپل پلور او پېر توکې مخ په وړاندې وړي هومره یې برکتونه ډېرښت کوي او رزق یې له هغه لارې برکتونو جلبوي چې د سوداګر ترې بې غوره وي. امام بخاري رَحِمَهُ الله د خپل صحیح اغاز د عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ په روایت کړي حدیث کوي چې [إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى] (البخاري: ۱).

ژباړه: ټول عملونه د نېت سره تړاو لري او هر سړي ته هغه څه (سزا یا جزا) ورکول کیږي چې نیت یې ورله کړی وي.

د دې حدیث څخه د امام بخاري موخه هم داده چې له اقدام وړاندې باید نیت تصحیح کړئ، که هر ډول عمل وي، که ددنیا سره تعلق لري او که د اخرت سره اړخ لګوي.

امام غزالي وایي: سوداګر سره ښایي چې په لومړی کې نیت او عقیده دروسته کړي، سوداګر باید په تجارتي بڼه خپل استعفاف او د خلکو شتمني باید په سوال ونه لوټي، خپله توقع او طمع ترې د خپلو لاسو په ګټه وټه پرېکړي... په خپلو معاملاتو کې به یې نیت د خلکو سره احسان او انصاف وي، د پلور او پېر په مهال به د توان په اندازه په بازارونو کې له بدو څخه منع او په ښو اخلاقو به خلکو ته امر کوي، که زړه په دغسې علمونو او نېتونو سینګار وي نو اخرت به پرې وګټلی شي، که مالیت یې ډېرښت کې راشي نو اضافي فایده او که له تاوان سره مخ شي نو په اخرت کې به ګټور شي.

### رزق طلبي باید ونه ځنډول شي:

که کوم مسلمان وګړی که غواړي چې سوداګریز معاملات ولري نو تاخیر دې نه کوي، ځکه نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل امت لپاره دعا کړې ده چې د ورځې په لومړۍ برخې کارونو کې خیر او برکت نغښتل شوی دی، د صخر غامدي رضي الله عَنْهُ په روایت ابوداود رَحِمَهُ الله په خپل سنن کې د (باب في الابتكار في السفر) لاندې په (۲۶۰۶) شمېر حدیث روایت کړی دی چې نبي کریم

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [اللّٰهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا، وَكَانَ إِذَا بَعَثَ سَرِيَّةً أَوْ جَيْشًا بَعَثَهُمْ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ].

ژباړه: ای الله! زما د امت لپاره د ورځې په لومړی وخت کارونو کې ډېر خیر او برکت واچوه، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به کله جنګي لیکه چرته ا ستوله نو د ورځې په سهار کې به يې استوله.

دا چې صخر رضي الله عَنْهُ خپله تاجر پېشه سړی و، خپل سوداګر به يې د ورځې په اوله برخه کې استول، هغه و چې مال يې بې نمونې ډېر شو.

**بازار ته د ننوتو په مهال مسنون ذکر ويل:**

د تجارت ګڼ شمېر ادبونو څخه يو دا هم ده چې د بازار او نورو سوداګريزه مارکيټونو ته د ننوتو په مهال الله په ځانګړې توګه ياد کړی شي، دا مهال د الله يادول ډېری ګټې لري:

١ ګناهونه ورڅخه رژيږي.

٢ حسنات او نيکۍ پرې وده کوي.

٣ انساني درجې پرې لوړيږي.

له عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ څخه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [مَنْ دَخَلَ السُّوقَ فَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ؛ كَتَبَ اللهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ؛ وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ؛ وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ] (جامع ترمذي: ٣٤٢٨).

ژباړه: څوک چې بازار ته ننوځي او ووايي: له الله پرته بل حق معبود نشته او هغه يو دی هېڅ شريک نه لري، هغه لره بادشاهي او حمد او ثنا ده، هغه مړه کول او ژوندي کول کوي هغه خپله ژوندی دی نه مړ کيږي، په لاس کې يې خير اوبرکت دی او په هر څه باندې قدرت لرونکی دی، نو الله به ورله زر زره (لس لکه) نيکي وليکي او لس لکه به ترې بدۍ محوه کړي او لس لکه درجې به يې بلندې کړي.

په دې ذکر کې ډېرې نايابه فايدې دي، يوه فايده په کې دا ده چې بازار کې زياتره خلک له الله او دين اسلام او له ګردو عباداتو څخه غافله وي، بس همدومره

مصروف وي چې دا په څو... په دې نه کېږي او کېږي آو... خو د الله ذکر کې په کې ډېر کم وي، شیطانت زیاتره وخت د خلکو په زړونو دومره قابض وي چې په لوړ غږ اذان پرې هم وانه اوري او لمونځ هم کله په جماعت او کله غیر جماعت، کله پر خپل وخت او کله له وخت نه وروسته... د شیطان لښکرې پکې په تېزۍ خوځي راخوځي، نو د الله ذاکر بنده په دغسې حالت کې د پلور او پېر مهم مخ په وړاندې وړلو کې د شیطان سره هم اعلان جنګ وکړي او هم یې پر ژبه د الله ذکر راشي، شیطاني لښکرې په خپل ایماني زور بې زوره کړي او د ځواکونو راج یې اوبه کړي، دغه مهال د الله ذاکر بنده د الله په دې قول کې داخل شي چې

﴿رِجَالٌ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ﴾ [سورت نور: ۳۷]

ژباړه: داسې خلک دي چې سوداګري او پلور یې د الله له ذکر نه نه اړوي. له دې کبله اسلام سوداګر ته درس ورکوي چې په خپلو بازاري وختونو کې هم باید ډېر کرته سبحان الله، الحمدلله، لااله الا الله، الله اکبر، لاحول ولا قوة الا بالله او داسې د ذکر نور کلمات ووایي، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به د خپل ځوی سالم سره هر وخت بازار ته په دې خاطر تلل چې بازار کې د ذکر فضیلت اړوند غبرېدلي حدیث باندې عمل وکړي او دغه لوړې درجې تر لاسه کړي.

### سوداګر باید له تاوانې سره ښه وکړي:

که سوداګر له یو چا سره د پېر او پلور لین دین لري او هغه ته داسې اسماني افت ورسېږي چې ورڅخه متاثره شي، شتمني یې زوال وخوري او مالیت یې له لاسه ووځي، یا یې اور آته او پلورنځی غومبره کړي، یا یې ځمکلړزی هرڅه له خاورو لاندې کړي، د سیند او سیلاب ښپاند موجونه یې ټول مادیات ښپو کې تالا ترغې کړي، بادو باران او یا ګلۍ یې سرسبز او شاداب زراعتونه ریزمریز کړي، سوداګر باید په داسې حالتونو کې د خپل لین دین خلک د اسلامي اصولو سره سم د پور له ادا څخه معاف کړي، نرمي باید ورسره وکړي، انساني اصول باید پکې مراعات کړي، او په بدل کې د الله پاک څخه د قیامت په ورځ د نېکې بدلې متمني شي، امید او طمع توقع ولري چې په دې کار به مې الله ملا له ګناهونو څخه سپکه کړي، په دې نیت که ما د الله په بنده اساني وکړه الله به له ما سره اساني وکړي،

په دې نیت چې ما د الله یو بنده ته خپل حقوق معاف کړل الله به ما ته هغه سرغړونې راوبښي چې ما یې په حق کې کوتاهي کړې ده، نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [لَوْ بِعْتَ مِنْ أَخِيكَ ثَمَرًا فَأَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ فَلَا يَحِلُّ لَكَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا، بِمَ تَأْخُذُ مَالَ أَخِيكَ بِغَيْرِ حَقٍّ؟] (صحيح مسلم: ١٥٥٤).

ژباړه: که پر ورور دې میوجات خرڅ کړې او ورته اسماني افت ورسیږي نو ستا لپاره دا نه دي روا چې څه ترې واخلې، ولې دې د ورور مالیت له کوم حق پرته اخلې؟

او په بل حدیث کې راځي [أَمَرَ بِوَضْعِ الْجَوَائِحِ] (صحيح مسلم: ١٥٥٤).

ژباړه: نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اسماني افتونو په معاف کولو امر کړی دی.

### سوداګر باید نرم مزاج وي:

لږ څه وړاندې مو وویل کې نرمي د انسانیت غوښتنه ده او د مسلمان په ځانګړې توګه شېوه ده، مسلمان باید په عمومي حالتونو کې هم او پلور او پېر کې په ځانګړې توګه د شفت او تسامح څښتن وي، احسان اود نېکې رویې مالک وي، په لږه ګټه وته به ګوزاره کوي او په ګټه کې دومره مبالغه نه کوي چې نزدې رأس المال ته په قیمت توکې پلوري، او نه به داسې وي چې د مسلمانانو ورونو له اړتیاو څخه په بده استفاده د توکو قیمتونو دومره پورته کړي چې نه خو یې څوک پرېښودی شي او نه یې د اخستو توان لري.

نا، بلکې د اسلامي وروروله حقوقو ځانګړی خیال به ساتو، په دې به دوه ګټې ترلاسه کړو، له یو پلوه به مو د اسلامي وروروله پوره حقوق ادا کړي وي او د هغوی مینه او محبت به موګټلی وي آو له بل پلوه به راته د نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دعا اثر هم راورسیږي، هغه فرمايي [رَحِمَ الله رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ، وَإِذَا اشْتَرَى، وَإِذَا اقْتَضَى] (صحيح البخاري: ٢٠٧٦).

ژباړه: پر هغه سړي دې الله مهربانه شي که اخستل کوی او که خرڅول کوي او که له نورو څخه خپل مالي حقوق غواړي نو سخاوت او تساهل پکې کوي.

دلته له تسامح معنی هم دا ده چې ګران بیه به نه وي چې که توکی په کوم قیمت ویېري بېرته د راس المال او یا هم نیمايي پورې په ګټه پلوري.

په تسامح او تساهل کې کولی شو له سلفو صالحینو څخه مصداقونه ذکر کړو، امام احمد بن حنبل په خپل مسند کې په (۲۲۵۵۹) شمېر باندې ذکر کوي چې ابوقتاده رضي الله عَنْهُ په سړي پور درلود او سړی به ترې هر وخت په دې پټېده چې دومره توان نه لری تر څو یې پور ادا کړی شي، یوه ورځ چې ابوقتاده رضي الله عَنْهُ یې کور ته راغی او پور یې ترې غوښت سړی ورته راووت، ورته یې وویل: ولې راڅخه پناه کېږې؟ سړي وویل: توان مې نشته چې پور دې ادا کړی شم! هغه ورته وویل: ستا دې قسم وي چې توان یې نه لرې؟ سړي وویل: هو، ابوقتاده رضي الله عَنْهُ وویل: ما له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اوریدلی دي چې [مَنْ نَفَّسَ عَنْ غَرِيمِهِ أَوْ مَحَا عَنْهُ كَانَ فِي ظِلِّ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ].

ژباړه: څوک چې له خپل پوروړي څخه تکلیف پورته کړي او یا ورته قرض معاف کړي نو د قیامت په ورځ به د الله د عرش د سیورې لاندې وي.

**سوداګر باید له پوروړي سره غوره چلند وکړي:**

وړاندې مو د ابوقتاده رضي الله عَنْهُ په حدیث کې وځېړل چې نرم مزاجي باید د سوداګر شیوه وي ځکه هغه د رنګارنګ مخلوق سره مواجه کېږي، شاید د ښو خلقو په نسبت له بدو اخلاقو سره ډېر مخامخ شي، شاید له نرمو خلکو په پرتله د سخت مزاجو ډېر لین دین ولري نو ښه به دا وي چې دا د ښه چلند ښښتن وي او په ځانګړي توګه پر معسر او هغه پوروړي چې له ادا څخه عاجز دی خوا پرې بده نه کړي، رب کائنات په قران کریم کې فرمايي

﴿وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَن تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ [سورت البقرة: ۲۸۰]

ژباړه: او که پور وړی مو تنګ دسته و نو تر اسانۍ پورې ورته انتظار اوباسئ، خو که (پور ورته) خیرات کړئ نو درله به ډېره ښه وي که چرته (تاسو یې په اجر او ثواب) پوهېږئ.

په دې موضوع ډېری حدیثونه هم غږیدلي دي چې له جملې څخه یې ځینو ته په ځغلند نظر ګورو او له تفصیل څخه یې ډډه کوو په دې خاطر چې یواځې مفهوم

واضحه کړو تر څو لوستوال نور خپله وکولی شي په دې مورد کې اسلامي احکام کشف او په سمه توګه وپېژني.

له ابوهریره رضي الله عَنْهُ څخه روایت چې نبي کریم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا، نَفَّسَ الله عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسَّرَ الله عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا، سَتَرَهُ الله فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَالله فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ] (مسلم: ٢٦٩٩).

ژباړه: که له کوم مومن مسلمان څخه چا دنیوی سخته پورته کړه الله پاک به ترې د قیامت د ورځې سختي پورته کړي او که څوک د تنګ دست سره اساني وکړي نو الله به ورسره په دنیا او اخرت کې اساني وکړي، څوک چې پر مسلمان پرده واچوي نو الله به پرې په دنیا او اخرت کې پرده واچوي، او تر هغه الله د خپل بنده په کومک کې دی چې بنده د خپل ورور په کومک کې وي.

له دې څخه لا بل غوره زیری هغه دی چې امام مسلم رَحِمَهُ الله په خپل صحیح (١٥٦٣) شمېر باندې نقلوي چې [مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ الله مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ، أَوْ يَضَعْ عَنْهُ].

ژباړه: که څوک په دې خوشحالیږي چې الله ورته د قیامت له سختیو څخه نجات ورکړي نو له تنګ دست سره دې ښه چلند وکړي او یا دې ورته پور معاف کړي.

### سوداګر باید په صدقاتو کې ونډه ولري:

دا چې سوداګر په خپلو مصروفیتونو کې ډېر اخته وي او د خپل خپل توکو پلور او پېر يې پېشه وي، یا د ځانګړي توکو په سودا بوخت وي خو د انسانیت په بنسټ له خو او عیب نه نه وي خلاص، هرومرو ترې ظلم زیاتی کیږي، په شعوري یا غیر شعوري توګه ورڅخه د عدل او انصاف ضد ځینې امور صادریږي، دا چې له محاسبه ورسره اسانه وشي او سوداګریزي خطاګانې ورڅخه ورژيږي تر څو پرې ونه نیول شي باید په صدقاتو کې ونډه ولري، په دې خاطر چې صدقه باندې د الله غضب ختمیږي، له قیس بن ابي غرزة رضي الله عَنْهُ نه روایت دی هغه فرمايي [خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نُسَمَّى السَّمَاسِرَةَ فَقَالَ: يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ إِنَّ الشَّيْطَانَ وَالْإِثْمَ يَحْضُرَانِ الْبَيْعَ فَشُوبُوا بَيْعَكُمْ بِالصَّدَقَةِ].

ژباړه: پر مونږه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راووت، دغه مهال به مونږ ته خلکو (دلال +کمېشن کار) ویل، هغه وویل: ای سوداګرو! له شک پرته شیطان او ګناه دواړه پلور کې حاضر وي، د پلور سره مو صدقه یوځای کړئ.

### د پلور یا پېر پر لیکلې بنه او یا پرې ګواهان لرل:

د پلور یا پېر پر مهال معاملات په لیکلې بڼه ثبتول او یا پرې ګواهان لرل د بیع او شرا مهمه ضابطه ده، ټول خلک د یوې مور بچي نه دي او نه هم ټول خلک سره یو څېر اخلاق لري او نه سره ټول خلک په ضبط الصدر کې مساوي دي، انسان هېر لري او ځینې نور یې بیا په دوکه او پراډ راټوکېدلي وي، دا چې انساني حقوق په سمه توګه تضمین شي او یو پر بل حقوقي یرغلونه ونه لري او یا هېر ورته یاد کړي باید سوداګریز معاملات مستند ثبوت ولري، تر څو د هر چا حقوق هغه ډول خوندي پاتې شي چې اسلامي شریعت یې اصول ایښي دي.

الله پاک په خپل خالد او دائم کلام کې فرمایي

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَدَايَنتُم بِدَيْنٍ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى فَٱكْتُبُوهُ ۚ وَلْيَكْتُب بَّيْنَكُمْ كَاتِبٌۢ بِٱلْعَدْلِ ۚ وَلَا يَأْبَ كَاتِبٌ أَن يَكْتُبَ كَمَا عَلَّمَهُ ٱللَّهُ ۚ فَلْيَكْتُبْ وَلْيُمْلِلِ ٱلَّذِى عَلَيْهِ ٱلْحَقُّ وَلْيَتَّقِ ٱللَّهَ رَبَّهُۥ وَلَا يَبْخَسْ مِنْهُ شَيْـًٔا ۚ فَإِن كَانَ ٱلَّذِى عَلَيْهِ ٱلْحَقُّ سَفِيهًا أَوْ ضَعِيفًا أَوْ لَا يَسْتَطِيعُ أَن يُمِلَّ هُوَ فَلْيُمْلِلْ وَلِيُّهُۥ بِٱلْعَدْلِ ۚ وَٱسْتَشْهِدُواْ شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ ۖ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَٱمْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ ٱلشُّهَدَآءِ﴾ [سورت البقرة: ۲۸۲]

ژباړه: ای مومنانو! کله چې تاسو (په پلور او پېر) کې سره تر معلومې نېټې پورې د پور معامله کوئ نو ویې لیکئ... او دوه سړي پرې ګواهان هم ونیسئ خو که دوه سړي ونه مومئ نو یو سړی او دوه داسې ښځې چې تاسو یې پر ګواهۍ باندې خوشحاله یئ.

لامل هم ورڅخه دا دی چې حق تضمین شي او باور لا باوثوقه شي، دا چې اوس مهال یو د بل پر حقوقو ظالمانه بریدونه او غصبول په ښکاره توګه شروع دي نو چې لیکل او یا ګواه ونه لري څه به چا ته حقوق ورکړل شي؟؟

# د بيع لغوی او اصطلاحي تعريف

(بَيْعٌ) له (بَاعَ يَبِيْعُ) څخه مصدر او د پلور معنا ورکوي، جمع يې (بيوع) ده، که څه هم بيع د (شراء) ضده ده خو کله ناکله يې (شراء) هم معنا ورکوی، لکه الله پاک فرمايي

﴿وَشَرَوۡهُ بِثَمَنِۭ بَخۡسٖ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٖ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ﴾ [سورت يوسف: ٢٠].

ژباړه: د لږ څه عوض درهمونو په بدل کې يې خرڅ کړ.

او (بيع) هم د (شراء) په معنی راځي، لکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي [لاَ يَبِيعُ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ] (صحيح البخاري: ٢١٣٩).

ژباړه: ستاسو ځيني دې دخپل ورور په پېر پېرل نه کوي.

دلته نهي مشتري ته متوجه ده بائع ته نه ده متوجه، نو جوته شوه چې بيع او شراء له اضدادو څخه دي، دواړه د يو او بل په معنی باندې راځي.

### د بيع اصطلاحي تعريف:

که څه هم فقهي علماو د (بيع) بيلابيل تعريفونه کړي دی خو ولې ټول سره په مغز کې يو دي، عبارتونه يې سره نزدې او مفهوم يې ورڅخه يو دی.

مالکي مذهب علماء (بيع) داسې پېژني چې له منافعو پرته د معاوضې عقد دی. (شرح الزرقاني: ٣/٣، دارالفکر).

حنفيان وايي چې (بيع) په رضاکارانه توګه ماليت پر ماليت بدلولو ته ويل کيږي. (تبين الحقائق شرح کنز الدقائق: ٢/٤، دوهم چاپ دارالکتب الاسلامي).

شافعيان يې بيا داسې پېژني چې (بيع) په ځانګړي توګه ماليت د ماليت په مقابله کې ورکول دي. (مغني المحتاج: ٢/٣، دارالفکر).

حنابله د (بیع) متعلق وايي چې د واک او اختیار په خاطر مال پر مال بدلولو ته بیع ویلی شي. (الانصاف في معرفة الراجح من الخلاف: ٢٤٨/٤، لومړی چاپ دارالکتب العلمیة ١٤١٨هـ)

ځینې نور علماء وايي چې (بیع) له ربا او قرض پرته د تابیدي تملک په خاطر مالیت یا نور مباح المنفعت شیان د مال په بدل کې ورکولو ته ویل کیږي. (مطالب أولي النهى في شرح غایة المنتهى: ٣/٣-٤، دوهم چاپ ١٤١٥هـ ١٩٩٤مـ).

جوته شوه چې (بیع) د مالیتونو تبادلې ته ویل کیږي چې د اخستونکي له ولکې لاندې راځي او تصرف ورته پکې روا کوي، دا هم باید وپېژندل شي چې (بیع) او (هبه)سره فرق لري، هبه کې که څه هم ملکیت ثابتیږي خو ولې بلاعوض ده او بیع کې د عوض په بدل کې ملکیت ثابتیږي، (بیع) له (اجارې) څخه هم توپیر خوري، ځکه اجاره کې د (شي) مالک څوک نه جوړیږي بلکې د منفعت په خاطر یې مالک وي او اجاره د عمل او وخت په لحاظ محدوده وي او بیع لا محدوده وي.(حقیقة بیع التورق الفقهي والتورق المصرفي: ١٥-١٦، لومړی چاپ کال ١٤٢٩هـ، ٢٠٠٨مـ.

## د بیع د مشروعیت راز:

ښکاره خبره ده چې د یو چا مالیت او ملکیتونه سره د بل په پرتله توپیر لري، الهي لورینې د مخلوق ترمنځ د الله د حکمتونو پر بنسټ ویشل شوي دي، هر انسان بل ته اړتیا لري خو که اړتیا وړ څوک د بدایانو سره د کار کسب عوض ونه لري نو دبډا له لاسه او جیب څخه هم څه نه راوځي، دا چې د کار ښښتن مالیت ته اړتیا لري او بډا کاریګر ته، نو د بیع لویه فلسفه دا ده چې د کارګری او یا نور معنوي او یا حسي عوضونو په بدل کې مالیت له یو جیب څخه بل ته کوچیږي، او د اقتصادي ودې لوی لامل دا دی چې مالیت په کوم ځای کې کنز نه شي بلکې تداول ومومي.

بل لوی راز په کې دا هم دی چې د سرقت او نهب اختلاس ناوړه خصلتونه د بیع او شراء له لارې زوال وخوري، دا او دې ته ورته نور ډېری مصالح -چې د انسان وګړیز او ټولنیز د ژوند سعادت تضمینوي- په کې شتون لري.

## د پلور او پېر ګټې او فایدې:

ډېره اړینه برېښي چې د پېر او پلور هغې مصالحو ته ځغلند نظر واچو چې له کبله یې الله پاک او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم د خپلو بندګانو لپاره د پلور او پېر قواعد ایښي دي، وبه ګورو چې پلور او پېر د انسان پر ټولنیز او وګړیز ژوند څومره مثبت اثرات لري او څومره یې په دیني او دنیوي سعادت تامیرېږي؟

١ انسان چې کله له حلالې لارې د مالیت کمایي کوي نو حرامو ته به یې تل تندی ګونځې وي، د سوداګرۍ له مخې به وکولی شي چې له خلکو څخه طمع توقع پرې کړي او د کرامت د ژوند ښبتن به وي، د ذلت او مهانت څخه به لرې وي.

٢ د حلال مال له لارې مسلمان کولی شي د الله اطاعت ته ځان لا پسې پیاوړی کړي، هم د الله په لاره کې نفقه وي تر څو د الله په رضا فایز شي او هم به یې الله د خلکو په زړونو کې مینه او محبت واچوی، تل به ورسره د غریب او نادار دعاګانې وي او د ژوند مرحلې به یې په پرله پسې توګه له سعادت څخه ډکې وي، ښه مال او د ښه سړي ملکیت، حلاله شتمني او د حلالونې واک او اختیار، له حرامو نه پاک مال له ګناه نه پاک زړه کې... له دې نور بل سعادت نشته.

٣ د پلور او پېر له مخې انسان له خمول او کسالت له دائرو څخه وځي، کولی شي چې د روا او حلالو لارو نه پانګونه وکړي، ځکه چې کله هم خلک له کارو کسب نه ارام کیني نو د خلکو ګټوره زندګي هم په ټپه ودریږي، معیشي نظام فلج شي، فقر او فاقت وده وکړي او د فقر او فاقت له مخې خلک د هغې بدمرغۍ ښکار شي چې خلاصون ترې زښت ګران دی.

٤ د کاروکسب له مخې الله پاک د انسان ټول مصالح بشپړوي، د هغوی د خوراک او څښاک، د هغوی د تداوۍ او رنځ مخنیوۍ په خاطر خالص نیت باندې ورته الله اجر هم ورکوي.

٥ سوداګر کولی شي چې د پلور او پېر په سفرونو کې خلک او ښارونه ووینې، د

خلکو تهذیبونو او دودونو سره اشنا وي، د سفر په دورانیه کې د الله د قدرت عجایب وویني نو ایماني قوه یې په وده کې شي، خلک یې له ایمانداری او دینداری نه دومره متاثره شي چې الله پاک یې د نور خلکو د ایمان سبب هم جوړ کړي.

نور ډیری فواید او ګټې چې د اسلامي حدودو ترمنځ عملي میدان کې ترې سوداګر خوند او مزه اخلي.

### د بیع ارکان:

دا چې په اسلام کې هر عبادت ارکان لري د دې معنی ورکوي چې که په عباداتو کې کوم رکن له منځه ولاړل شي نو عبادت پرې نهړېږي، دا چې بیع او شراء هم ارکان لري سوداګر ته یې په تفصیلي بڼه وړاندې کول اړین بولم ترڅو وکولی شي له حرامو ځان وژغوري او پر حلالو دائم او مستقیم ووسي.

### لومړی رکن: صیغه:

صیغه له ایجاب او قبول څخه تعبیر دی، صیغه هغې کلماتو ته ویل کیږي چې د پېر او پلور له یوې خوا څخه په خوشحالۍ او رضا صادره شي، ځکه رضا د پلور او پېر د صحت لپاره شرط دی چې په وجود یې صحت موجودیږي او پر عدم یې عدم، خو دا چې رضا د زړه عمل دی او د خفا له کبله نه ترسترګو کیږي نو پر ځای یې د ایجاب او قبول په نوم صیغې څخه تعبیر وکړی شو.

خو دا چې ایجاب او قبول څه ته ویل کیږي؟ باید ځغلند نظر ورته وکړو.

### د ایجاب او قبول تعریف:

ایجاب په لغت کې وقوع ته ویل کیږي او قبول په لغت کې موافقت، تصدیق او د رضا ښکاره کولو ته ویل کیږي.

په اصطلاح کې د جمهورو په نېز ایجاب هغې کلماتو ته ویلی شي چې تملیک پرې انتقالیدی شي او قبول له هغه کلماتو څخه تعبیر دی چې په اخستلو توکو کې پرې تملیک ثابتیږي.

### د ایجاب او قبول شرطونه:

ایجاب او قبول هم د نورو احکامو په څېر د قبول شروط لري چې په لنډه توګه یې یادونه کیدی شي.

١ قبول باید د ایجاب سره هر اړخیزه تطابق ولري، که پلورونکی خپلې توکې په داسې قیمت وړاندې کړي چې پېرونکی په کې زیات او کم وي نو عقد نه صحیح کیږي تر څو دواړه خواوې یې په ټاکلي قیمت توافق نه وي کړی.

٢ د ایجاب او قبول مجلس هم باید یو وي، تر څو هغه فاصله چې عرف کې اعراض شمېرل کیږي شبهه یې له منځه لاړه شي، که څه هم سره مسئله کې دیني علماء اختلاف لري او ځینې یې سمه بولي چې تر څو سکوت دومره نه وي چې له حده ووځي، که بایع مثلا توافق وښایي او بیا د بل چا سره په خبرو بوخت شي او یا هسې طویل سکوت وکړي نو بیع نه واقع کیږي ځکه چې اتحاد مجلس معدوم شو.

٣ سوداګریزه پرېکړه باید شروط او قیودات ونه لري، معنی دا که څوک توکې د یو چا تر حضوره وځنډوی او پېرونکی ووایي چې سمه ده زما قبول دی نو بیع نه واقع کیږي ځکه چې شرط وجود ته راغی، او تعلیق هم په عدم رضا دلالت کوي او زده مو کړل چې رضا د پلور او پېر د صحت شرط دی.

### دوهم رکن: پلورنکی او پېرونکی:

په اسلامي سوداګریز نظام کې دواړه خواوې د عقد د صحت لپاره شروط لري چې له جملې څخه یې:

دواړه خواوې به د تمیز څښتنان وي، معنا دا چې د ماشوم عقد سم نه دی، که ماشوم پلور او پېر وکړي نو کولی شي چې عقد فسخه کړي مګر هغه مهال چې د ماشوم ولي پرې راضي وي او یا داسې څه وي چې نرخ یې معلوم وي او ماشوم یې د پلور یا پېر لپاره استول شوی وي، یا ماشوم خپله داسې وي چې د پلور او پېر پر اصولو واقف وي، خبرې سره تبادله کولی شي او ښه بد پېژني، خو بهر حالت د ولي اجازه او رضا په کې شرط ده.

که ممیز ماشوم توکې وپېري او د ولي اجازه ورسره وي نو عقد د اسلامي اصولو له مخې سم دی، دا مهال ولي نه شي کولی چې عقد فسخ کړي، خو که د ولي له مخې اجازه ونه لري او ممیز ماشوم د خپلې مرضۍ سره سوداګریز عقود په مخ بوځي نو که ولي نارضا وي اسلام دا توان ورکړی چې عقد فسخ اعلان کړي.

همدا راز د تمیز له مخې د مجنون او بې وقوف عقد هم دروست نه بلل کیږي، که معتوه د پلور او پېر د ځینو مقاصدو ادراک کولای شو نو د ماشوم په څېر حکم لري.

دواړه خواوې باید د رشد وصف ولري چې ښه او بد سره توپیرولی شي، دا شرط د سوداګریز عقد د صحت لپاره دی، له دې کبله لږ وړاندې مو وویل چې هغه صبي که څه هم ممیز وی یا نه وي عقد یې د ولي له اجازې پرته نه صحیح کیږي، د تیر په څېر د مجنون، بې وقوف او کوټ مغزي سوداګریز عقود هم صحیح نه دي.

د پلور او پېر دواړه خواوې باید خودمختاره وي، معنا دا چې د اکراه په صورت کې بیع او شرا نه صحیح کیږي، الله پاک فرمايي ﴿إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡ﴾ [سورت النساء: ٢٩].

ژباړه: مګر دا چې سوداګریزه معامله مو د رضا له مخې وي.

او نبي کریم صلى الله علیه وسلم فرمايي [لَا يَفْتَرِقَنَّ اثْنَانِ إِلَّا عَنْ تَرَاضٍ] (صحیح مسلم: ٣٤٥٨).

ژباړه: دوه نفر دې هېڅله سره نه جلا کیږي مګر دا چې په عقد راضي وي.

### دریم رکن: معقود علیه (پلور توکې)

معقود علیه هم ځینې شروط لري تر څو سوداګریز عقد په اسلامي بڼه د تنفیذ حیثیت ولري، ځینې شروط یې په لاندې توګه دي:

معقود علیه به حلال او پاک وي، د اسلامي شریعت په قاموس کې د نجس پلور توکو عقد صحیح نه دی، که څوک داسې څه پېر یا وپلوری چې پاکوالی یې شونې نه وي نو عقد یې هم دروست نه دی، خو که څوک مثلا پاک شیان په حرامو وپلوري نو هم عقد نه صحیح کیږي، د نمونې په توګه که څوک غوښه په شرابو یا خنزیر یا نورو حرامو شیانو باندې چې د نرخ ځای ونیسي وپلوري عقد روا نه دی.

ثمن یا یې قائم مقام باید داسې څه وي چې شرعا ترې ګټه اخستل روا وي، معنا دا چې د حشراتو پلور اوپېر ناروا دی.

د عقد په مهال باید پلور توکې د پلورونکي زیردست وي، له (سلم) پرته نور هېڅ شیان چې پلورونکی یې فعلاً نه لري پلور یې هم ناروا دی، د نمونې په توګه که څوک پر چا غوا خرڅه کړي چې دومره وخت وروسته به یې درکړم او حالاً ورسره نه وي نو دا عقد حرام دی.

د پلور توکو په ورکولو به توان لري، معنا دا چې د زور جبر له مخې اخستل شوي شیانو عقد نه صحیح کیږي، مګر هغه مهال یې عقد سم دی چې پېرونکی یې له غاصب څخه د ترلاسه کولو توان لري او غاصب یې هم د پلورلو توان ځکه نه لري چې خپل ملکیت یې نه دی.

د نمونې په توګه که احمد له محمود څخه یو څه په جبر او زور واخلي نو محمود یې ځکه نه شي خرڅولی چې حالاً یې واک نه لري چې پېرونکي ته یې د نرخ په بدل کې ورکړي خو که پېرونکی له احمد څخه په ترلاسه کولو توان ولري نو عقد صحیح دی .

پلور توکې او نرخ یې باید معلوم وي تر څو شخړې ترې راولاړې نه شي، معنا دا چې پلور توکې به مجهول نه وي چې تلخ کلامي ترې منځ ته راشي د نمونې په توګه لکه پلورونکي چا ته ووایي: زما له رمې څخه یوه ووزه (بزه) ستا په زر روپۍ شوه، نو دا عقد ځکه سم نه دی چې معقود علیه په کې مجهول دی ځکه رمه خو لویه رمه ده چې پلورتوکې په کې کوم یو دی؟

یا ورته ووایي چې په خپل نرخ یې واخله، نو نرخ خو یې پېرونکي ته نه دی معلوم نو جنګ جدل ترې راولاړ شي.

یا رانه دا توکې واخله او نرخ به فلانکی ووایي، نو په دې ټولو صورتونو کې بیع حرامه ده.

پلور توکې باید موقت نه وي، د نمونې په توګه که څوک چا ته ووایي چې دا موټر مې دربانديې تر کاله پورې د پنځوس زره روپو په بدل کې وپلور، معنا دا چې یو

کال وروسته به یې بېرته ما ته تسلیموې، یوه د کرایه مسله ده هغه روا ده خو موقت بیعه ناروا ده.

### د پلور ډولونه:

لومړی: د پلور توکې (مبیعې) په اعتبار د پلور ډولونه:

د مبادلې له مخې پلور څلور ډولونه لري:

١ بیع مطلق: چې سوداګریزه معامله بیخي نقده وي، دا د پلور او پېر خورا مشهورترینه نوعه ده، د نورو ډولونو په څېر قیوداتو ته اړتیا نه لري، د لږ څه وضاحت سره باید دومره ووایو چې که څوک چا ته توکې د پلور لپاره ورکړي چې دا په زر روپۍ خرڅ کړه او له زرو نه پورته ستا، او هغه یې په دوره زره و پلوري نو دا بیع حرامه ده، ځکه چې د سړي اجاره مجهوله ده او هم سوداګرو ته تاوان رسول دي.

خو که ورته ووایي چې که دا توکې دې په هر څو وپلورلې ستا په کې سل روپۍ مزدوري ده نو بیع حلاله ده، ځکه مزدوري په کې ټاکل شوې ده، یا ورته ووایه چې دا توکې په دوه زره وپلوره او پنځه سوه پکې ستا هم روا ده، ځکه اجرت متعین دی.

٢ بیع سلَم: دې ډول ته په فقهي مصطلح کې (سلف) هم وایي، سلم یا سلف دې ته ویل کیږي چې څوک عاجل د یو شي نرخ واخلي او مبیعه (پلور توکې) په ټاکل شوې نېټه پېرونکې ته وروسته ورکړي.

څلور واړو اسلامي مذهبونو د سلم بېلابېل تعریفونه کړي دي خو ولې نچوړ تري دا راوځي چې سلف (سلم) په ذمه کې د موصوفو توکو د فعلاً موجود نرخ په بدل کې پلورلو ته ویل کیږي.

٣ بیع صرف: صرف د روپو په روپو خرڅولو ته ویل کیږي، یا: نقود په خپل منځ کې سره په یو بل خرڅول لکه سره زر په سرو زرو، یا بغیر جنس خرڅول لکه سره زر په سپینو زرو خرڅول.

صرف هم ورته په دې خاطر وايي چې په يو مجلس کې سره دواړه خواوې وجوباً خپل ملکيتونه ورکوي.

دا ډول بيع څلور شروط لري:

أ. د دواړو خواو له نفسي افتراق وړاندې تقابض (يو له بل څخه اخستل) شرط دی تر څو له سود څخه وژغورل شي، ځکه نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي [الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ...] (صحيح البخاري: ٢١٣٤).

ژباړه: سره زر په سرو زرو سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي، غنم په غنمو پلورل سود دی مګر دا چې لاس په لاس وي...

ب. که جنس يو وي نو مثليت شرط دی، لکه سره زره په سرو زرو مثلاً، نو دا مهال به په وزن او مقدار کې تساوي شرط وي او د ښو او ناښو لحاظ به نشي ساتلی.

ج. عقد به قاطع وي او خيار به په کې نه وي، ځکه قبض ددې ډول بيع شرط دی او خيار الشرط د ملکيت د ثبوت مانع دی.

د. عقد کې به پور نه وي، ځکه له افتراق وړاندې د عوضينو اخستل يو پر بل حق دی او نيټه معلومول سره حقوق تاخيروي، په موجوده شروطو کې چې يې کله هم يو شرط اخلال شي د صرف بيع فاسديږي.

٤. بيع المقايضه: دې ته ويل کيږي چې پلور توکې په پلور توکو وپلورل شي، مثلاً: څمکه پر څمکه وپلورل شي، موټر پر موټر، يا خواره پر خوارو، معنا دا چې مبيعه او نرخ دواړه پلور توکی وي، دا ډول بيع هغه مهال ډېره وه چې پيسو ټکو شتون نه درلود، خو د صحت لپاره يې په تقابض کې تساوي هله شرط ده چې جنس او قدر يې يو وي، د نمونې په توګه ژوندی حيوان په غوښې اخستل دروست دي ځکه چې موزون په غير موزون پلورل کيږي، يا څوک وره په ډوډۍ باندې متفاضلا (زيات) واخلي هم سمه ده، ځکه چې مکيل په موزون وپلورل شو، له تماثل پرته لانده اينځر په وچ اينځر هم نه

شي پلور کېدی، او نه غنم په وربو باندې که څه هم مساوات ولري ځکه چې په کیل کې سره له لومړي څخه ډېر فرق خوري خو که موزون خرڅ شي نو تماثل په کې واجب دی.

## دنرخ په اعتبار د پلور پېر ډولونه:

د نرخ په اعتبار هم پلور پېر درې ډوله لري:

۱ بیع المساومة: دې ډول ته (مماکسه) هم ویل کېږي دا هغه ډول پلور ته ویلی شي چې دواړه خواوې یوې پر نرخ راضي شي او نور یوې د زیادت او کمې هېڅ ګنجایش نه کېږي، معنا دا چې د راس المال په کې هېڅ ذکر نه وي، خو د اتفاق سره هومره نرخ پېرونکی ورکوي چې د پلورونکي سره یې پرې توافق راشي.

۲ بیع المزایده (بولي): دې ته ویلی شي چې پلورونکی د پلورتوکې په بازار کې نرخ ته وړاندې کړي او پېرونکي یې په نرخ کې یو پر بل پورته ځي، څوک چې ډېرې پیسې ورکوي په هم هغه توکې خرڅې کړي.

لکه څنګه چې په پلور کې بولي جواز لري دغه څېر یې په پلور کې هم جواز شته که څه محکني فقهاء په دې مسئله نه دي غږیدلي خو په دې شرط چې د توکې اوصاف او کیفیت په مجلس کې څرګند شي.

۳ د امانت بیوع: دې ته ویلی شي چې د پلورونکي او پېرونکي ترمنځ د توکو په نرخ اتفاق راشي یا بیخي په خپل سر، یا لږ زیات او یا کم، د امانت بیع ورته هم له دې کبله ویل کېږي چې پلورونکي پېرونکي ته راس المال معلوموي، دا ډول بیع درې ډوله تشکیلوي:

أ بیع المرابحه: دې ته ویلی شي چې د معلومې ګټې سره پلورونکی خپلې توکې په اتفاقیه رقم چې دواړو خواو پرې هوکړه کړې وي وپلوري.

ب د تولیه بیع: چې پلورونکی خپلې توکې په هغه نرخ ورکړي چې ده ته پرې راغلې وي، نه په کې څه وګټي او نه یوې تاوان وکړي.

ج د وضیعت بیع: دې ته ویلی شي چې پلورونکي خپلې توکې د خپل اصلي نرخ -چې توکې پرې خپله لویدلي وي- په کمه اندازه خرڅ کړي.

**د پیسو د ورکولو په اعتبار د بیع ډولونه:**

د پیسو د ادا کولو په اعتبار پلور او پېر یو څه ډولونه لري:

١ نقده بیع: دې ته ویلی شي چې د اخستلو سره متفق علیه نرخ ادا شي.

٢ د پور بیع: دې ته ویلی شي چې د توکو نرخ په کې قرض وبلل شي او د ادا لپاره یې نیټه تعین شي.

٣ د سلم یا (سلف) بیع: په نقدو پیسو باندې موصوف شی (توکې) چې د عقد دواړه خواوې پرې هوکړه وکړي خرڅول.

۴ په نېټه سره د پور معامله کول، چې هم توکې پور وي او هم نرخ، دا خو بې له تفصیله حرامه ده.

یا په بل عبارت، بیع الدین بالدین، یا بیع الکالئ بالکالئ.

**د شرعي حکم په اعتبار د پلور پېر ډولونه:**

له دې اعتباره هم پلور او پېر څو شمېر ډولونه لري لکه:

١ جائز پلور پېر، مقابل کې یې باطل پلور پېر.

٢ صحیح پلور پېر، مقابل کې یې فاسد پلور پېر.

٣ نافذ پلور پېر، مقابل کې یې موقوف پلور پېر.

۴ لازم پلور پېر، مقابل کې یې غیر لازم پلور پېر، (دې ډول ته جائز یا مخیّر بیع هم ویل کیږي).

لازمه بیع دې ته ویل کیږي چې خیارات په کې نه وي لکه څوک په چا باندې توکې په سل روپۍ خرڅې کړي او پېرونکی یې واخلی او په خپله مخه لاړ شي.

او غیر لازم بیع یې دا ده چې خیار په کې وي که په سل روپۍ پېرونکی موافقه وکړي او ووایي چې درې ورځې مهلت به راکوې نو... بیع غیر لازمه ده.

او موقوفه بیع دې ته ویلی شي چې پلور توکو پورې د بل چا حق معلق وي، لکه څوک چې د چا شیان له اجازې پرته وپلوري نو بیع هله صحیح کیږي چې د توکو خپل مالک اجازه وکړي.

او لازم نافذه صحیح بیع هغه ده چې په اصل کې وصف کې مشروع وي، نه د بل چا حق وي او نه په کې خیار وي، دا ډول بیع في الحال واقع کیږي.

او باطله بیع بیا هغه ده چې رکن یې له منځه لاړ شي او یا د اصل او وصف په اعتبار بیخي مشروع نه وي، دا ډول بیع صحیح نه ده.

او فاسده بیع یې دا ده چې په اصل کې مشروع وي خو ولې خنډ په کې وصف وي، لکه د جهالت بیع چې لانجې کونجې ترې راولاړیږي، لکه ما پر تا ولاړو موټرونو کې یو موټر درخرڅ کړ خو ولې تعین یې ونه کړي.

یا پرې معدوم شیان خرڅ کړي، یا یې له ورکولو څخه عاجز وي، یا په کې دوکه وي، یا نجس وي او داسې نور.

### د نرخ ویلو لومړی حقدار څوک دی؟

له اسلامی ادبونو او نصوصو څخه داسې جوتیږي چې د پلور توکو لومړی نرخ به پلورونکی خپله وايي، خو ولې دا د پلورونکي واجبي حق نه دی او له وجوب څخه یې ندب ته قرینه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم او د جابر رضي الله عنه معامله وه چې د اوښ پېرلو کې لومړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم نرخ وکړ (بِعْنِيْهِ بِأَوْقِيَةٍ) په یوه اوقیه دې راباندې اوښ راوپلوره، سره له دې چې مبیعه (پلور توکې) د جابر رضي الله عنه وې.

امام بخاري رحمه الله د دې مسئلې متعلق په خپل صحیح کې مستقل باب ایښی دی (باب صاحب السلعة أحق بالسوم)، له دې باب لاندې یې دا حدیث ذکر کړی دی [يَا بَنِي النَّجَّارِ ثَامِنُونِي بِحَائِطِكُمْ هَذَا] (صحيح البخاري: ٤٢٨).

ژباړه: ای بنو نجارو! ستاسو ددې باغیچې نرخ راسره وکړئ.

معلومه شوه چې د سودا لومړی نرخ به پلورنکی وايي، بیا پېرونکی پوهه شه چې اخلي یې او که نه!

### د ناپ تول ذمه واري د پلورنکي ده:

د ناپ تول اړوند ګرد مسؤلیتونه اسلامي شریعت د پلوروونکي پر ذمه اچولي دي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم عثمان بن عفان رضي الله عنه ته د یو حدیث په ترڅ کې سپارښتنه کوي چې [إِذَا ابْتَعْتَ فَاكْتَلْ، وَإِذَا بِعْتَ فَكِلْ] (سنن دارقطني: ۲۸۱۸).

ژباړه: که څه پېرې نو ځان ته یې وتله، او که یې پلورې نو بل ته یې وتله.

معنا دا چې اخستل او خرڅولو کې د تللو خاص خیال ساته، هسې نه له چا نه پوره نرخ واخلئ او سودا کمه ورکړې شاید دا عمل له ناخبرۍ په حالت کې که څه هم وي خو لوي ناندرۍ به ترې رامنځ ته شي.

دې ته باید د سوداګر پام وي چې حدیث ټولو هغو توکو ته چې په ناپ، تول، پیمانه او نور شیان چې اندازةً پلورل کیږي ورته عام دی.

او په ناپ تول کې اسلامي ادب دا دی چې پېرونکي ته به توکې بیخي مساوي هم نه تلې، بلکې تول ناپ کې به لږ زره زیادت کوې، په دې اړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي [يَا وَزَّانُ زِنْ وَأَرْجِحْ] (سنن ابن ماجه: ۲۲۲۰).

ژباړه: ای تولګره! تول لږ درون کوه.

د جابر بن عبدالله رضي الله عنه په مشهور حدیث کې چې په نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې اوښ پلورلی و دا هم پکې دي چې [فَأَمَرَ بِلاَلًا أَنْ يَزِنَ لَهُ أُوقِيَّةً، فَوَزَنَ لِي بِلاَلٌ، فَأَرْجَحَ لِي فِي المِيزَانِ...] (صحيح البخاري: ۲۰۹۷).

ژباړه: هغه بیا بلال ته امر وکړ چې څلوېښت اوقې راته تول کړي، بلال رضي الله عنه راته څلوېښت اوقیې درنې وتللې

د درون تول متعلق نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي [إِذَا وَزَنْتُمْ فَأَرْجِحُوا] (سنن ابن ماجه: ۲۲۲۲).

ژباړه: تاسو چې کله هم تول کوئ نو درون تول وکړئ.

علامه محمد بن صالح العثیمین رحمه الله وایي: نبي صلی الله علیه وسلم څکه تولګر ته د درون تول سپارښتنه وکړه چې هغوی به له دې ورانديې نقود (روپۍ)

په وزن کې اخستې نه د شمېر په لحاظ، که څه به یې په شمېر هم اخستې خو ولې دا عادت ډېر کم و، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته له خپل استحقاق څخه ډېر څه ورکړل، هر انسان باید د ناپ تول په مهال دغه نبوي اخلاق خپل کړي، هېڅ باید کم ناپ او کم تول نه کړي بلکې په ورکړه کې به زیادت کوي. (شرح ریاض الصالحین: ٤١١/٥، دارالوطن ریاض ١٤٢٦ه).

امام مناوي وایي: که ناپ تول سر په سر وشي شاید غاړه یې خلاصه نه شي، خو که ناپ تول لږ درون وکړی شي نو دا واجب عدل او د پرهېزګارۍ مناسبه لار ده. (فیض القدیر: ٦٥/٤، لومړی چاپ ١٣٥٦ه المکتبة التجاریة الکبری مصر).

تولګر باید په ناپ او تول کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم امر ته د قداست په نظر وګوري او د دنیوی او اخروی سعادت د حصول ذریعه یې وبولي، هېره دې نه وي چې په ناپ تول کې رجحان هله جواز لري چې توکې سره یو جنس نه لري، که یې جنس متحد وي نو رجحان پکې حرام دی او د اسلامي احکامو په قاموس کې ورته ربا ویل شوي دي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي [الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلاً بِمِثْلٍ يَدًا بِيَدٍ فَمَنْ زَادَ أَوِ اسْتَزَادَ فَقَدْ أَرْبَى الآخِذُ وَالْمُعْطِي فِيهِ سَوَاءٌ] (صحیح مسلم: ١٥٨٤).

ژباړه: سره زر په سرو زرو، سپین په سپینو زرو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، کجورې په کجورو، او مالګه په مالګې به یوشان او لاس په لاس ورکړل کیږي، که څوک په کې زیادت وکړي او یا اضافه وغواړي نو سود یې وکړ، د اخستونکي او ورکونکي ګناه په کې یو شان ده.

په وزن کې نقص تنقیص کول هغه ناوړه کړه وړه دي چې الله پاک پرې شعیب علیه السلام د نورو عباداتو د توضیح په شمول مستقل استازی راوستلی و، قران کریم د شعیب علیه السلام نقل کړي واقعاتو کې هرومرو د قوم دې رنځ ته هم اشاره کوي، زه هم په مختصره توګه هغه ایتونه ذکر کوم چې د وزن په مسئله مستقل غږېدلي دي:

١ د سورت اعراف په (٨٥) ایت کې الله فرمایي ﴿فَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ﴾ [سورت اعراف: ٨٥].

ژباړه: په پایمانه او تول کې پوره والی وکړئ او خلکو ته توکې کمې مه ورکوئ.

۲ په سورت شعراء (۱۸۱ – ۱۸۳) کې الله پاک فرمایي ﴿أَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُخۡسِرِينَ ۝١٨١ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِ ۝١٨٢ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ﴾ [سورت شعراء: ۱۸۱-۱۸۳].

ژباړه: پایمانه کې پوره والی وکړئ او کمي کونکي مه جوړېږئ * په ترازو باندې په سمه توګه تول وکړئ* او خلکو ته (یې خوراکي توکو) کې کمي مه کوئ او په ځمکه کې ورانکاري مه جوړېږئ.

۳ د سورت رحمن په (۹) ایت کې الله پاک فرمایي ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلۡوَزۡنَ بِٱلۡقِسۡطِ وَلَا تُخۡسِرُواْ ٱلۡمِيزَانَ﴾ [سورت رحمن: ۹].

ژباړه: تول په عدل سره پوره قائم کړئ او په ترازو کې کمي مه کوئ.

۴ الله پاک په سورت مطففین (۱ – ۳) ایتونو کې فرمایي ﴿وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ۝١ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ۝٢ وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ﴾ [سورت مطففین: ۱-۳].

ژباړه: ناپ او تول کې کمي کونکو (تېکمارو) لپاره دي هلاکت یا د جهنم کنده (ویل) وي، هغه خلک چې له خلکو نه خپل ناپ تول پوره اخلي * او چې خلکو ته ناپ تول کوي نو کمی په کې کوي.

د تېرو نصوصو په رڼا کې باید تولګر د خپل تول ناپ اصول او قواعد په شرعي بڼه بڼه پابنه کړي تر څو غاړه یې د نورو خلکو په حقوقو بنکیل نه وي، خو که په سودا کې دواړه اړخونه سره له تسامح نه کار واخلي او یو بل ته خپل ځیني حقوق عن طیب نفس په داسې حالت کې پرېږدي چې اسلامي شریعت کې روا وي نو د دواړو خواو غاړه ازاده ده

## په سوداګریزو ورکړو درکړوکې ګواهان نیول ښه کار دی:

که سوداګریزې توکې روزمره شیان وي چې په معلوم نرخ پلور او پېرل کیږي او شاهدان نېولو ته پرې هېڅ اړتیا نه وي نو د دواړو خواو ذمه ترې هم فارغه ده، لکه

مثلا: غوښه، وړه، اورلګيت، مالګه، غوړي... دا او دې ته ورته نور هغه شیان چې ګواهان پرې نیول دواړو خواو ته ګران تمامیږي.

خو ولې هغه درانه معاملات چې که ګواهان په کې شتون ونه لري شاید د شخړې اندازه تر مرګ ژوبلې ورسیږي اسلامي حکم په کې دا دی چې باید له ګواهانو پرته دغه ډول سوداګریز معاملات طی نه شي، داسې واقعات ډیر دي حتی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خپله له بانده چې شخه اوښه له ګواه پرته پلورلې وه، دپلورونکي د باندچیتوب له کبله خبره دې ته ورسېده چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم تر غاړې یې خپل څادر په زور ورواچو، دا چې هغه د الله پیغمبر او د حوصلې او برده بارۍ باچا و هېڅ یې ورته ونه ویل او دډېر حلم له مخې یې ورته په ادا کې اضافه هم وکړه، خو دا چې امت یې د هغه په څېر حلم او برده بار نه دی شاید شخړه تر هغه وغځیږي چې تصور یې هم نه وي.

# اسلامي سوداګریز شرطونه

د نورو عباداتو او معاملاتو په څېر سوداګریزې راکړې ورکړې هم په اسلام کې شروط لري، که دغه شروط په سوداګریزو کړو وړو کې شته نه شي عقد ناسم دی، په مختصره توګه یې دلته یادونه کوو:

**د پلور او پېر د صحت شروط دوه ډوله دي:**

١ عام شروط چې باید د پلور او پېر په هر ډول کې شتون ولري ترڅو قابل تنفیذ وبلل شي یادونه یې په لاندې کرښو کې کوو:

أ په توکو کې د جهالت انتفاء: معنا دا چې پلورونکي او پېرونکي ته به د توکو ماهیت او کیفیت معلوم وي ترڅو دواړه خواوې پر توکو باندې له عدم علم نه جنګ جګړې ته سرایت ونه کړي، ځکه په توکو علم نه لرل خپله دوکه ده او نبي کریم صلی الله علیه وسلم د غرر له پلور اوپېر نه اشده منع کړې ده، دا ډول جهالت څلور ډولونه تشکیلوي:

د توکو جهالت، که د جنس په لحاظ وی او که د نوعیت او یا د اندازې په لحاظ وي.

د نرخ جهالت.

په خیار شرط یا د قرض په کاته کې د نیټې جهالت.

د عقد په توثیق کې د وسایلو جهالت، د نمونې په توګه لکه د کفیل شرط لګول.

ب د جبر زور انتفاء: معنا دا ده چې په پلور او پېر به چا ته دړکې نه ورکول کیږي چې که ته راباندې خپله ځمکه، کور، موټر او... ونه پلورې نو... یا یې د خپلو توکو په پېرلو مجبور کړي چې له ما څخه به هرومرو سودا کوې،

د هغه اراده غصب کړي او اختیار یې ولوټي، دا چې رضا په بیع کې شرط دی بې له دې عقود ناسم دي.

ج پلور توکې به موقتې نه وي: معنا دا چې د پلور او پېر صورت به دا نه وي چې دا کور مې دربندې تر یو کال د مالیت په دومره اندازه وپلور یا وپېر... په دې صورت کې بیع ځکه فاسده وي چې د عقد اصلیت سره یې منافات ودرلود، په بیع سره د پېرونکي واک او اختیار په مبیعه کې شته کیږي خو ولې دلته د پېرونکي په واک کې مبیعه بیخي رانغله.

د عقد کې ټکي برګي نه وي: معنا دا چې د مبیعي وصف به بیخي ظاهره وي، په ظاهري صفاتو به یې غور کیږي، که له اخستو وروسته پټې مخکني عیوب راظاهر شي نو پېرونکی یې د بېرته ورکولو اسلامي حق لري.

هـ د توکو پلور پېر به د چا په زیان نه وي: معنا دا چې هغه ډول پلور پېر به څوک نه کوي چې د بل چا په زیان تمامیږي، د نمونې په توګه د چت هغه تیر چې د ګاونډې په دیوال کې اېښې وی نوکه تیر خرڅوي د ګاونډي کور زیانمنیږي، یا د ګاونډي دخونې تیر د ده په دیوال پروت وي او دا دیوال خرڅوي، که څه هم دیوال دده حق دی خو ولې بل مسلمان ته په کې لوی ستونزې راولاړیږي فلهذا د بل د سوکاله ژوند په خاطر به داسې څه نه کوي چې د هغه ژوند له خطراتو سره مخ کوي.

و دواړه خواوې به داسې شروط نه تړي چې د بیع اصلیت سره ټکر لري: معنا دا چې دواړه خواوې به هغه شروط نه ږدي چې شریعت ته استناد نه لري، لکه: کور دربندې په دې شرط پلورم چې تر یو کال پورې به کې نه اوسیږې... اوفاسد شرط چې کله هم په مالي معاوضاتو کې شته شي عقد فاسدوي.

۲ بل ډول یې ځانګړې شروط دي د ځینو سره تعلق لري او له ځینو سره یې نه، لکه له افتراق وړاندې په بیع الصرف کې د بدلینو تقابض یا له د سودي شبهاتو څخه ذمه فارغول.

دا د پلور او پېر شرطونو ته ځغلند نظر و، خو ولې په پېر او پلور کې شرطونه هغې

ته ویلی شي چې د عقد دواړو خواو کې یو بل په داسې څه مکلف کړي چې د عقد تقاضا نه وي، بلکې داسې اضافي څه وي چې عقد پرې بشپړېږي.

دواړه ډول شرطونه سره خپل منځ کې له څلورو اړخونو توپیرونه خوري:

لومړی: د بیع او شراء شروط اسلام خپله ایښي دي او په بیع او شراء کې شرط هغه دی چې د عقد خواوې یې ږدي.

دوهم: د بیع او شراء په شروطو باندې د عقد صحت ولاړ وي، او په بیع او شراء کې شروطو باندې د بیع لزوم ولاړ وي، که څه هم شرط صحیح دی خو لازم نه دی، ځکه که په شرط یې وفاء ونه شي نو د تنفیذ او فسخ خیار ورته حاصل دی.

دریم: د بیع شرا ء شروط به هرومرو تنفیذیږي او د عمل لاندې به راځي خو ولې په بیع او شراء کې شروط ساقطیدی هم شي.

څلورم: د بیع او شراء ټول شروط د اعتبار وړ او صحیح دي خو ولې په بیع او شراء کې شروط سم او ناسم دواړه اړخونه لري.

دا هم باید له پامه ونه غورځول شي چې ایا شروط في البیع د عقد په پیل، په منځ یا وروسته مخکې په کوم ځای کې به ورته اعتبار ورکړل کیږي؟

دروسته دا ده چې د عقد په مهال او یا هم د مجلس او شرط خیار په مهال وي.

**له پلورل شوو توکو څخه د مجهول استثناء دروسته نه ده:**

معنا دا چې که څوک د پېر او پلور په مهال چا ته ووايي چې ځمکه مې درباندې درخرڅه کړه خو دوه درې یا څلور... متره نه، دا ځکه سمه نه شي کیدای شاید ډېرې ناندرۍ ترې راولاړې شي، هغه داسې چې که مثلا په پلور شوې ځمکه، غر یا نورو توکو کې خزانه او معدن راوخېژي یا په کې میوه دار بوټي وي او بادو باران یې زیانمې کړې او یو بوټی ترې پاتې شي او پلورنکی دعوه دنګله واچوي چې ما خودرته ویلي ول چې یو متر ځمکه مې درباندې نه ده پلورلې هغه مې دا یادوله چې خزانه پکې رابرسیره شوه، یا د باغ ونو کې مې استثنا څخه موخه دا بوټی و، نو دا چې وروسته مشاجرې ترې راولاړیږي نو ځکه بیع او شرا هم دروسته نه ده.

خو که حصه معلومه وي نو پلور او پېر دروست دي، مثلا که ووایي چې دا ځمکه او غر مې دربانديې وپلور خو د چینې ترخوا فلانکۍ اندازه نه، یا باغ مې دربانديې وپلوره خو په نښه کړي ونې بوټې نه، او مستثنی معلومه کړي نو بیع او شراء دروسته ده.

## ❁ د نالیدلي توکو خرڅول او اخستل:

که څوک پر چا نالیدلي توکی په داسې حالت کې وپلوري یا وپېري چې اوصاف يې ورته نه وي بیان کړي نو ناروا ده او بیع سمه نه شي بلل کېدای، ځکه په مبیعه باندې علم لرل چې د بیع او شراء مهم اړخ دی له منځه ولاړ نو بیع ځکه فاسده ده.

خو که اوصاف بیان شي چې فلانکی شی په دومره پیمانه د داسې اوصافو حامل... او دواړه خواوې پرې رضا شي نو بیع او شراء سمه بلل کیږي، په دې اړه مو په درووند حضور کې دا دلیل وړدم [عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عَنْهُمَا، قَالَ: بِعْتُ مِنْ أَمِيرِ المُؤْمِنِينَ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ مَالًا بِالوَادِي بِمَالٍ لَهُ بِخَيْبَرَ، فَلَمَّا تَبَايَعْنَا رَجَعْتُ عَلَى عَقِبِي حَتَّى خَرَجْتُ مِنْ بَيْتِهِ خَشْيَةَ أَنْ يُرَادَّنِي البَيْعَ وَكَانَتِ السُّنَّةُ أَنَّ المُتَبَايِعَيْنِ بِالخِيَارِ حَتَّى يَتَفَرَّقَا قَالَ عَبْدُ اللهِ: فَلَمَّا وَجَبَ بَيْعِي وَبَيْعُهُ، رَأَيْتُ أَنِّي قَدْ غَبَنْتُهُ، بِأَنِّي سُقْتُهُ إِلَى أَرْضِ ثَمُودَ بِثَلاَثِ لَيَالٍ وَسَاقَنِي إِلَى المَدِينَةِ بِثَلاَثِ لَيَالٍ] (صحيح البخاري: ٢١١٦).

ژباړه: عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وایي چې ما په عثمان بن عفان رضي الله عنه باندې په خیبر کې خپل مال (ځمکه) په مدینه کې د هغه په مال (ځمکې) خرڅ کړ، کله چې عقد تر سره ورسېد نو پر شاه تړې په دې خاطر له کوره ووتم چې بېرته عقد واپس نه کړي او نبوي سنت په پلور او پېر کې دا ول چې تر څو پلورونکی او پېرونکی سره جلا شوي نه وي نو خیار مجلس ورته ثابت دی (کولی شي بیع فسخ کړي) عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وایي: کله چې وپوهېدم چې بیع واجبه شوه پوهه شوم چې په حق کې مې ورله کوتاهي وکړه، د درې میله په اندازه مې د ثمودیانو لرې ځمکې ته واستو خو ولې درې شپې په مسافه يې زه مدینې ته واستولم.

دلته دواړو خواو د يو بل پلور توکې نه وې ليدلې خو دا چې اوصاف او کيفيتونه ظاهر وي نو بيع سمه بللى شي.

ابن بطال رحمه الله ذكر كوي چې عثمان رضي الله عنه ته وويل شول دوكه شوې! هغه وويل: هېڅ پروا نه كوي لا د خيار څښتن يم كه مې خوښه نه شوه بېرته به يې وركړم، دواړو جبير بن مطعم رضي الله عنه ته پرېكړه يوړه او هغه د بيع په سموالي پرېكړه وكړه.(شرح صحيح البخاري د ابن بطال: ٢٧٥/٦، دوهم چاپ ١٤٢٣هـ٢٠٠٣م، مكتبة الرشد رياض).

نو كه توكې په معلومو اوصافو وپلورل شي او رضائيت پرې د دواړو خواو وي نو ان شاء الله هېڅ خبره به نه وي، خو كه اوصاف يې بيان نه شي او د خولې په سر عقد تر پايه ورسيږي نو بيع سمه نه ده.

### د توک پلور په مهال د دريم ګړي مداخله ناروا ده:

كه په بازار يا آتې يا د خرڅ بل ځاى كې دوه نفر د توكو په خريد او فروخت مصروف وي دريم نفر ته اسلام اجازه نه وركوي چې په عقد كې د زيادت يا كمي له مخې ګډون وكړي، معنا دا كه څوک په چا باندې يو شى په سل روپۍ خرڅوي دريم به ورته نه وايي چې ما ته يې په يو سل او لس راكړه، يا به دريم ګړى دا نه كوي چې مشتري ته ووايي چې په فلانكي اوصافو توكې به درته زه په نوي روپۍ دركړم، دا ناروا دي، او د ناروا معنا هم دا ده چې له بيع او شراء نه به دې الهي بركت پورته شي.

په دې اړه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد مبارک دى [نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلاَ تَنَاجَشُوا، وَلاَ يَبِيعُ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ] (صحيح البخاري: ٢١٤٠).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم منعه فرمايلې ده چې ښاريز سړى دې د بانډه چي لپاره توكې وپلوري، او نجش (په دوكه باندې توكو كې نرخ اضافه كول) مه كوئ (لكه څوک يو شى په لس روپۍ اخلي دويم ووايي چې ما ته يې پنځلس راكړه خو اخلي يې نه بلكې اول پرې راتېزوي، اول يې له كبله قصداً غږ كړي

چې زماپه شل شو) او هېڅ څوک دې د خپل ورور په خرڅ (او شرا) باندې خرڅ (او شرا) نه کوي.

### که په پلور او پېر کې ګواه نه وي د شخړې په مهال به د چا خبره دروسته وي؟

که د توکو پلور پېر په مهال دواړه سوداګر سره په تشنج اخته شي، پېرونکی دعوه لري چې ما پرې په نقدو خرڅ کړی او مشتري دعوه لري چې ما ترې په پور اخستی، یا پلورونکی ووايي چې په سل مې پلورلی دی او مشتري ووايي چې په پنځوس مې ترې اخستی راجح يې دا ده چې د بائع قول به معتبر وي او د پرېکړې لپاره به معيار وي، ځکه چې صحيح حديث پرې په صراحت سره دلالت کوي، نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي [إِذَا اخْتَلَفَ البَيِّعَانِ فَالقَوْلُ قَوْلُ البَائِعِ وَالمُبْتَاعُ بِالخِيَارِ] (جامع ترمذي: ۱۲۷۰).

ژباړه: کله چې سره بائع او مشتري په اختلاف (جنګ جګړه) شي نو معتبره خبره به د بائع وي او مشتري ته اختيار دی چې توکې اخلي او که يې پرېږدي.

که څه هم علماء سره د نورو حديثونو په رڼا کې د مشتري قول معتبر ګڼي خو يا يې دلايل صحيح دي خو صريح نه دي او يا صريح دي خو صحيح نه دي علل قادحه په کې دي.

په خيار کې ګټه هم دا ده چې د عقد په دواړو خواو اساني راولي، خيار په عاقدينو باندې رحمت او د ستونزو دفع کول دي، په خيار سره جنګ جګړې او حسدونه له منځه ځي.

### په اسلام کې د بيع او شراء مشروع خيارات دا دي:

❁ د مجلس خيار اسلامي مفهوم دا دی چې د سوداګريزو کړو وړ په مهال د دواړو خواو ترمنځ متفق عليه عقد وروسته دواړه خواوې د فسخ او عدم فسخ اختيار لري، خو که عقد په دې وشي چې وروسته به هېڅ څوک خيار نه لري نو بيا خيار نشته، ګټه يې هم دا ده چې ځيني وختونو کې نابېره څوک په يو شي غوټه شي خو بېرته زر پوهه شي چې دا شی که څه هم ګټور دی خو اوس يې اختسل مناسب نه و يا د نه اخستلو نور وجوهات ولري نو اسلام دين چونکه د انسانيت دين او په مسلمانانو

یې خیر پېرزو دی دا خیار ورکړ چې د عقد فسخ کولو حق ورته حاصل دی، دا هله چې تفرق بالابدان نه وي راغلی خو تفرق بالابدان سره د ځایونو په تغیر حکمي بدلون خوري، که عقد په کوچني کور کې وشي یو بهر ووت نو تفرق بالابدان راغی، که کور لوی وي مثلا او درې ځلور قدمه د عقد له ځایه وړاندې لاړ شي تفرق بالابدان دی خو که دواړه یو ځای پورته شي یا لاړ شي نو خیار په ځای پاتی دی.

راجح دا ده چې تفرق بالابدان په عرف پورې تړلی دی چې په عرف کې څه ته تفرق بالابدان وویل شي هغه به تفرق وي.

د دې اړوند لږ وړاندې د عثمان بن عفان او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما واقعه تېره شوه.

خیار شرط: دا ډول عقد دې ته ویلی شي چې څوک تر معلومې نېټې پورې که څه هم اوږده وي توکې وپلوري بیا یې خوښه چې د بیع عقد نافذ بولي او که یې فسخ کوي، دا ډول خیار هله باور وړ وي چې یا خو پرې د عقد دواړه خواوې توافق وکړي او یا یې یوه خوا شرط کړي هم سمه ده.

د جواز دلائل یې ګڼ دي خو نمونې یې په دې ډول دي:

أ د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په روایت نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي [الْمُتَبَايِعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالخِيَارِ عَلَى صَاحِبِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا، إِلَّا بَيْعَ الخِيَارِ] (صحیح البخاري: ۲۱۱۱).

ژباړه: پلورونکی او پېرونکی دواړه یو پر بل تر هغه خیار لري چې جلا شوي سره نه وي مګر د خیار (شرط) په بیع کې.

معنا دا ده چې که دواړو خواو د عقد صحت تر شرط موقوف کړ که څه هم تفرق بالابدان راشي خو بیع به له شروطو موجودیت وروسته د فسخ او عدم فسخ حکم اخلي تر څو معلومه نېټه راشي.

ب د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په روایت نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي [إِذَا تَبَايَعَ الرَّجُلاَنِ، فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا، وَكَانَا جَمِيعًا، أَوْ يُخَيِّرُ أَحَدُهُمَا الآخَرَ، فَتَبَايَعَا عَلَى ذَلِكَ، فَقَدْ وَجَبَ البَيْعُ، وَإِنْ تَفَرَّقَا بَعْدَ أَنْ يَتَبَايَعَا وَلَمْ يَتْرُكْ وَاحِدٌ مِنْهُمَا البَيْعَ، فَقَدْ وَجَبَ البَيْعُ] (صحیح البخاري: ۲۱۱۲).

ژباړه: کله چې دوه سړي سره اخستل او خرڅول وکړي نو دواړو ته تر هغه اختیار حاصل دی چې سره جلا شوي نه وي او یا یو ځای وي یا پکې یو بل ته اختیار ورکړي او پلور پېر سره وکړي نو بیع واجب شوه، خو که د پلور او پېر نه وروسته یو له بل نه سره جلا شي او دواړو کې یو هم بیع پرې نه ږدي نو بیع واجب شوه.

خو که د شرط مدت تر پای ورسیږي او بیع فسخ نه شي عقد خپله لازمیږي او خیار له منځه ځي.

۞ د عیب خیار: له لاندې مسئلو څخه یې صورت او حکم دواړه اخستلی شو:

(۱) د بیع په مهال په پلور توکو کې د نقص او عیب پټول حرام دي ځکه چې:

(أ) عقبه بن عامر رضي الله عنه وایي ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې [الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ بَاعَ مِنْ أَخِيهِ بَيْعًا فِيهِ عَيْبٌ إِلَّا بَيَّنَهُ لَهُ] (سنن ابن ماجه: ۲۲۴۶).

ژباړه: مسلمان د مسلمان ورور دی، هیڅ مسلمان لپاره نه دي حلال چې په مسلمان ورور باندې عیب دار شیان خرڅ کړي مګر دا چې عیب ورته ښکاره کړي.

(ب) عداء بن خالد رضي الله عنه وایي: ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم لیکلي ول: عداء بن خالد بن هوذه له محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مری (غلام) یا وینځه واخسته، نه به پکې عیب او نه به پکې فجور او خیانت وي او نه به هم مری حرام وي، مسلمان به له مسلمان سره په بیع کې دوکه او غش نه کوي.

(۲) د هغه توکو حکم چې د پلور په مهال عیب او خو ولري: که د عیب باوجود پېرونکی څه واخلي نو هیڅ ډول خیار نه لري ځکه د عیب باوجود عقد معنا دا ورکوي چې پېرونکی په عقد رضا دی.

خو که پلورونکی د عقد په مهال په عیب ناپوهه وي او له عقد وروسته په عیب خبر شي که څه هم عقد صحیح دی خو ولې لازم نه دی، د فسخ خیار یې لا هم لري چې عقد ختم کړي او خپل مالیت بېرته وغواړي او کولی شي چې بیع سمه وبولي او فسخ یې نه کړي.

❁ د تدلیس خیار: که پلورونکی په پلورونکي باندې د توکو نرخ د تدلیس له مخه پورته کړي نو پلورونکی حرامو کې واقع شو.

مشتري د درې ورځو موده کې کولی شي چې مبیعه پلورونکي ته ستنه کړي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي [لاَ تُصَرُّوا الإِبِلَ وَالغَنَمَ، فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدُ فَإِنَّهُ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ بَعْدَ أَنْ يَحْتَلِبَهَا: إِنْ شَاءَ أَمْسَكَ، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهَا وَصَاعَ تَمْرٍ] (صحیح البخاري: ۲۱۴۸).

ژباړه: تاسو د اوښانو او وزو په غولانځه کې شوده مه جمعه کوئ، که له دې وروسته يې څوک واخلي نو د لوشلو وروسته د (ځان) ګټور کار اختيارمند دی، که يې خوښه شي له ځان سره يې حصارولی شي او که يې خوښه شي نو د يو صاع (دوه کیلو سل ګرامه) کجورو سره دې بېرته واپس کړي.

❁ په پلور او پېر کې د غبن خیار: غبن د پلورونکي په حق کې دا وي چې د پنځه روپۍ توکې په درې خرڅې کړي او د مشتري په حق کې دا وي چې د درې روپو شی په پنځو واخلي.

په داسې حالتونو کې د عقد دواړه خواوې کولی شي چې رجوع وکړي او عقد فسخ کړي په دې شرط چې د توکو له نرخ څخه به واقعا ناخبره وي خو ایا په مجرد غبن باندې خیار ثابتیدی شي؟

که غبن یسیر وي نو امکان لري چې د عادت له مخې پکې تسامح وشي او که غبن بیخي فاحش وي، ښه دا ده چې خبره تر عرف منحصر وبلل شي، که عرف ورته غبن ووايي خیار پکې ثابتېدی شي خو که عرف او عادت څه ته غبن ونه وايي نو خیار نه ثابتیږي.

### ❁ د نرخونو پورته وړلو شرعي حکم:

ښکاره ده چې د نرخونو زیاتېدل د انسان د اصلي معیشت اړتیاو پوره کولو کې لويه ستونزه ده، په ځانګړې توګه نادارو خلک چې له مزدورۍ دومره څه نه شي لاس ته راوړلی چې کورنۍ اړتیاوې پوره کړي چې له کبله يې د شقاوت او تنګې زندګۍ سره اخته وي، ستر لامل يې لالچي سوداګر دی چې څنګه له نادارو څخه

مالیت راغونډ کړي، د شرعي نصوصو له مخې دا ډېر ناروا کار دی چې مزید تفصیل یې ستاسو مخې ته ږدو.

اسلامي شریعت په ګڼ شمېر قراني ایتونو او نبوي حدیثونو کې ټینګار کړی دی چې وګړیز او ټولنیز مصلحتونه باید له پامه ونه غورځول شي، له دې کبله یې تطفیف، یا د دوکې د بېلابېلو ډولونو څخه د یو انتخاب، یا د توکو کیفیت ټیټول او نوعیت یې خرابول له ټولو څخه شدیده منع فرمایلې ده او له دې ټولو سوداګریزو ناوړه سلوکو نه مونږ اسلامي شریعت بند کړي یو چې له ظروفو څخه په استغلال به سوداګر محدودې توکې چې ټولنه ورته اړتیا لري نرخ به یې په پورته نه وړي، له دې فاحش کسب له مخې به پانګونه نه کوي او مسلمانان به نه تکلیفوي، خو دا چې نرخونه ولې پورته ځي؟ بنسټیز لامل یې څه کېدی شي؟

لومړی لامل یې ګناهونه دي، ښکاره خبره ده چې ګناهونه د انسان په ژوند ډېرې بدې اغېزې لري، نبي کریم صلى الله علیه وسلم فرمايي [لَا يَزِيدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ، وَلَا يَرُدُّ الْقَدَرَ إِلَّا الدُّعَاءُ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ] (سنن ابن ماجه: ٤٠٢٢).

ژباړه: په زندګۍ کې له نیکۍ پرته نور څه زیادت نه راولي، او تقدیر له دعا پرته نور څه نه شی ختمولی، او کله سړی ګناه وکړي چې له کبله یې پرې له رزق نه محروم شي.

او الله پاک فرمایي

﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوْاْ لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَٰتٍ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ﴾ [سورت اعراف: ٩٦]

ژباړه: او که چېرې د کلیو اوسېدونکو ایمان راوړی وی او پرهېزګاره شوي وی (نو) مونږ به خامخا په دوي باندې د اسمان او ځمکې نه برکتونه پرانستلي وی، لیکن دوی تکذیب وکړ، نو مونږ دوی د هغو عملونو په سبب ونیول چې دوی به کول.

البته د دې رنځ تداوی شته، که څوک غواړي رزق یې پراخه شي، خېته یې مړه او چا ته د سوال لاسونه لپه نه کړي باید له خپلو سرغړونو توبه تائب شي، استغفار د رزق د زیادت له لاملونو څخه مؤثر لامل دی.

دوهم لامل يې له دين څخه لرې والی او د اسلامي شريعت زده کړو ته توجه نه کول دي، الله پاک فرمايي

﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ﴾

[سورت طه: ١٢٤]

ژباړه: او هغه څوك چې زما له ذكر (قران) نه مخ وګرځوي، نو بېشکه د ده لپاره ډېر تنګ ګذران (او ژوند) دی او دی به مونږ د قيامت په ورځ ړوند راپورته کړو.

نو د تنګدسته ژوند ستر لامل د معاصيو ارتكاب هم دی، ترڅو چې انسان په ګناهونو کې ښکېل وي او د خپلې رهايی لپاره جدوجهد ونه کړي رزق او زندګي به يې تنګه وي.

معلومه شوه چې ګناه هغه څه دي چې د انسان رزق ننګوي او ګواښي.

نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي [لَا يَحْتَكِرُ إِلَّا خَاطِئٌ] (صحیح مسلم: ١٦٠٥).

ژباړه: د ګناهګار نه بغیر څوک احتکار نه کوي.

د مسلمان سړي په بازار کې بايد يو ډول نرخ وي چې غريب او امير دواړه ورته لاس رسی لرلی شي بايد د حكومت اړوند د (اهل حسبې) له خوا په نظارت كې ونيول شي، ترڅو بازار په شرعي بڼه له حرامو څخه هم پاک وي او د سوداګرو بد سلوک به هم له منځه يوسي چې د نرخ لوړوالي لالچ يې ورکړی و.

د دې معنا دا نه ده چې اهل حسبه به د شيانو نرخونه ټاکي بلکې خلک به له ظلم او استبداد څخه په نرخونو کې رابندوي، ورنه حديث په ډېر صراحت غبږېدلی دی چې نرخونه الله پاک ږدي، د ګناهونو په سبب نرخ کې لوړوالی راځي او په اطاعت او د الله په فرمانبرداری د خوراکي توکو او د ژوند نورو مهماتو نرخونو کې ټيټوالی راځي، د نرخ اړوند درته د انس رضي الله عنه هغه حديث چې وايي ځينې خلک نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته عرض شول چې زمونږ لپاره بازاري نرخ کېږده چې ښکته پورته نه ځي، نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وويل [إِنَّ اللهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّازِقُ، وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى اللهَ وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ يُطَالِبُنِي بِمَظْلَمَةٍ فِي دَمٍ وَلَا مَالٍ] (سنن ابي داود: ٣٤٥١).

ژباړه: الله نرخ لګونکی دی، هغه رزق تنګوي او پراخوي، په دې امېد چې زه به له الله سره په داسې حالت کې مخامخ شم چې له تاسو څخه به رانه په وینه او مال کې څوک مطالبه نه لري چې ما پرې ظلم کړی وي.

**د احتکار د بدو پایلو نمونې:**

د اسلامي شریعت غښتلتیا هم دا ده چې ټولنیز مصالح په فردي مصالحو مقدم بولي، په کومو شیانو کې چې ټولنیز خیر او ګټه نه وي باید فرد ورڅخه ځان وژغوري که څه هم فرد په کې د ځان خیر او فایده ویني، یو له دغې جملې څخه چې اسلام په کې د چاپېریال حق ته لومړیتوب ورکړی دی احتکار دی، احتکار ځکه حرام دی ټولنه په ګڼ شمېر ستونزو کې اچوي، له نادودو سره یې مواجه کوي، شان او دبدبه یې له منځه وړي نو ځکه احتکار حرام دی، دا چې احتکار څومره مساوئ لري ستاسو مخې ته یې نمونې ږدم:

د پلور پېر کوچني سوداګر او هټیوال به د زوال سره مخ شي، له ښارونو پرته کلیوال دکانونه به زایله شي، بازارونو ته به هرڅوک لویې مسافې وهلو باندې مجبور شي، د یو څو دقیقو شی چې په ډېره اسانه ورته لاس رسی کیږي نزدې به په یو ساعت کې ترلاسه کیږي.

له نفس څخه د انساني اخلاقوکوچېدل او د بداخلاقۍ پدیده راښکاره کېدل.

دا چې احتکار د انسان اخلاق بدوی نو سزا یې هم هغه څه دي چې د انسان په زیان تمامیږي، معنا دا چې د احتکار د بې وزله اخلاقو بنسټیز لامل دی.

احتکار د انسانیت ترمنځ د حسد او عداوت بنیاد دی، د ټولنې مقومات پاشي او اتحاد یې تفریقوي.

احتکار د ټولنې او چاپیریال پرمختګ ګواښي او د امن او امان صورت حال یې تعطیلوي.

احتکار د مسلمانانو ترمنځ د ایثار صفت خوري.

احتکار د ګڼ شمېر اقتصادي او ټولنیز رنځونو زیږنده ده، لکه رشوتونه، غش، سرقت او داسې نور.

## ❁ څنګه باید د احتکار مقابله وکړو؟

کولای شو چې په سالم نیت د احتکار رنځ له ټولنې څخه پورته کړو او له نورو ټولنو سره یې سیال کړو، دا هله چې مونږ اسلام ته په حقیقي شکل تن کېږدو، ځکه چې اسلام د چاپېریال د ماتولو ټولو اسبابو کلکه مخه نیولې ده او افراد یې په دې تېز کړي دي چې د سالمې ټولنې موجودیت ته تل ژمن وي، یو هغه رنځ چې ټولنه ماتوي او روحیت یې وژني احتکار دی کولی شو چې په مشروعې وسایلو یې مقابله وکړو لکه:

- د بازار او مارکیټ پر چارو ګمارل شوی سرپرست باید د احتکار ضد قوي سرابره وي، او سوداګر مجبور کړي چې توکې په معتدل نرخ وپلوري، که یې ممانعت وکړ د چارو مسؤلین کولی شي چې توکې یې مصادره کړي ترڅو حاکم او په چارو ګمارل شوي له هغو خلکو ظلم او استبداد پورته کړي چې الله به یې ورڅخه پوښتنه کوي.
- چې کله هم په بازار کې د اړتیا وړ شیانو کمیت په ټیټېدو شي باید حکومت ټول زیار په دې مصرف کړي چې هیوادوالو ته بازار له مطلوبو توکو څخه ډک کړي تر څو له اړتیاوې یې پوره شي هم به احتکار له منځه لاړ شي او هم به نرخ دتېر په څېر معتدل وچلېږي.
- له نورو هیوادونو سره د تجارت مواقع پراخول او سوداګر په بهرنې تجارتونو تېزول ترڅو هېواد یې هم له نورو سره سیال شي او هم یې اړتیاوی فیصله شي.
- هېواد به د احتکار له منځه وړلو لپاره د توکو نرخ هم ټاکي ترڅو سوداګر په پېرونکو ظلم ونه کړي هغه هم په دې شرط چې حکومت به په دې مورد کې د دیني علماؤ او اقتصاد پوهانو سره په دیني بڼه ناسته کوي ترڅو دواړه خواوې له ظلم څخه سالمې پاتې شي ځکه زیات وخت په نرخ ټاکلو کې ظلمونه هم کیدای شي.

د نرخ تعین هله موجب ګرځیدی شي چې اړتیا ولیدل شي، له اړتیا او شرعي موجب پرته د توکو نرخ ټاکل ښه کار نه دی ترڅو په بیع او شراء کې د افرادو

ازادي سلب نه شي خوکه افراد له ازادۍ څخه ناوړه ګټه پورته کوي دې ته شرعي موجب ویلی شي او حکومت په کې په شرعي بڼه د تداخل حقوق لري.

د احتکار په حرمت او نه حرمت کې سره فقها دوه نظرونه لري، حرمت يې د جمهورو فقهاؤ مذهب دی او په کراهت يې احناف قایل دي، د احتکار په حرمت کې به شاید دومره بسنه وکړي چې الله پاک به محتکر د قیامت په ورځ د اور په عظیمه برخه کې کېنوي، نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي [مَنْ دَخَلَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَسْعَارِ الْمُسْلِمِينَ لِيُغْلِيَهُ عَلَيْهِمْ كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُقْعِدَهُ بِعُظْمٍ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ] (مسند احمد ۲۰۳۱۳).

ژباړه: څوک چې د مسلمانانو په نرخونو کې ننوځي (لاس وهنه پکې وکړي) په دې خاطر چې نرخونه پورته شي نو الله پاک به يې د قیامت په ورځ د اور په عظیم ترینه برخه کې کېنوي.

په بل مقام کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي [مَنِ احْتَكَرَ حُكْرَةً، يُرِيدُ أَنْ يُغْلِيَ بِهَا عَلَى الْمُسْلِمِينَ، فَهُوَ خَاطِئٌ] (مسند احمد: ۸۶۱۷).

ژباړه: څوک چې په دې خاطر احتکار کوی چې په مسلمانانو باندې نرخونه پورته کړي نو ګناهکار دی.

امام شوکاني له دې او ورته د نورو حدیثونو وروسته وايي: په يقين سره چې د باب ټول حدیثونه په مجموعي توګه د احتکار په عدم جواز دلالت کوی. (نیل الأوطار: ۵/۲۶۰، لومړی چاپ ۱٤۱۳هـ، ۱۹۹۳مـ دار الحديث مصر).

چې دچارو مسؤلین خپله په بازاري سستم کې مباشرة دخل ولري نو پلور او پېر هم په شرعي بڼه پرمختګ کوي، عمر بن الخطاب رضي الله عنه به په بازار کې ګرځېده او خلکو ته به يې اسلام کې بازاري اصول ښودل، د احتکار اړوند فرمايي [لاَ حُكْرَةَ فِي سُوقِنَا. لاَ يَعْمِدُ رِجَالٌ، بِأَيْدِيهِمْ فُضُولٌ مِنْ أَذْهَابٍ، إِلَى رِزْقٍ مِنْ رِزْقِ اللهِ نَزَلَ بِسَاحَتِنَا. فَيَحْتَكِرُونَهُ عَلَيْنَا. وَلَكِنْ أَيُّمَا جَالِبٍ جَلَبَ عَلَى عَمُودِ كَبِدِهِ فِي الشِّتَاءِ، وَالصَّيْفِ فَذلِكَ ضَيْفُ عُمَرَ فَلْيَبِعْ كَيْفَ شَاءَ اللهُ وَلْيُمْسِكْ كَيْفَ شَاءَ اللهُ] (موطأ امام مالک: ۲۳۹۸).

ژباړه: زمونږ په بازار کې به څوک احتکار نه کوي، هغه خلک چې په لاسونو کې ورسره اضافي سره زر وي هغې رزق ته دې قصد نه کوي (نه ورځي) چې زمونږ په ساحه کې الله له خپل رزق نه رالیږلی دی چې (وایي اخلي) او له مونږ نه یې احتکار کړي (چې نرخ یې پورته شي) خو کوم راغونډونکي (سوداګر) چې په ژمي او اوړي کې په خپله شاه (یا سورلۍ) څه راتړولوي نو دغه سوداګر د عمر (رضي الله عنه) میلمه دی خو ښه یې چې دالله له مشیئت سره سم یې پلوري او که یې له ځان سره ساتي.

له خلفاء راشدینو او صحابه کرامو څخه د احتکار په تحریم نور نصوص هم شته خو ان شاء الله دومره به بسنه وکړي.

## د احتکار په حرمت کې فلسفه څه ده؟

اسلامي دین ډېر مبین او له حکمتونو ډک احکام لري، هېڅ حکم یې له فایدې تش تور نه دی، د هر بخش احکام یې عقل ایجابوي او د انساني فطرت سره سمون خوري، د اسلام په حکیمانه احکامو کې یو هم د احتکار تحریم دی، ګڼه یې دا ده چې ترڅو له عامو خلکو څخه تکلیف او مشقت پورته کړي، له دې کبله ګرد علماء په دې متفق دي چې که څوک د داسې شیانو احتکار وکړي چې خلک ورته اړتیا محسوسوي او له ده پرته نور له چا سره شتون نه لري، په جبر زور به ترې احتکار شوې توکې د مناسب نرخ په بدل کې اخستل کیږي او د غریب فقیر منګولو ته به رسیږي، میوه جات او که سبزي جات، پوښاک وي او که د خوراک او څښاک بل ډول وي، خو چې په احتکار یې خلک مشقت کې لوېدل نو حرام دي.

دا هم باید توضیح شي چې محرم احتکار کوم یو دی؟

د فقهاؤ په اتفاق احتکار مطلق دتوکو ذخیره کولو ته نه ویل کیږي، کله انسان د ځان او اهل لپاره تر یوکال بودیجه وساتي خو ولې دې ته احتکار ویل ناسم دي، حدیث کې راځي [أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَبِيعُ نَخْلَ بَنِي النَّضِيرِ، وَيَحْبِسُ لِأَهْلِهِ قُوتَ سَنَتِهِمْ] (صحيح البخاري: ۵۳۵۷).

ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د بنونظیرو کجورې خرڅولې او تر کال پورې به یې ترې د خپل اهل لپاره خوراک ساته.

حدیث دې ته اشاره کوي چې د خوراک دا ډول ذخیره هېڅ حرمت نه لري او نه دا منهي عنه احتکار دی، احتکار کې هله د حرمت صفت پیدا کیږي چې لاندې شروط په کې شته شي:

احتکار شوي شیان چې کله قوت البلد او د خلکو عمومي خوراک وي.

احتکاري شوي توکې به له بازاره اخستل شوي وي، که احتکار شوي توکې له خارج ځخه راغلي وي او یا د محتکر خپل انتاج وي نو ځکه ورته احتکار نه شو ویلی چې د خوراکي او غیر خوراکي اړتیا وړ شیانو متعلق د عوامو حقوق د هیواد داخل توکو پورې اړه لري نه د هغه توکو پورې چې له خارج ځخه واردیږي، ځکه مشتري کولی شول چې له خارج ځخه څه راونه غواړي نو له ځان سره به ترې هم څه ونه ساتي که څه هم بهتره دا ده چې احتکار یې نه کړي ځکه عوامو ته پکې مشقت دی خو که فرضاً احتکار یې هم کړي شریعت ورته جواز ورکړی دی او دا ډول مذموم احتکار نه دی.

احتکار شوې توکې هله حرامیږي چې د نرخ د لوړوالي په مهال وپېرل شي او خلک ورته سخته اړتیا لري، که د خلکو لاس ته دا مهال احتکار شوې توکې ونه رسیږي نزدې ده چې په سخت مشقت کې ولویږي.

د احتکار لپاره وخت شرط دی ځکه په ځینو اثارو کې څلوېښت ورځې راغلي دي خو اثر ضعیف دی امام احمد په خپل مسند کې نقل کړی دی خو چې د یو شي په احتکار کې خلکو ته تکلیف او مشقت و نو ناروا دی که یوه ورځ وي او که څلوېښت ورځې وي وخت ورلره هېڅ شرط نه دی.

**له تېرې شننې پایځوړ دا دی چې:**

احتکار اقتصادي او اجتماعي سرغړونه ده، د الله پاک د رالیږلي منهج ضد کړه وړه دي، احتکار بېلابېل شکلونه او بلا ډېر اسلوبونه لري.

احتکار د اقواتو پورې هېڅ ځانګړی نه دی، بلکې هر مال او کار او کسب او د ګټې وټې اسباب، څمکې او کورونه، د نقل او حرکت اسباب لکه ګاړي موټرې، علمي مشورې او ګټورې طرحې چې مسلمان ورته اړتیا لري او د اړتیا په مهال ونیول شي احتکار کې راځي.

دولتي ارګانونه باید د احتکار رنځ ته متوجه وي ترڅو بډایان یې په رعیت لوبې ونه کړي او وینه یې ونه روي، دولت باید د احتکار له منځه وړلو لپاره د ولس د امن اطمینان او سوکالۍ لپاره ګرد اسباب په کار واچوي ترڅو احتکار فیصله کړي او له منځه یې یوسي.

احتکار که داخلي توکې او منتجات وي او که خارجي وي خو چې عوامو ته یې ذخیره او اکتناز تکلیف او په مشقت کې لویدل وي باید ډډه ورځخه وشي که څه هم په خارجي توکو کې نظر شته، داسې چې که څوک توکې له بهرني هیوادونو ځخه واخلي او بیا یې خپل کلي ښار ته راوړي او یا یې د خپلې ځمکې پېداوار وي او پلورلی یې نه وي نو د ځینو فقهاؤ له نظره ذخیره اندوزي یې ناروا نه ده.



## د احتکار او ذخیراندوزۍ ځینې روا صورتونه

❁ که سوداګر یا زمیندار په دې نیت ځینې شیان ذخیره کړي چې اوس یې قیمت ارزان دی او ترهغه به یې بازار ته نه وړاندې کوي چې قیمت یې پلانکي اندازې ته ورسیږي او مذکوره توکې په بازار کې په وافر انداز ترلاسه کېدی شي او بیا ذخیره شوي شیان د وخت په مناسب قیمت خلکو ته وړاندې کړي دا په احتکار محرم کې نه راځي.

❁ که کوم افراد د شخصي ضرورت په اساس کور کې خوراکي توکې ذخیر کړي چې په مستقبل کې د مهنګایۍ څخه خلاصون ومومي او سهولت کې وي نو په دې ذخیره اندوزۍ کې هم څه شرعي قباحت نشته، امام نووي رحمه الله یې په جواز قائل دی. (شرح مسلم مع نووي: ۴۳/۱۱).

❁ که بیدار سوداګر له خفیه ذرایعو له مخې معلومات تر لاسه کړي چې د هیودا په راروانه بودیجه کې به د پلانکیو توکو نرخ لوړیږي او له دا مهاله توکیو راونیسي او د اړتیا په مهال یې بازار ته وړاندې کړي ترڅو ډېر څه وګټي، د پلور دا نوعیت هم په احتکار محرم کې نه راځي.

**❁ په باطله توګه د خلکو شمتني خوړل حرام دي:**

په باطله توګه د خلکو شتمني خوړل جاهلي عادت او بد خوي دی، د جاهلیت په دور کې به د خلکو کمایي د بل چا پر مالیتونو او شتمنو بریدونه، چور چپاول، قماربازي، غصب، د ښځو او یتیمانانو حقوق خوړول و.

او معلومه خبره ده چې شمتني او مالیت د ژوند بنیاد دی، سوله او جګړه په شمتنۍ کیږي، پرمختګ او ترقي په شتمنۍ کیږي، له دې کبله خو اسلام غش او دوکه حرامه کړې ده ترڅو د پرمختګ مخه ونه نیول شي، او عن طیب نفس پرته یې د مسلمان شتمني د بل لپاره حرامه ګڼلې ده. (التفسیر الوسیط ۹۲/۱) د زحیلي لیکنه.

له دې کبله چې انسان له دنیادارۍ سره مینه لري او د خپلې شمتنې لګښت هم له ډېر تاکید او غور وروسته په مقدار کوي نو دا چې په مشقت کې واقع نه شي الله ترې مال هم نه غواړي، الله پاک فرمايي

﴿وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ أَمْوَٰلَكُمْ ٣٦ إِن يَسْـَٔلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ تَبْخَلُوا۟ وَيُخْرِجْ أَضْغَٰنَكُمْ﴾

[سورت محمد: ٣٦-٣٧]

ژباړه: او له تاسو نه به ستاسو مالونه ونه وغواړي * كه هغه له تاسو نه دغه (مال) وغواړي، پس تاسو به ښه کوشش وکړي (نو) تاسو به بخل وکړئ، او هغه (الله) به ستاسو پټې کينې راوباسي.

له دې کبله د حجة الوداع په مهال نبي کريم صلى الله عليه وسلم د مسلمان د مال حرمت د مسلمان د وينې د حرمت په څېر بللی دی، كه څه هم ترمنځ يې حرمت درجې لري خو عن طيب نفس د مسلمان مال هېڅکله د چا لپاره حلال نه دی او حديث په تاکيدي حرمت ډېر ښه دليل دی.

له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: [كل المسلم على المسلم حرام: دمه، وماله، وعرضه] (صحيح مسلم: ٢٥٦٤).

ژباړه: د هر مسلمان پر بل مسلمان باندې د هغه وينه، مال او شتمني او عزت حرام دی.

ډېرې حديثونه شته چې د انسان شتمني په ډېر تاکيد د بل لپاره حرامه بولي مګر دا چې څوک يې عن طيب نفس چا ته وبښي.

لنډه به يې ووايو چې د مسلمان شتمني په باطله توګه خوړل -كه د خوړو انداز او تر لاسه کول هر ډول وي- حرام او ناروا دي، د مزيد وضاحت لپاره يې دلته ځينې نمونې څکه قابل ذکر بولو چې انسان ترې ځان وساتي.

لومړی: د چور چپاول او بريدونو له مخې، دغلا او ډاکې له مخې، د ظلم او ستم، د چل او پراړ له مخې د مسلمان شتمني چا ته نه روا کيږي.

دوهم: د قماربازۍ، ناروا ګټنې، جوارګري -د ټولو ډولونو په شمول- دوکه بازي -كه هر ډول ولري- په ټولو سره د بل مسلمان ماليت چا ته نه حلاليږي.

دریم: د رشوت له لارې چې څومره مالیت څوک را اغونډوي د رحمت پر ځای د لعنت سبب ګرځي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: [لعنة الله على الراشي والمرتشي] (جامع الترمذي: ۱۳۳۷، سنن ابي داود: ۳۵۸۰، سنن ابن ماجه: ۲۳۱۳).

ژباړه: په رشوت ورکونکي او اخستونکي دواړو دې د الله لعنت وي.

څلورم: کوم مالونه چې ټولواک، ولسمشر له خلکو څخه په غیر مشروع توګه اخلي هم حرام دي، امام صنعاني يې څېړنه کړې او څلورو ډولو ته یې تقسیم کړې دی چې مشرانو ته او د چارو مسؤلینو ته تحفې او ډالۍ ورکول د رشوت نوعه ده.

پنځم: هغه مالدار او په کارکسب توانا چې زکات او صدقات اخلي، دا يې په حق کې ناروا دي او د غریب او نادار حقوق خیټې ته اچوي.

شپږم: ټول هغه مالیت حرام دی چې د سودي کاروبار له مخې راغونډ شوی وي، که مالیت هرڅومره ضخامت ولري خو چې اصل يې مردار او حرام وي ټوله کمايي يې ناروا ده.

اووم: د غصب له لارې چې څومره مالیت ترلاسه شوی وي خو چې ترڅو د جهل او جهالت له لارې نه وي نو حرام دي، خو که جهل يې په دلایلو او قناعت ورکول پورته شي او هغه يې نه مني بیا هم حرام دي.

اتم: هغه مالیت چې د پردو حقوقو هضمولو او پټولو په خاطر راغونډ شوی وي، یا د باطل په احقاقولو له مخې لاس ته راغلی وي، یا له هغو الاتو او لارو له مخې لاس ته راغلی وي چې د الله فرمانبرداری مخه نیسي حرام دی.

نهم: د خلکو ترمنځ له هغو پرېکړو څخه لاس ته راغلی مال چې حقدار ته پکې هغه حق نه ورکړل کیږي چې اسلام ورته ورکړی وي.

لسم: هغه مال چې د څښتن له زړه نه نه وي او څوک يې واخلي، دا هم د اسلامي شریعت په نصوصو کې دحرام په صفت مونږ ته پېژندل شوی دی.

یوولسم: د یتیمانانو شتمني، وقفي اموال او صدقات خوړل هم حرام دي.

دولسم: له پردو حقوقو څخه انکار، له ګواه پرته پردې امانتونه خوړل لکه: ودیعه، عاریه او داسې نور.

دیارلسم: دوکه او چا ته پرآړ ورکول، دتلبیس او د تدلیس ټول ډولونه چې د شمتنۍ کمایت پرې کېدی شي.

څوارلسم: مړو ته د ثواب لپاره قران لوستل او پر هغې اجرت اخستل، یا د پېریانو له ستونزو څخه دبچاو په خاطر دم او تعوّذ پیسۍ اخستل.

پنځلسم: هر هغه څه چې اسلامي شریعت یې د مال له څښتن څخه اخستل ناروا بولي حرام به وي، که څه هم پرې د اخستونکي او ورکونکي رضا وي لکه زناکاري، کاهن ته تلل او د معلوماتو په بدل کې ورته مالیت ورکول.

شپاړسم: د توان باوجود پور نه ادا کول، یا له مال څخه دومره زکات نه ورکول چې اسلام پرې واجب کړی وي، یا هغه چا ته نفقه نه ورکول چې اسلامي شریعت یې په ذمه نفقه اچولي وي.

اوولسم: په امانتونو کې خیانت کول هم چا ته مال نه حلالوي، او دا د عملي منافق لویه نښه ده.

اتلسم: د حرامو ویډیوګانو، ګانو بجانو، سینماګانو، له سکرټو او نشو تماشو، د ذات الارواح تصویرانو جوړولو او داسې په نورو محرماتو شتمني راټولول هم حرام دي.

نوولسم: پر هغه څه شمتني راټولول چې هیڅ ارزښت نه لري لکه شادوګان، خنزیران، مچان او په دې ډول داخل ټول بې ګټې شیان.

شلم: د فاسدو عقدونو بدل خوړل.

یویشتم: په عقد کې له تقابض پرته د یو عوض له تسلیم نه بغیر د خلکو مالونه خوړل، ځکه په مالي عقودو کې تقابض د صحت او حلالوالي لپاره شرط دی.

دوه ویشتم: د اسراف او فضول خرچۍ له مخې خپله شمتني خوړل که څه هم حلاله وي د ناروا صورت اختیار وي.

**د سپو خرڅول:**

دسپو خرڅول اسلام سخت حرام بللي دي که څه هم سپی هغه ډول وي چې ساتل یې روا وي، د سپو له خرڅولو څخه په اسلام کې په ګڼ شمېر حدیثونو کې شدیده

منعه راغلې ده، هېره دې نه وي چې نصوص د سپي هر ډول ته شمول لري، که ساتل يې روا او که ناروا وي، له جملې څخه ځينې حديثونه په لاندې ډول دي:

١ عن أَبِي جُحَيْفَةَ رضي الله عنه قَالَ: [نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ] (صحيح البخاري: ١٩٤٤).

ژباړه: نبي كريم صلى الله عليه وسلم د سپي له نرخ نه منعه کړې ده.

٢ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ رضي الله عَنْهُ [أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَمَهْرِ الْبَغِيِّ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ] (صحيح البخاري: ٢٠٨٣، صحيح مسلم ٢٩٣٠).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم د سپي له نرخ (خرڅولو) نه، د زناکارۍ له عوض نه، او کاهن له مالي عوض نه منعه کړې ده.

٣ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما قَالَ: (نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَإِنْ جَاءَ يَطْلُبُ ثَمَنَ الْكَلْبِ فَامْلأْ كَفَّهُ تُرَابًا] (سنن ابي داود: ٣٠٢١).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم د سپي له نرخ نه منعه کړې ده، که څوک راشي او د سپي نرخ يې غوښته نو لاسونه يې له خاورو ورډک کړه.

٤ عن أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قال: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [لا يَحِلُّ ثَمَنُ الْكَلْبِ، وَلا حُلْوَانُ الْكَاهِنِ، وَلا مَهْرُ الْبَغِيِّ] (سنن أبي داود: ٣٠٢٣).

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: د سپي نرخ هم حلال نه دی، د کاهن مالي عوض هم حلال نه دی، او د زناکارۍ عوض هم حلال نه دی.

### د پيشوګانو پلورل او پېرل:

که څه هم علماء د پيشو په پلور او پېر کې سره اختلاف لري خو ولې نصوص تاييدوي چې د پيشوګانو پلور او پېر حرام دی، په دې باب کې راغلي حديثونه هيڅ معارض نه لري.

١ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ: [سَأَلْتُ جَابِرًا عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ قَالَ: زَجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذَلِكَ] (صحيح مسلم (١٥٦٩).

ژباړه: زبیر وایي ما له جابر رضي الله عنه څخه د سپي او پیشو اړوند وپوښتل هغه وویل: نبي کریم صلی الله علیه یې پلور او پېر نه منعه کړې ده.

۲ عَنْ جَابِرٍ بن عبد الله رضي الله عنهما قَالَ: (نَهَى رَسُولُ الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ] (سنن أبي داود: ۳٤۷۹، جامع الترمذي: ۱۲۷۹).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د سپي او پیشو له پلور او پېر نه منعه کړې ده.

## د خنزیر پلور او پېر:

د خنزیر پلور او پېر پر کافر او مسلمان د اسلامي شریعت د نصوصو له مخې ناروا او حرام دي.

الله پاک فرمایي:

﴿قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطۡعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيۡتَةً أَوۡ دَمٗا مَّسۡفُوحًا أَوۡ لَحۡمَ خِنزِيرٖ فَإِنَّهُۥ رِجۡسٌ أَوۡ فِسۡقًا أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٖ وَلَا عَادٖ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ [سورت الأنعام: ۱٤٥]

ژباړه: ای نبي صلی الله علیه وسلم ورته ووایه چې ما ته په وحي شوي شریعت کې زه داسې څه نه مومم چې په خوړونکي حرام شوي وي مګر دا چې یا مرداره وي، یا بهَول شوي وینه وي او یا د خنزیر غوښه وي، نو دا پلیتي ده، یا هغه ډول فسق او فجور وي چې د غیر الله نوم پرې یاد شوی وي، خو که څوک ورته په سخته اړتیا کې ولویږي نو له بغاوت او تعدا پرته دې ترې ګټه واخلي په یقین سره چې ستا رب بښونکی او نهایت مهربان دی.

او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: [إن الله إذا حرَّم شيئاً حرَّم ثمنه] (سنن أبي داود: ۳٤۸۸).

ژباړه: الله پاک چې کله څه شی حرام کړي نو کمایي یې هم حراموي.

د جابر رضي الله عنه په روایت چې له نبي صلی الله علیه وسلم څخه یې د مکې فتحې په ورځ اورېدلي دي هغه ویل [إن الله ورسوله حرم بيع الخمر والميتة والخنزير والأصنام] (صحيح البخاري: ۱۲۱۲، صحيح مسلم: ۱۵۸۱).

ژباړه: الله پاک او د هغه رسول د شرابو، د مردارې، د خنزير او بوتانو پلورل حرام کړي دي.

### تمثال (بوتان):

د ذي روح شيانو شکلونه او بوتان جوړل اوتراشل په اسلامي شريعت کې جواز نه لري پاتې لا پلور اوپېر او د ځان لپاره کسب جوړول، که هغه د انسان شکل تراشل وي او که د مارغانو او درندګانو، اسلامي شريعت يې په اړه سخت وعيد د تصويرانو فنکار ته اوروڼی دی، او په دې شک نشته چې اسلام څه تحريم کړي وي کمايي پرې هم حرامه ده، په حرامو شيانو د ماليت ډېرولو اړوند لله الحمد تفصيلي خبرې اترې مخکې وکړې الله دې د خلکو په ګټې اوفايدې باندې تمامې کړي.

له علامه ابن باز رحمه الله څخه يې اړوند چا وپوښتل هغه ځواب ورکړ چې د مسلمان له شان سره نه ښايي چې پر بوتانو او تصويرانو اقتصادي وضعې ته وده ورکړي، ځکه د ذي ارواحو او په ځانګړي توګه د بوتانو جوړولو او تراشلو متعلق صحيحو حديثونو کې د تحريم ښکاره حکم راغلی دی، او په دې کې شک نشته، چې دغه شيان د پلور او پېر له مخې ترويجول او په دې سوداګري کول، له باطل پرستو سره مرسته کول دي.

نو چې يو ډول توکې حرامې وي بايد ده چې سوداګري کول خو پرې لازما حرامه وي، له دغې کمايۍ څخه مسلمان نه د خپل ژوند اړتياوې پوره کولی شي او نه ترې خوراک او پوښاک کولی شي، نه پرې ميلمه پالللی شي او نه پرې له چا سره مرسته کولی شي، معنا هيڅ ثواب ورته پرې د خير په کارونو کې نه ورکول کيږي، ځکه چې مال حرام دی او په حرامو باندې صدقه الله پاک نه قبلوي، مسلمان سره دا ښايي چې له دې ډول شغل او سوداګرۍ نه الله ته توبه تائب شي او د حلال رزق په لټه کې شي، الله ډېر بښونکی ذات دی، الله فرمايي:

﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا ثُمَّ ٱهۡتَدَىٰ﴾ [سورت طه: ۸۲]

ژباړه: او زه د هغه چا لپاره چې توبه وکړي او پر نېکو عملونو توجه او تمرکز ولري او د هدايت په لور رهی شي په حق يې ډېر بښونکی يم...

هېره دې نه وي كه تراشل شوى د انسان يا بل ذي روح تصوير داسې وي چې سره يې غوڅ شوى وي، يا نيم جوړ شوى وي، نو په ساتلو او پېر او پلور كې يې هغه مهال شرعي محذور نشته چې عامه منفعت ترې اخستل كيدى شي او يا د عبادت او تعظيم بله كومه معنا په كې نه وي پرته.

كوم تصوير چې سر نه لري په اباحت يې دليل د ابوهريره رضي الله عنه حديث دى چې امام ترمذي په خپل سنن كې په (۲۸۰۶) باندې روايت كړي دى چې نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: [أَتَانِي جِبْرِيلُ فَقَالَ: إِنِّي كُنْتُ أَتَيْتُكَ الْبَارِحَةَ فَلَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أَكُونَ دَخَلْتُ عَلَيْكَ الْبَيْتَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فِي بَابِ الْبَيْتِ تِمْثَالُ الرِّجَالِ، وَكَانَ فِي الْبَيْتِ قِرَامُ سِتْرٍ فِيهِ تَمَاثِيلُ، وَكَانَ فِي الْبَيْتِ كَلْبٌ، فَمُرْ بِرَأْسِ التِّمْثَالِ الَّذِي بِالْبَابِ فَلْيُقْطَعْ فَلْيُصَيَّرْ كَهَيْئَةِ الشَّجَرَةِ، وَمُرْ بِالسِّتْرِ فَلْيُقْطَعْ وَيُجْعَلْ مِنْهُ وِسَادَتَيْنِ مُنْتَبَذَتَيْنِ يُوطَآنِ، وَمُرْ بِالْكَلْبِ فَيُخْرَجْ، فَفَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ ذَلِكَ الْكَلْبُ جَرْوًا لِلْحَسَنِ أَوْ الْحُسَيْنِ تَحْتَ نَضَدٍ لَهُ فَأَمَرَ بِهِ فَأُخْرِجَ].

ژباړه: له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ما ته جبريل عليه السلام راغى او راته يې وويل: پرون شپه درته راغلم خو تا ته له درتلو نه دې منعه كړم چې پر دروازه باندې د بوتانو (تصويرانو) پرده وه، او په كور كې يوه بله پرده هم وه چې د بوتانو تصويران پرې ول، همدا راز په كور كې سپى هم و، نو د كور پر دروازه پاندې د پرتې پردې تصويرانو سر غوڅولو امر وكړه نو ونه به ترې جوړه شي او د پردې لپاره پرتې ټوټې د غوڅولو امر هم وكړه اودوه داسې فرشونه ترې جوړ كړه چې خپې به پرې كيښودلى شوې، او له كور څخه د سپي په ويستلو هم حكم وكړه، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هرڅه دغسې وكړل، او په كور كې سپي هم د حسن او حسين رضي الله عنهما و او د كټ لاندې به يې تړلى و، نو امر يې وكړ او وويستل شو.

د تېر په څېر امام نسائي په خپل سنن كې په (۵۳۶۵) نمبر باندې له ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت كوي [اسْتَأْذَنَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ادْخُلْ فَقَالَ كَيْفَ أَدْخُلُ وَفِي بَيْتِكَ سِتْرٌ فِيهِ تَصَاوِيرُ؟ فَإِمَّا أَنْ تُقْطَعَ رُءُوسُهَا أَوْ تُجْعَلَ بِسَاطًا يُوطَأُ فَإِنَّا مَعْشَرَ الْمَلَائِكَةِ لَا نَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ تَصَاوِيرُ].

ژباړه: جبريل عليه السلام له نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه اجازه وغوښته نو

هغه ورته د ننوتو اجازه وکړه، هغه ورته وویل: زه څنګه درننوځم او ستا د کور په پرده ده چې تصویران پرې دي؟ یا خو یې باید سرونه غوڅ شي او یا دې ترې فرش جوړ کړی شي چې خپې پرې کېښودل کیږي، مونږ ملائکان هغه کور ته نه ننوځو چې تصویران پکې وي.

د تېرې شننې له مخې جوته شوه چې ان تاریخي او لرغوني مجسمو باندې هم سوداګري ناروا ده، خو که سرونه ترې غوڅ شي نو د تېرو نصوصو په رڼا کې بیا د تصویر له جملې څخه نه شمېرل کیږي نو سوداګري هم روا ده.

د رب کائنات خزانې مالامال دي، پراخه ورکړه لري، بې سارى نفقه به خپل مخلوق باندې کوي، له خپلو پېروکارو سره یې د نیک او حلال پراخه رزق ژمنې کړې دي، الله پاک فرمایي

﴿وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝٢ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓ﴾ [سورت الطلاق: ٢-٣]

ژباړه: که څوک له الله څخه وډار شي نو له کړاونو څخه به ورله د خلاصون لاره وګرځوي، او له داسې پلوه به ورته رزق ورکړي چې د ده به ګومان هم نه وي، خو که څوک په الله پاک توکل وکړي نو هغه به ورله کافي او بس شي.

او الله پاک فرمایي:

﴿مَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَلَنُحۡيِيَنَّهُۥ حَيَوٰةٗ طَيِّبَةٗۖ وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَجۡرَهُم بِأَحۡسَنِ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ [سورت النحل: ٩٧]

ژباړه: کوم سړی یا ښځه چې نیک عملونه کوي نو مونږ به ورته نیک ژوند ورکړو، او د هغو نیکو او ښو علمونو په بدل کې چې دوی به کول ورته نیک اجر او ثواب هم ورکړو.

باید ده چې په عامه توګه نوم انسان او په ځانګړې توګه بیا مسلمان د رزق اوروزۍ اسباب په کار واچوي او پر الله بروسه ولري، او د رزق روزۍ لپاره ټول هغه اسباب په کار واچوي شریعت پرې د تعامل اجازه ورکړې وي او د همدوی لپاره یې مسخر کړې وي.

## د مردارې پلور او پېر:

مرداره ټولو هغه څه ته ویل کیږي چې سا ورڅخه وتلې وي، انسان وي او که حیوان، خو په حیوان کې بیا مردار هغه څه ته ویل کیږي چې په خپل مرګ مړی شوی وي او په هغه توګه نه وي ذبح شوی چې اسلامي شریعت یې لارښونې کړې وي.

د حیوان مردار بیا دوه ډولونه لري:

١ د بحر مرداره: لکه ماهی (کب) او داسې نور...

د بحر دا ډول مردارې خوړل او پلور دواړه روا دي، اړوند یې له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې یو چا ورڅخه د بحر د مردارې اړوند پوښتنه وکړه هغه ورته وویل: [هُوَ الطَّهُورُ مَاؤُهُ الحِلُّ مَيْتَتُهُ] (جامع الترمذي: ٦٩).

ژباړه: اوبه یې پاکې دي او مرداره یې روا ده.

٢ د وچې مرداره: لکه زینده سر، عام حیوانات او مارغان او داسې نور.

د دې ډول مردارو تناول، پلور او پېر، خوړل او څښل هر څه حرام دي، د وچې له مردارو څخه ملخان مستثنی دي چې خوراک او پلور او پېر یې روا دي.

٣ د انسان مرداره: مسلمان وي او که کافر خو د انسان مرداره خرڅول او پېرل یا خوړل د اسلامي دین احکامو په ټولګه کې ناروا دي، بدني غړي خرڅول یې هم حرام دي، ځکه چې انسان ټول د الله ملکیت دی او هغه په خپلو لاسونو (چې څنګه یې له شان سره ښائیږي) پیدا کړی دی او پر خپلو نورو مخلوقاتو یې ورته کرامت او شرافت ورکړی دی.

له دې کبله چې کله انسان ومري، نو مسلمان یې په قبر کې تدفین کیږي، او پر کافر یې خاورې اړول کیږي په دې خاطر چې جثه یې تکریما له خاورو لاندې شي.

الله پاک فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ كَرَّمۡنَا بَنِيٓ ءَادَمَ وَحَمَلۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ وَرَزَقۡنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ كَثِيرٖ مِّمَّنۡ خَلَقۡنَا تَفۡضِيلٗا﴾ [سورت الإسراء: ٧٠]

ژباړه: په یقین سره چې مونږ بنو ادمو (انسانانو) ته کرامت او شرافت ورکړی دی، په وچه او لونده کې مو سپاره کړل او له خوندورو خواړو څخه مو ورته خوراکونه ورکړي، او پر ډېرو مخلوقاتو مو ورته غوره والی هم ورکړی دی.

### د وینې خرڅول:

د وینې پلور او پېر هم اسلام شریعت ناروا بولي، ابوجحیفه رضي الله عنه فرمايي [رَأَيْتُ أَبِي اشْتَرَى حَجَّامًا، فَأَمَرَ بِمَحَاجِمِهِ، فَكُسِرَتْ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الدَّمِ] (صحيح البخاري: ٢٢٣٨).

ژباړه: ما مې پلار ولید چې یو حجام یې واخست، د هغه د حجام الاتو باندې یې امر وکړ نو مات کړی شول، د سبب باره کې یې ما پوښتنه وکړه نو هغه وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د وینې له نرخ قیمت نه منعه کړې ده.

امام ابن حجر عسقلاني رحمه الله وايي: دلته د مردارې او خنزیر د حرمت په د وینې حرمت ته هم اشاره ده، د وینې پلور اوپېر په اجماع سره حرام دی، موخه مې دا ده چې د وینې پلورل او پیسی پرې اخستل سرسخت حرام دي.

په (موسوعة الفقهية: ١٤٨/٩) کې وايي: د بهیدونکي (رواني) وینې خرڅول ناسم دي، ابن منذر او شوکاني رحمهما الله یې په تحریم د اجماع تصریح کړې ده.

### د اضافه اوبو خرڅول:

د اوبو پلورل له دوو حالتونو څخه نه وځي:

لومړی حالت: چې اوبه په عامو چینو، کوهیانو، نهرونو او رودونو کې وي او د هیڅ چا خصوصي ملکیت نه وي، نو دا ډول اوبه خرڅول له دینې نګاه نه حرام دي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی: [الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ: فِي الْكَلَإِ وَالْمَاءِ وَالنَّارِ] (سنن ابن ماجه: ٢٤٧٢، سنن ابي داود: ٣٤٧٧).

ژباړه: مسلمانان په دریو شیانو کې شریک دي: ګیا (واښه) او اوبه او اور.

دلته ورڅخه د هغو اوبو پلورلو حرمت مراد دی چې د چا په زیار نه وي تر لاسه شوې، لکه کوهیان، له عامو سیندو او نهرونو نه راجلا کړي رودونه، لښتي او ویالې، یا په کوزه او لوټه کې پرتې اوبه، د داسې اوبو خرڅولو ته حرمت متوجه نه دی.

دوهم حالت: چې د ځانګړي چا ملکیت وي، په خپل زیار یې ترلاسه کړي وي، مالکي لګښت یې پرې کړی وي، اسلام د دا ډول اوبو د پلور او پېر د جواز حکم ورکړی دی.

علامه عثیمین رحمه الله یې اړوند واي: که څوک اوبه راوباسي او په څه (لوښي)

کې يې واچوي نو دا د ده ملکيت دی کولی شي چې خرڅې يې کړي. (الشرح الممتع: ٨/١٤٠).

### د ټنګ ټکور توکې يا د ګانو بجانو کيستې، سي ډي او داسې وغيره پلورل:

له قران او نبوي حديث څخه ډېرى داسې دليلونه شته چې ګانې بجانې او اړوند ګرد الات شديد حرام دي، هم يې اورېدل او هم يې پلور پېر.

### د ټنګ ټکور د حرمت دليلونه:

ټنګ ټکور د انسان د ضلالت تر هرڅه لوی سبب دی، ټنګ ټکور انساني عقل په دومره اسانۍ تخريبوي چې دوهم نه لري، عقل له نوښتونو او ابتکار څخه تعطيلوي، د ارزښت وداني ماڼۍ يې ويجاړوي او انسانيت يې نړوي، د انساني عقل او نفس د کرامت له کبله اسلامي شريعت ګانې بجانې هم په سختو الفاظو حرامې کړې دي، دلته يې تاسو ته د ځينو تحريمي دليلونو نمونې ړدو:

١ الله پاک فرمايي:

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡتَرِي لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾ [سورت لقمان: ٦]

ژباړه: په خلکو کې ځينې داسې دي چې له خير څخه اړونکي خبرې په نرخ اخلي، په دې خاطر چې د الله له لارې څخه بې لارې شي.

د نبوي امت ستر عالم او لوی دين پوهه او پر تفسير دانا هستي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي: په ايت کې له (لهو الحديث) مراد ګانې بجانې دي.

امام مجاهد رحمه الله وايي: له (لهو الحديث) نه مراد د ټنګ ټکور الات دي.

علامه سعدي رحمه الله وايي: په (لهو الحديث) ټولو حرامو خبرو ته شمول لري، هر لغو او باطل پکې شامل دی، په کفر او عصيان کې ټول ترغيبي کردار او ګفتار په کې شمول لري، (لهو الحديث) کې د حق په ترديد او د باطل د احقاقولو اقوال هم شامل دي، په دې کې غيبت، نميمت، دروغ، سپورې ستغې، او د شيطان اوازونه (ګانې بجانې) هم شاملې دي.

ابن القيم رحمه الله وايي: د (لهو الحديث) د شرح او توضيح لپاره د صحابه کرامو رضي الله عنهم اقوال بسنه کوي چې ګانې بجانې ورڅخه مراد دي.

۲ همدا راز الله پاک فرمایي

﴿ وَٱسْتَفْزِزْ مَنِ ٱسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ ﴾ [سورت الاسراء: ٦٤]

ژباړه: چې پر چا دې توان وي نو په خپل اواز دې هغوی سپک سپاند کړه.

مجاهد رحمه الله وايي: په خپل اواز دې هغه شوک راښکته کړه چې توان دې پرې بر وي، او اواز يې سندرې او ګانې بجانې دي.

۳ الله پاک فرمایي:

﴿أَفَمِنْ هَٰذَا ٱلْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمْ سَٰمِدُونَ﴾ [سورت نجم: ٥٩ – ٦١]

ژباړه: ایا تاسو له دې خبرو (قران کریم) نه په تعجب کې یاست؟، برقا خنداګانې کوئ او نه ژاړئ؟ او ترې غافله يئ)

عکرمه رحمه الله له ابن عباس څخه روایت کوي چې له (سمود) ګانې بجانې مراد دي.

د تېر په څېر يې پر حرمت نبوي حدیثونه هم په پوره تصریح غږېدلي دي، امام بخاري په خپلو تعلیقاتو کې روایت کړي دي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي: [لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ، يَسْتَحِلُّونَ الحِرَ وَالحَرِيرَ، وَالخَمْرَ وَالمَعَازِفَ] (صحيح البخاري: ٥٥٩٠)

ژباړه: زما په امت کې به داسې خلک راپیدا شي چې فرجونه (زنا) او ورېښم، شراب او ټنګ ټکور به روا او حلال ګڼي.

همدارنګه د ټنګ ټکور په حرمت باندې بلا ډېر حدیثونه د سهل بن سعد، عمران بن حصين، عبدالله بن عمر، عبد الله بن عباس، أبو هريرة، أبو أمامة الباهلي، عائشة أم المؤمنين، علي بن أبي طالب، أنس بن مالك، عبد الرحمن بن سابط، غازي بن ربيعة رضي الله عنهم اجمعين په روایتونه په داسې حالت کې راغلي دي چې بیخي تصریح يې پرې کړې ده.

IslamHouse.com

www.IslamHouse.com IslamHouse.com IslamHouseEn IslamHouseEn

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧

ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH

P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# پېر او پلور، احکام او مسایل، د مستندو دلیلونو په رڼا کې

د کتاب په اړه: انسان سوداګریزو چارو ته شدیده اړتیا لري، د ځینو خلکو د ګمان له مخې اسلام نه یواځې د لمونځ او حج... دین دی، بلکې اسلام دعباداتو ترڅنګ د سلوک دین هم دی، د عقودو او روابطو دین دی، اسلام داسې دین دی چې د انسان د ژوند ګردو چارو ته شمولیت لري ان چې پلور پېر هم هله عبادت ګرځولی دی چې د انسان نیت پکې له حرامو څخه ځان ژغورنه وي، که اسلام د عبادت احکام بشپړ بیان کړي دي نو د عقودو احکام یې هم تفصیلي څېړلي دي او په ناروا توګه یې د خلکو شتمني خوړل حرام کړي دي، اسلام د پلور او پېر لپاره دومره ارزښتناک ضوابط ایښي دي چې هر څوک ورته اړتیا لري، له دې کبله خو به عمر رضي الله عنه د خپل واک په دور کې په بازار کې ګرځېده او ویل به یې: زمونږ په بازار کې دې هغه څوک څه نه خرڅوي چې دیني علم نه لري، د الله په مجید دین باندې د زمونږ د باور پر بنسټ په دې کتاب کې مونږ د پلور او پېر احکام په سمه توګه بیان کړي دي، روا او ناروا، جایز او ناجایز ته مو تفصیلي کتنه کړې ده، دا ټول په دې خاطر چې مسلمان په بیع او شراء کې ټول احکام په دلایلو وپېژني ترڅو د خپل دین په حرامو کې ونه لوېږي.




IslamHouse.com
مرکز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com
Rabwah